پښتو شوي له اصلي عبراني ژبي نه په قلم د غلام جلاني لکلي

נביאים

كلام الله

نبوت

نبيان كشران

په طبع برټش او فارن
بيبل سوسيټي لندن او پېښور

LIBRARY OF THE
Massachusetts
Bible Society

Catalog No A·131·2/MP-1895
Family INDOËUROPEAN
Sub-Family INDOIRANIAN
Branch IRANIAN
Group NONPERSIC
Language PASHTŌ
Dialect
Locality Afghānistan

Contents The 12 MINOR PROPHETS
Version 1st edition
Translator T. J. L. Mayer & al.
Published by BFBS
Place LONDON
Date 1895
Accession No. 3429
Accession Date Mar 15, 1952
Price xpa

MASSACHUSETTS BIBLE SOCIETY
HOLY BIBLE
FOUNDED 1809

پښتو ژبي له اصلي عبراني ژبي نه په قلم د غلام جلاني لیکلي

נביאים

کلام الله

نبوت

نبیان کشران

په مطبع برتش اند فارن
بیبل سوسیټي لندن او پیښور

MINOR PROPHETS, IN PASHTU.

BRITISH AND FOREIGN BIBLE SOCIETY,
LONDON
1895.

دَ هوشع نبي کتاب

اول باب

۱ ۱ هغه کلام دَ خداوند چه دَ بیري زوي هوشع ته دَ یهوداه دَ
بادشاهانو عزیاه او یوتام او آخز او حزقیاه په ورځو کښ او دَ
اسرائیل دَ بادشاه یربعام زوي دَ یوآش په ورځو کښ و رسیده
۲ ۲ دَ خداوند دَ کلام شروع چه دَ هوشع په وسیلي راغي خداوند هوشع
ته و فرمایل چه لاړ شه یوه زناکاره ښځه او دَ زنا زیږیدلي دَ خپل
ځان دَپارَ واخله ځکه چه مُلک خداوند پریښود لویه زنا ئي کړي دَه -
۳ ۳ نو دي لاړ شه او دَ بلائم لور جومره ئي واخسته او حامله شوه او
۴ زوي ئي و زیږاوه ۴ او خداوند ور ته وویل چه دَ دغه نوم یزراعیل کیږدٔ
دي دَپارَ چه لږ مُده پاتي ده او زه به دَ یاهو له ټبر نه دَ یزراعیل
دَ خون بدل واخلم او دَ اسرائیل دَ ټبر بادشاهت به تمام کړم -
۵ ۵ او هغه ورځ به داسي وشي چه زه به دَ یزراعیل په خوري کښ
۶ دَ اسرائیل لینده ماته کړم ۶ او هغه بیا بارداره شوه او یوه لور
ئي وزیږاوله او ور ته و ئي فرمایل چه دَ هغي نوم لورحامه کیږده ځکه
چه زه به دَ اسرائیل په ټبر بیا رحم و نه کړم چه په معافي معاف
۷ ئي کړم ۷ لیکن دَ یهوداه په کورمه به رحم وکړم او هغوي ته به دَ
خداوند دَ هغو دَ الله په وسیلي خلاصون ورکړم او دَ لیندو او دَ
تورو او دَ جنګ او دَ آسونو او دَ سوارو په زورَ به خلاصون ور نه
۸ کړم ۸ او چه لورحامه ئي له تِي پرکړه نو هغه بیا بارداره شوه او یو
۹ زوی ئي وزیږاوه ۹ او ده ور ته و فرمایل چه دَ دغه نوم لوعَمي کیږده
ځکه چه تاسو ځما خلق نه يِئ او زه به ستاسو نه شم
۱۰ ۱۰ نو هم بني اسرائیل به په شمار کښ دَ دریاب دَ شګو په شان

وِي چه نه پېوندلي شِي او نه ګنړلي شِي او داسي به پېښ شِي چه
هغه ځاي چه هلته دوي ته وِيلي شوِي وُه چه تاسي څما خلق نه يئِ
دَ دغه په عوض کښ به هغه ته ووِيل شِي چه تاسي دَ ژوندِي الله
۱۱ زامن يئِ ۱۱ او بني يهوداه او بني اسرائيل به سره ګډ شِي او دَ خپل
ځان دَ پاره به يو سردار مقرّر کړِي او له هغي زمکي به را وخيژِي چه
دَ يزراعيل ورځ به لويه وِي *

دويم باب

۱ آ خپلو ورڼرو ته عمّي وايي او خپلو خويندو ته رُحامه
۲ ۲ تاسي له خپلي مور سره بحث وکړِئ ځکه چه هغه څما
ارتينه نه ده او زه دَ هغي ميړه نه يم دي دَ پاره چه دا دِ خپل حرام
کارونه دَ خپلو سترګو له مخي لري کړي او خپلي زناوي دِ دَ خپلو تيو
۳ له منځ نه ۳ هسي نه وِي چه زه هغه برېنده کړم او داسي ئي
ودروم لکه چه دا دَ خپلو پيدا کيدلو په ورځ کښ وَه او هغه به دَ
بيابان په دود کړم او دَ وچي زمکي په شان به ئي کړم او په تندِه به
۴ ئي ووژنم ۴ او دَ هغه په اولاد به رحم و نه کړم ځکه چه دوي
۵ حرام زاده دِي ۵ ځکه چه دَ دوي مور کنجني توب کړي دَي ځکه چه
کيدي کښ ئي ونيول دَ رسوائي کار ئي کړي دَي ځکه چه دي وِيلي دِي
چه زه به په خپلو مينو پسي چه ما ته څما ډوډِئ او څما اوبه او څما
۶ ورئ او څما سڼ او څما تيل او څما څښاک راکوِي لاړه شم ۶ کوره
په دي سبب به زه ستا لار په اغزيو بنده کړم او ديوال به هم
۷ پورته کړم چه هغه خپله لار نه مومي ۷ او دَ خپلو مينو په وروستو
پسي به لاړه شِي ليکن دَ هغو په برابر به نه ور و رسيږِي او هغوي
به ولټوِي ليکن نه به ئي مومي نو دا به ووايي چه زه به خپل ورنبي
ميړه ته بيرته ورشم ځکه چه څما هغه حال له دي اوسني به ښه
۸ وُه ۸ ځکه چه دا نه وپوهيده چه هم ما دي ته غلّه او نوِي شراب او

تیل ورکړل او دَ هغې سره او سپین زر چه په هغو دوي دَ بعل
بتان جوړ کړي دِي زیات مِ کړل ۹ دي دپارَ به زه بیا وګرزم او خپله ۹
غلّه به دَ هغې دَ فصل په وقت او خپل شراب به دَ هغو په موسم
کښې ورنه واخلم او خپلي وړئ او سڼ چه ما ورکړل چه په دغو خپل
برمنډوالي پټ کړي بیرته واخلم ۱۰ او اوس دَ دي شرمګاه به دَ دي دَ ۱۰
مینو دَ وړاندِ فاشه کړم او هیڅوک به یٔ څما له لاس نه خلاصه نه
کړي ۱۱ او د دي ټولي خوښئ او عیدونه او نوي میاشتي او سبّتونه او ۱۱
ټول مقرّر مجلسونه به موقوف کړم ۱۲ او زه به دَ انګورو او دَ انځیرو ۱۲
هغه ونې چه دَې به ویل چه دا څما خرڅي دِي چه څما مینو ما ته
بخښلي دِي بربادِي کړم او ځنګل به ور نه جوړ کړم او دَ ځنګل ځناور
به یٔ خوري ۱۳ او زه به دَ بعلیم دَ ورځو بدله چه په هغو کښې به ۱۳
دَي دَ هغو دپارَ لبان سیځل او ځان به یٔ په نتو او په جواهرو
ښایسته کاوه په خپلو مینو پسي به لاړه او زه به یٔ هیر کړم ورنه واخلم
خداوند فرمایي ۱۴ لیکن ګوره زه به یٔ دلاسا کړم او بیابان ته به یٔ ۱۴
بوزم نو هم دَ هغې دَ زړه دَ تسلّي خبري به ور ته وکړم ۱۵ او له هغه ۱۵
ځاي نه به دَ دي تاکستان دي ته ورکړم او دَ عکور خوړه هم دي
دپارَ چه دَ امید دروازه وِي او دا به هلته کښې سندري وایي لکه
چه دَ ځوانۍ په ورځو کښې ۱۶ او دَ هغې ورځي په شان چه په هغې کښې ۱۶
له مصرَ را وختله او هغه ورځ به داسي وشي خداوند فرمایي چه
ته به ما ته ایشيَ وایي او بیا به بعلي نه را ته وایي ۱۷ څکه چه دَ ۱۷
بعلیم نومونه به یٔ له خولي وباسم او دوي به هیڅري دَ هغو په نومونو
یاد نه شي ۱۸ او زه به هغه ورځ دَ دوي دپارَ دَ صحرا له وحشیانو ۱۸
او دَ هوا له مرغانو او لـــــه ځځیدنکیو دَ زمکي سره یوه وعده
وکړم او لیندي او توري او جنګونه به له هغې زمکي مات کړم او زه
به دوي په قراري سره څملوم ۱۹ او تا به تر ابدَ پوري خپله کوژدنه کړم ۱۹

هو تا به په صداقت او په عدالت او په مهرباني او په رحمت سره
٢٠ خپله کوزدنه کړم ٢٠ زه به دِ په امانتدارِي سره کوزدنه خپله کړم
٢١ او ته به خداوند وپيژني ٢١ او هغه ورځ به داسې وشي چه زه به
ځواب وکړم خداوند فرمايي زه به آسمان ته ځواب ورکړم او هغه
به دَ زمکې ته ځواب ورکړي او زمکه به غلّې ته او نوِيو شرابو ته او
٢٣ تيلو ته ځواب ورکړي او دغه به يزراعيل ته ځواب وکړي ٢٣ او زه
به هغه په هغې زمکې کښ دَ خپل ځان دَپارَ وکرم او په لورُحامه به رحم
وکړم او لوعمي ته به ووايم چه ته ځما امّت يې او دي به وايي اي ځما الله ٭

دريم باب

١ آ خداوند راته وفرمايل چه بيا لاړ شه او له يوې ښځې سره چه دَ
خپل دوست محبّتې دَه ليکن زناکاره ده يارانه وکړه لکه چه خداوند
له بنِي‌اسرائيل سره چه په غيرو معبودانو نظر کوي او دَ مويزانو ټکيُ
٢ غواړي محبّت لرِي ٢ نو ما هغه په پنځلس روپئِ او په يونيم خومر
٣ اوربشو دَ ځان دَپارَ وپروده ٣ او ور ته مې وِ‌وِيل چه ته به ځما دَپارَ تر
ډيرو ورځو پورې کښيني ته به دَ زنا کار و نه کړې نه به دَ کوم سړِي
شې او زه به هم ستا دپارَ داسې يم
٤ ٤ ځکه چه بنِي‌اسرائيل به تر ډيرو ورځو پورې بې له بادشاه
او بې له شاهزاده او بې له قربانۍ او بې له ستنې او بې له افوده
٥ او بې له ترافيم وِي ٥ او پس له هغه به بنِي‌اسرائيل وګرزي او
خداوند الله خپل او خپل بادشاه داؤد لوه به ولټوي او په آخرو ورځو
کښ به خداوند ته او دَده وخير ته ويره وکړي ٭

څلورم باب

١ آ اي بنِي‌اسرائيلَ دَ خداوند کلام واوريُ ځکه چه دَدې زمکې دَ
اوسيدونکيو سره دَ خداوند مقدّمه ده ځکه چه په ملک کښ نه
٢ رښتيني نه شفقت نه دَ الله پيژندګلوي شته ٢ بغير له لعنتَ او دروغ

وېلو او خوني او غلا او حرامکارۍ نه نور هېڅ نشته دوی څوی او په
خون باندې خون کېږي ۳ دې دپاره به زمکه وير وکړي او هر يو چه په ۳
هغې کښې اوسي او د صحرا ځاروي او د هوا پرندګان ټول به سره
ناتوان شي بلکه د درياب کبان به هم ويستلي شي ۴ په دې دې هم ۴
هېڅوک بحث نه کوي او نه دې به څوک تهمت لګوي ځکه چه ستا خلق
د هغو په شان دي چه له کاهنانو سره مقدمه کوي ۵ دې دپاره به ۵
ته په ورځې کښې وېرزي او له تاسره به نبي هم په شپې کښې وېرزي
او زه به ستا مور خرابه کړم ۶ زما خلق د نامعرفت له سببه هلاک ۶
شوي دي دې دپاره چه تا له معرفت نفرت کړی دی زه به هم له تا
نه نفرت وکړم چه ته به زما د وړاندې کاهن نه شې او دې دپاره
چه تا د خپل الله تورېت هېر کړی دی زه به هم ستا اولاد هېر
کړم هو زه ۷ لکه چه هغوی ډېر شول هم هسې هغوی زما خطا وکړه ۷
دې دپاره به د هغو دبدبه په رسوائۍ بدله کړم ۸ هغوی زما د خلقو ۸
د خطا خوري او د هغو په بدکارۍ خپل ځان لګوي ۹ نو لکه چه د ۹
خلقو حال دی هسې به د کاهنانو حال وي زه به د دوی د لارې
سزا وله ورکړم او د هغو د کارونو بدله به ورنه واخلم ۱۰ هغوی ۱۰
به وخوري ليکن اسوده به نه شي هغوی به زنا وکړي مګر زيات به
نه شي ځکه چه دوی د خداوند پروا پرېښودله ۱۱ حرامکاري او شراب ۱۱
او نوې شراب زړه وړي ۱۲ زما خلق د خپل لرګي له بت نه سوال کوي ۱۲
د هغو لکړه هغوی له ځواب کوي ځکه چه د حرامکارۍ روح ګمراهان
کړي دي او د خپل الله تر لاندې ئې حرامکاري کړې ده ۱۳ د غرونو په ۱۳
څوکو باندې قربانۍ تېروي او په غونډيو لبان سېځي او د بلوط او د
سپيدار او د شاه بلوط (تر ونې) د لاندې هم ځکه چه د هغو سيورې
ښائسته دی دې دپاره ستاسې لونړې کنجنۍ والي کوي او ستاسې
نږندې زنا کوي ۱۴ او چه ستاسې لونړه کنجنۍ والي وکړي او ستاسې ۱۴

نږندي زنا وکړي نو زه به دوي ته سزا ور نه کړم ځکه چه دوي ځنيله
هم له کنچنيو سره په ډډه ځي او له کسبيانو سره قرباني کذاري دي
١٥ دَپارَ دا خلق چه نادان دِي برباد به شِي ١٥ اي اسرائيلَ هرڅو چه
نه کنچني بازي وکړي نو هم هسي دِ نه وِي چه يهوداه هم کناهکار
شِي تاسي په جلجال کښ مه راځئِ او بيتِ آون ته مه پورته کيږئِ او
١٦ قسم مه خورئِ لکه چه خداوند ژوندي دَي ١٦ ځکه چه اسرائيل وسوريده
لکه سورانه سخوندره اوس به خداوند دوي په ارت ځاي کښ دَ
١٧ کډوريو په دود وڅروِي ١٧ افرائيم له بتانو سره پيوسته شه هغه
١٨ پريږده ١٨ دَ دوي غوره شراب تارخه دِي نو دوي ډير ځله زنا کوِي دَ
١٩ هغه سردار مخ توري خوښوِي ١٩ باد هغه لره په خپلو وزرو کښ نيولي
دَي او هغوي به له خپلو قربانيو شرمنده شِي *

پنځم باب

١ ١ اي کاهنانو دا خبره واورئِ او اي دَ اسرائيل ټبرَ غوږونه کيږدئِ
او اي دَ بادشاه کورمي واورئِ ځکه چه فتوىٰ په تاسي باندِ دَه دي
دَپارَ چه تاسي په مصفاه باندِ يو دام شوئِ او هم يو لومه چه
٢ په تابور باندِ غوړولي دَه ٢ هغوي مردودان وژلو ته لاندِ تللي دِي
٣ ليکن زه به هغوي ټولو ته تنبيه ورکړم ٣ زه هم افرائيم پيژنم او
اسرائيل هم رانه پټ نه دَي ځکه چه ته اي افرائيمَ دَ زنا کار کوِي
٤ او اسرائيل آلوده دَي ٤ دَ دوي کارونه دوي لره دَ الله په لوري کرزيدل
نه ورکوِي ځکه دَ زناکارِي روح په دوي کښ دننه دَي او دَ خداوند
٥ پوهه نه لرِي ٥ او دَ اسرائيل کبرجني دده په مخ کواهِي لِي او اسرائيل
او افرائيم به په خپلو بديو کښ وپرزي او يهوداه به هم دَ دوي
٦ سره وپرزِي ٦ دوي به له کلو او له رمو سره دَ خداوند په لټولو
سر شِي مکر نه به ئِي مومِي ځکه چه ده خپل ځان ور نه جدا کړ
٧ ٧ دوي دَ خداوند سره ټګي وکړه دي دَپارَ چه حرام زامن ور نه

پیدا شول اوس به یوي میاشتي هغوي دَ هغو دَ کروندو سره وخوري
۸ په جبعه کښې قرنا ووهه او په رامه کښې تورئ پـه ۸
بیت آون کښې چیغي وکړئ چه اي بنیمین هغه په تا پسي کیږي -
دَ تنبیه په ورځ به افرائیم ویران شِي دَ اسرائیل دَ فرقو په منځ ۹
کښې هر هغه څه چه په یقین سره به وشِي ما ظاهر کړي دي -
۱۰ دَ یهوداه سردار دَ هغو په شان شه چه سرحد نړوي زه به په ۱۰
هغوي باندِ خپل قهر لکه اوبه توي کړم ۱۱ افرائیم مظلوم کیږي او ۱۱
له انصاف نه اوړه اوړه شه چه ده شروع وکړه چه په بطالۍ پسي
وګرزیدي ۱۲ نو به زه دَ افرائیم دَپارَ دَ پتنګ په دود شم او دَ یهوداه ۱۲
دَ نهرِ دَپارَ دَ لرګي وروستوالي په شان شم ۱۳ او افرائیم خپله ناجوړتیا ۱۳
ولیده او یهوداه خپل پرهار نو افرائیم اسور ته تلي وه او هغه
یاریب بادشاه ته ئې استولي وُه لیکن هغه تا له صحت درکولي نه
شِي او ستا پرهار جوړولي نه شِي ۱۴ زه به دَ افرائیم دَپارَ دَ ببر زمري ۱۴
په شان او دَ یهوداه دَپارَ دَ ځوان زمري په دود شم زه هو زه به
ئې څیري کړم او لاړ به شم زه به ئې ونیسم او هیڅوک به ئې خلاص
نه کړي ۱۵ زه به روان شم زه به خپل مکان ته بیرته لاړ شم ترهغه ۱۵
پوري چه دوي پخپلي ملامتیا قائیل شِي او دوي څما مخ و لټوِي
دوي به پخپل غم کښې وقتي طلبګار وِي ❊

شپږم باب

۱ راځئ چه موږ دَ خداوند په لوري وګرزُو څکه چه ده هغه دَي چه ۱
موږ ئې څیرلِي یُو او هم دَي به شفا راکاندِ ده زخملِي یُو او هم دَي به
مو (پرهارونه) وتړِي ۲ دي به پس له دوو ورځو تازه ژوند را وبخښي ۲
دریمه ورځ به مو پورته کړي او موږ به دَده په حضور کښې ژوندِي
اوسُو ۳ نو به موږ پوه شو هو خداوند دِ وپیژنو موږ دِ پیروي ۳
وکړو دَ صباح په شان دَده وتل مقرّر دِي او دَ باران په څیر به څمونږ

دپاڼ دده راتله وي دَ وروستني باران غوندِ چه زمکه لونده کوِي
٤ ٤ اي افرائيم زه له تا سره څه وکړم اي يهوداه زه له تا سره
څه وکړم ځکه چه ستا نيکي دَ صباح دَ اوريځي په شان ده او دَ هغه
٥ شبنم په شان چه صبا وقتي دروِمي ٥ دي دپاڼ ما هغوي دَ نبيانو په
وسيلي توږلي دي او دَ خپلي ژبي په کلام مِ وژلي دِي ستا فتواوي چه
٦ راغلي دَ بريښنا په دود لاړي ٦ ځکه چه زه رحم غواړم او نه قرباني
او پيژاندل دَ الله زه په نسبت دَ سيځونکيو قربانو زياته طلب کوم -
٧ ٧ مګر دوي دَ آدم په څېر دِي چه وعدي ئي ماته کړي دَه هغوي
٨ هلته کښ له ما سره ټګي کړي دَه ٨ جلعاد چه دَي دَ بدانو ښهر دَي
٩ پايمال شوي په وينو ٩ لکه چه دَ شوکونکيو ټولي وچا سرِي ته په
پټولِي کښ کښيني هم هسي د کاهنانو ټولي دَ سکم په لاري کښ قتل
١٠ کوِي هو هغوي زبون کار کړي دَي ١٠ ما يو هيبتناک څيز دَ اسرائيل په
ټبر کښ ليدلي دَي هلته کښ دَ افرائيم زناکارِي ده او اسرائيل
١١ آلوده شه ١١ اي يهوداه ستا دَ لو کولو وقت هم مقرر شه هغه وقت
چه زه دَ خپلو خلقو بنديوانِي بيرته راوګرزوم *

اوم باب

١ ١ هرکله چه زه دَ اسرائيل په جوړولو کښ وم نو دَ افرائيم بدکارِي
او دَ سمروڼ شرارتونه ښکاره شول ځکه چه دوي دروغ کوِي غله
٢ ننوزِي او دَ لوټيريو ټولي باهر لوټ کوِي ٢ او په خپلو زړونو کښ فکر نه کوِي
چه دَ دوي ټول شرارتونه ځما په ياد دِي اوس دَ دوي عملونو دوي لوړ
٣ په لور ګير کړِي دِي هغه ځما دَ مخ دَ وړاندِ دِي ٣ دوي بادشاه په خپلي
٤ بدکارِي او اميرانو له په خپلي دروغ ګوئي خوشحالوِي ٤ دوي ټول واره
زانيان دِي او دَ هغه تناره په شان دِي چه نانبائِي ئي تود کړِي او تر
هغه دوري اغښلو او دَ اور له بليدلو نه وزګار شِي څو چه خميره
٥ پوره نه شِي ٥ ځموږ دَ بادشاه په وقت کښ اميرانو دَ شرابو له ګرمي نه

په رنځ گرفتار کړ هغه دَ ټوقيانو په ملگري کښ خپل لاسونه اوږدوي
٦ ۶ هغوي په پټوني کښ غلي شوِي خپل زړونه يُ دَ تناره په دود
جوړ کړِي دِي دَ هغو نانباي ټوله شپه خوب کوِي هغه دَ صباح په
٧ وقت دَ لنبي وال اور په دود بليږِي ۷ هغوي ټول واړه دَ تناره په
شان گرميږِي او خپل قاضيان يُ خوړلي دِي دَ هغو ټول بادشاهان
٨ پراته دِي دَ هغو په منځ کښ هيڅوک نشته چه ما وبولِي ۸ افرائيم
له غيرِ قومونو سره گډ شوي دي افرائيم يوکاک دَي چه اړولي
٩ شوي نه دَي ۹ بيگانهوُ دَ هغه قوّت ولغرد او دَي پرِ خبر نه دَي
او په ده باندِ سپين ويښتهٔ هم توي شول ليکن دَي ورنه خبر
١٠ نه دَي ۱۰ او دَ اسرائيل مغروري دده په مخ کښ شاهدِي لِي په
دي هم دوي دَ خداوند خپل الله په لورِي نه گرزِي او سره له
١١ دغه ټوله حالَ يُ نه لټوِي ۱۱ افرائيم دَ هغه کوتر په دود دَي چه
١٢ ناپوهه وِي مصر ته ناري وهِي اسور ته درومِي ۱۲ په هري لاري چه
دوي لاړ شِي زه به په هغوي باندِ خپل جال وغوړوم هغوي به
دَ هوا دَ مرغانو په شان لاندِ را وغورزوم او تنبيه به ورکړم لکه
١٣ چه دَ هغو دَ جماعت په منځ کښ دا آوريده کيږِي ۱۳ هَي هَي په هغو
څکه چه څما له لورِي وتښتيدل هلاکت په هغو دَي چه له ما نه
ياغيان شول هرکله چه زه دَدوي په خلاصونکي وم نو دوي څما په حق
١٤ کښ دروغ ويلي دِي ۱۴ بلکه دوي پخپلو کټونو باندِ ناري وهلي ليکن
ما ته يُ په زړه سره ناري کړِي نه دِي دوي خو دَ غلي او دَ شرابو
١٥ دَپارَ سره ټوليږِي مگر له ما نه ياغيان دِي ۱۵ سره له دي چه ما
هغوي ته تعليم ورکړ او وزرو ته مِ زور وباخښه نو هم دوي ما ته
بدي انديښني کوِي دوي گرزِي ليکن دَ تعالیٰ په لورِي نه: دوي دَ کږِي
ليندي په دود دِي دَ هغو اميران به دَخپلو ژبو دَ گستاخِي په سبب په
توري پريوزِي له دي نه به دوي دَ مصر په زمکه کښ مسخره شِي +

اتم باب

۱ آ په خپلي خولي کښې قرنا ونيسه هغه دَ تجير په شان دَ خداوند په
کور باندِ ځکه چه دوي ځما له وعدي وګرزيدل او ځما دَ تورنت په خلا
۲ ياغيان شول ۲ هغوي به ما ته را ناري کړي اي ځما الله موږ
۳ بني اسرائيل دِ پيژنو ۳ اسرائيل ښه ځيز وغورزاوه دښمن به په هغه
۴ پسي وزغلي ۴ هغوي بادشاهان مقرر کړي دِي مګر نه ځما له لوري
هغوي سرداران درولي دِي او ما نه وپيژاندل هغوي دَ خپلو ځانونو
دَپارَ دَ سپينو او دَ سرو زرو معبود جوړ کړي دَي دي دَپارَ چه
۵ دوي پريکړي شي ۵ اي سمرونه ستا سخيَ دَ نفرت ناکي سبب دَي ځما
غصّه په هغو باندِ ګرمه شوي دَه ترڅو پوري دَ دغو پاکيزه کيدل
۶ نه کيږي ۶ ځکه چه دا هم له اسرائيلَ وَه هغه شيُ چه کاريګر
جوړ کړي دَي خداي نه دَي په يقين سره به دَ سمرون سخيَ ټکړي
۷ ټکړي کړي شي ۷ دي دَپارَ هغوي باد وکاره هغوي به سيلئ لو کړي
فصل ولاړ نه لري نه به دَ هغو له وږيو دوړه پيدا شي او که پيدا
۸ هم شي نو بيګانه خلق به ئي ونغړي ۸ اسرائيل ونغړد شه اوس دَ
هغو قومونو په منځ کښې دَ هغه لوښي په دود شي چه بري نه خوښ
۹ کيږي ۹ ځکه چه دوي اَسور ته پورته شوي دِي دَ هغه ګورخر په
۱۰ شان چه يواځي اوسي ۱۰ افرائيم يارانو ته خرڅه ورکړي دَه نوزه به
هم اوس هغوي را جمعَ کړم اګر که هغوي دَ قومونو په منځ کښې
خرڅه کړي دَه او هغوي به پس له لږ مدي دَ سردارانو دَ بادشاه
۱۱ دَبار په سبب غمجن کړي شي ۱۱ ځکه چه افرائيم دَ خطا دَپارَ ډير مذبحونه
۱۲ جوړ کړي دِي دَ هغو مذبحونه به دَ هغه دَ خطا سبب شي ۱۲ ما دَ خپل
تورنت لس زره (سطبونه) دَ هغو دَپارَ وليکل مګر دغه بيګانه ګڼل
۱۳ شي ۱۳ هغوي ځما دَ هديو دَ قربانيو دَپارَ غوښې باند کوي او خوري
مګر خداوند ئي نه قبلوِي اوس به دَي دَ هغو بدِي په ياد کړي او

دَ گناهونو سزا به ورکړِي مصر ته به بيرته لاړ شِي ۱۴ دي دَپارَ ۱۴
چه اسرائيل خپل خالق هير کړي ديَ او محلونه ئې جوړ کړِي دي
او يهوداه ډير مضبوط ښهرونه آباد کړِي دِي زه به دَ هغه په
ښهرونو اور واستوم او دَ هغو محلّونه به وخورِي ✣

نهم باب

آ اي اسرائيلَ دَ قومونو په دود دَ خوشِي په سبب مه خوښيږه ۱
ځکه چه تا زنا وکړه خپل الله دِ پريښود تا به هر يوه درمند کښ
دَ کنچنئِ په خرڅي مينه کړي دَه ۲ درمند او انګورِي تالاب به دَ هغوي ۲
پرورش و نه کړِي او نوِي شراب به په کښ تمام شِي ۳ دوي به ۳
دَ خداوند په زمکي کښ نه واوسِي افرائيم به مصر ته پسته راشِي
او په اسور کښ به ناپاک څيزونه خوري ۴ دوي به شراب دَ خداوند ۴
دَپارَ څنړکا و نه کړِي او دَ هغو ذبحي به خوښي نه کړِي دوي به دَ
هغو دَپارَ دَ وير ژوليو دَ ډوډئِ په شان شِي هرڅو چه هغه خوري
ناپاک به وِي ځکه چه دَ هغو ډوډئِ به دَ هغو دَځان دَپارَ دَ خداوند
په کور کښ داخلِي نه شِي ۵ تاسو دَ جماعت په ورځ او دَ خداوند دَ ۵
عيدونو په ورځ به څه کړئِ ۶ ګورئِ هغه له تباهِي تلي دِي ليکن ۶
مصر به هغوي جمعَ کړِي موف به ئې ښخ کړِي جلبنګ به دَ هغو
دَ سپينو زرو دَ خوښِي څيزونه قبضه کړي دَ هغو په ډيرو کښ به
اغزِي زرغونه شِي ۷ د سزا ورځي راغلِي دِي دَ بدلي اخستلو ورځي ۷
راغلِي دِي اسرائيل به معلوم کړِي نبِي نادان دَي روحانِي سړِيَ
ليونئَ دَيَ ستا دَ ډيرِي بدکاري او دَ ډير عداوت په سبب ۸ افرائيم ۸
نګاهبان ځما دَ الله څخه: نبيان پخپلو ټولو لارو کښ دَ ښکاري
لومه دَي دوي دَ خپل الله په کور کښ عداوت دَي ۹ هغوي لکه چه ۹
دَ جبعه په ورځو کښ وشول خپل ځانونه بيحده خراب کړي دِي دَي
به دَ هغوي بدِي په ياد کړِي دَي به دَ هغو دَ گناهونو سزا ورکړِي

۱۰ ۱۰ ما اسرائیل دَ هغو انګورو په شان چه په بیابان کښې وِي وموندل
لکه دَ انځیر ورښبي پخه میوه چه اول وار ولګي هم هسي مِ ستاسي
پلرونه او نیکونه ولیدل مګر دوي بعل‌فغور ته ورغلل او دَ هغه
بیحیا دَپارَ هغوي ځان خپل نذر کړ هغوي دَ هغه خپل معشوق
۱۱ په دود مکروه شول ۱۱ دَ افرائیم دبدبه به دَ چنڅچنڼي په دود والوزي
تر دي حده چه نه به ئي زیږیدل نه به ئي دِ کیدي: نه به ئي بارداري
۱۲ وِي ۱۲ بلکه هرڅو چه دوي خپل اولاد ساتي نو هم زه به ئي ورنه
رانیسم چه هیڅوک آدمزاد پاتي نه شي په یقین سره به په دوي هم هغه
۱۳ وِي هغه وقت چه زه ورنه لاړ شم ۱۳ زه افرائیم وینم چه دي دَ
صور په شان په ښه ځاي کښې لګولي شوي دَي مګر دَ افرائیم به دا
۱۴ حال شي چه دوي به خپل ځامن وقتلونکي ته ورو باسي ۱۴ اي خداونده
هغوي ته ورکړه نو هغوي به څه درکړي دوي ته هغه ګیده چه وېرزي
۱۵ او هغه تِي چه وچ شي ۱۵ دَدوي شرارت ټول په جلجال کښې دَي هو
هلته کښې مِ له هغو سره کینه وکړ او دَ هغو دَ بدو کارونو په
سبب مِ له خپل کوره نه ویستل او بیا به مینه ورسره و نه کړم
۱۶ ټول سرداران ئي نافرمانه دِي ۱۶ افرائیم وهلي شوي دَي دَ هغو بېخ وچ
شه دوي کښې به میوه رانه وړي او که دَدوي (بنځي) وزیږوي نو زه
۱۷ به دَ هغو دَ ګیدي ګرانه میوه و وژنم ۱۷ خما الله به ئي لري کړي
دي دَپارَ چه هغوي دده اوریدونکي نه شول او هغوي به دَ
قومونو په منځ کښې مسافران شي ❊

لسم باب

۱ ۱ اسرائیل یو په پاڼړو ګورناک دَي چه میوه په کښې ولګیدله لکه
چه دَ هغه میوي زیادتي دِي. هم هسي دیر مذبحونه زیات کړل لکه
چه دَ هغه زمکه ښه وه هم هسي ئي ښه ستني جوړي کړي ۲ هغوي
زړه وبیشلي شه اوس به ګرم ګړي شي دَي به دَ هغو مذبحو وکاړي

٣ او دَ هغو ستني ماتي کړي ٣ ځکه چه اوس به دوي ووايي چه ځمونږ
هيڅوک بادشاه نشته دي دَپارَ چه مونږ له خداوند نه نه ويريږو نو
٤ بادشاه به ځمونږ دَپارَ څه وکړي؟ ٤ هغوي (پوچي) خبري کوي او وعدي
کوي دروغ قسمونه خوري دي دَپارَ لکه چه بربکه دَ پټي په کرکونو
٥ کښ هم هسي به سزا پرِ زرغونه شي ٥ دَ بيتِ آون دَ سخيو په
سبب به دَ سمرون اوسيدونکي ودارېږي چه دَ هغه ځاي خلق به په
هغه وژاړي او دَ هغه ځاي بُت پرستَ کاهنان به چه په هغه ډنګيدلي
٦ وُو دَ هغه دَ دبدبي په سبب چه له ده لاړه شوه ٦ له ده به ئي
هم اسور ته بوسي هغه ياريب بادشاه نذر به ئي کړي افرائيم
به پښيماني واخلي او اسرائيل به له خپل مصلحت نه شرمنده
٧ شي ٧ سمرون بادشاه برباد شوي دي دَ هغه زګ به دود چه دَ
٨ اوبو په مخ باندِ وي ٨ او دَ آون اوچت مکانونه چه دَ اسرائيل خطا
ده و به نړاولي شي او دَدوي په مذبحونو به اغزي ازغکي زرغونه
شي او دوي به غرونو ته ووايي چه مونږ پټ کانړئ او غونډيو
٩ ته چه په مونږ پريوزئ ٩ اي اهلِ اسرائيلَ دَ جبعه له ورځو دِ ګناه
کړي دَه هلته کښ دوی ودريدل چه هغه جنګ په جبعه کښ
١٠ دَ هغو دَ بدي په بچيو نه پريووزي ١٠ چه ځما نيّت وشي نو
زه به هغو ته سزا ورکړم او قومونه به وربانډِ ټول شي هر کله
١١ چه هغوي دَدوي په دوو ګناهونو کښ بديان کړي شي ١١ نو افرائيم
يوه آموخته سخي دَه چه په غوبل خوښيږي مګر زه دَ هغي په ښائسته
غاړي تير شوم زه به په افرائيم باندِ سوار کښينوم يهوداه به يويه
١٢ وکړي او يعقوب به دَ هغو لوټي ماتي کړي ١٢ دَ خپل ځان دَپارَ
رښتني وکړئ او دَ نيکي په موافق ئي لو کړئ او بنجر دَ ځان دَپارَ
بويه کړئ ځکه چه دا هغه وقت دَي چه په دغه کښ تاسي خداوند
ولټوئ تر هغه پوري چه راشي او په تاسي رښتني واوروي –

١٣ ١٣ تاسي دَ شرارت يوبه وكړه تاسي بدي لوكړه تاسي دَ دروغو ميوه
وخوړه ځكه چه تا په خپلي لاري دَ خپلو بناغليو په ډولي تكيه وكړه
١٤ ١٤ دي دَپارَ به ستا په خلقو كښ يو شوروشر پورته شي او ستا
ټولي قلاوي به ونړولي شي لكه چه شلمن دَ جنګ په ورځ كښ
بيتِ اربئيل ونړاوه چه مور له خپلو بچيو سره ټكړي ټكړي كړي شوې
١٥ ١٥ هم هسي به هغه له تاسي سره په بيتِ ايل كښ ستاسي دَ
ډيري ډيري بدي په سبب وكړي دَ اسرائيل بادشاه به صباح بالكل
پريكړي شي ❊

يولسم باب

١ ١ چه اسرائيل هلك وه ما مينه پري كوله او خپل زوي مِ له مصرَ
٢ راوباله ٢ هر كله چه هغوي دوي راوبلل نو هغوي دَدوي له مخَ نه
لاړل هغوي بعليم لره قرباني تيري كړي او دَ تراشليو بتانو لره ئي لُبان
٣ وسيزل ٣ ما افرائيم په لاس ونيو په پښو تلل مِ ور وښودل ليكن
٤ دوي پوهه نه شول چه ما صحت ور وباخښه ٤ ما دوي دَ انسان
غوندِ په رسيو او دَ ميني په پړيو وښكول زه دَدوي په حق كښ
دَ هغو په شان وم چه له غاړي ئي ټَغ اخلي او ما دوي ته خوراك
٥ كيښود ٥ دوى به دَ مصرَ وزمكي ته بيرته ورنه شي مګر اسور به
٦ دَ هغو بادشاه وِي دي دَپارَ چه دوي له ګرزيدلو انكار وكړ ٦ دَ
هغوي په كليو كښ به توره وبريښي او دَدوي اړبنګونه تمام كړي
٧ او دوي به دَدوي دَ مصلحتونو په سبب ونغري ٧ او څما خلق له
ما نه ګرزيدلو ته نږدي دي سره له دي چه هغوي ئي دَ حق تعالى په
٨ لوري وبلل مګر هيڅ يو نه غوښتل چه ده ته بزرګي وركړي ٨ اي
افرائيم زه له تا سره څه وكړم اي اسرائيل زه دِ څرنګ وسپارم
زه دِ څرنګ دَ ادماه په دود كړم او دَ ضبوئيم په شان دِ جوړ
٩ كړم ٩ څما زړه په ما كښ پيچ كوي څما مهرباني وخوځيدلي زه به دَ

خپل قهر دَ کړمي په موافق کار ونه کړم زه به بیا رانه شم چه افرائیم
هلاک کړم ځکه چه زه الله یم انسان نه یم زه ستا په منځ کښ
١٠ قدّوس یم او له قهرَ سره به رانه شم ١٠ دوي به دَ خداوند پیروي
وکړي هغه وقت چه دَ ببر زمري په شان وغړمبیږي هغه وقت به
١١ دَ هغه زامن دَ سمندر له لوري په لړزي سره راشي ١١ هغوي به
له مصرَ دَ چڼچڼري په شان او دَ اسور له زمکي به دَ کوتري په
شېر په لړزي راشي او زه به دوي دَ دوي په کورونو کښ و اوسوم
خداوند فرمائي
١٢ ١٢ افرائیم په دروغو سره او دَ اسرائیل تبر په مکّاري سره
ګیر کړلم او یهوداه هم تر اوسَ پوري په الله سره حکومت کوي
هو له قدس سره امانت‌دار دَي ÷

دولسم باب

١ ١ افرائیم په باد خوري هو دي په مشرقي باد پسي زغلي دَي تموله ورځ
زیات دروغ وايي او ظلم کوي دوي له اسور سره وعده کوي او تیل
٢ مصر ته رَسَوي ٢ دَ خداوند له یهوداه سره یوه جګړه دَه او یعقوب
ته لګه چه دده لاري دي هسي سزا به ورکړي دده له عملونو سره
٣ به موافقه بدله ورکړي ٣ دده په رحم کښ دَ خپل ورور پڼډۍ ونیوي
٤ او ده په خپل زور سره له الله سره کشتي وکړه ٤ هو ده له فرښتي
سره کشتي وکړه او پر غالب شه ده وژړل او هغي ده ته زاري
وکړي ده هغه په بیت‌ایل کښ بیاموندِه او هلته کښ ئي له ما
سره خبري وکړي یعني خداوند دَ لښکرو یَهُوَه دده یادګار دَي-
٥ ٥ پس ته دَ خپل الله په لوري وګرزه او رحم او انصاف وساته او
٧ مدام دَ خپل الله امیدوار شه ٧ کنعان چه دَي په لاس کښ ئي دَ
٨ مکر تلي دي او په ظلم مینه کوي ٨ افرائیم خو وايي چه زه دولتمند
شم او ځان سره مال مې وموند خما په ټولو مشقتونو کښ هغه

۹ زبوني چه ګناه وکړله شي په ما کښ به يې نه مومي ۹ په دي هم
زه دَ مصر له زمکي نه خداوند ستا الله يم زه به آينده تا په
۱۰ خيمو کښ دَ عيد دَ ورځو په دود و اوسوم ۱۰ ما دَ نبيانو په معرفت
کلام کړي دِي او ډير خوبونه مِ ظاهر کړل او ما نبيانُ په منځ کښ
۱۱ کړي ډير مثالونه مِ در ښکاره کړل ۱۱ په جلعاد کښ بدکاري شته
څه؟ هغوي په يقين سره بطلان دِي هغوي په جلجال کښ سخوندران
قرباني کوي دَ هغوي مذبحونه دَ پټي په کرکونو باندِ دَ تودو په شان
۱۲ دِي ۱۲ او يعقوب دَ ارام ورشو ته وتښتيده هو اسرائيل دَ ارتيني
۱۳ په خاطر نوکر شه ده دَ ارتيني دَپارَ شپني وکړه ۱۳ دَ يوه نبي
په معرفت خداوند اسرائيل له مصرَ باهر راوخيژاوه او په
۱۴ نبي سره دي وساتَه شه ۱۴ افرائيم دَ تلخي په غضب کړ دي دپارَ
به دَده خداوند دَده خون په ده باندِ پريږدِي او دَده رسوائي به
په ده باندِ بيرته ور وګرزوي ❊

دیارلسم باب

۱ ۱ هرکله چه افرائيم ويل ترهيدل وو دغه دَ اسرائيل په مينځ
کښ خپل ځان سرفراز کړ مګر چه په بعل کرم شه نو مړ شه
۲ ۲ او اوس دوي په ګناه باندِ ګناه کوِي دوي دَ خپلو سپينو زرو
اچولِي صورتونه دَ خپل ځان دپارجوړ کړل او دَ خپلي پوهي په موافق
يُ بُتان طيار کړل چه دَ ټولو کاريګرو کارونه دِي دوي دَ هغو په
حق کښ وايِي چه هغه څوک چه قرباني تيروِي نو سخي دِ کښلوِي
۳ ۳ دي دَپارَ به دوي دَ صباح دَ اوريځي او دَ شبنم په شان چه
وقتي ځي تيريږي او دَ پړک په دود چه په ګردباد سره له درمنده
الوزوله شي او دَ هغه لوګي په څير به شِي چه له موريُ وزي
۴ ۴ مګر زه دَ مصر له زمکي نه ستا خداوند الله يم او بغير له
ما نه هيڅ معبود مه پيژنه ځکه چه بي له ما نه هيڅوک خلاصي

٥ ورکونکي نشته ۵ ما په بیابان کښې په هغې زمکې کښې چه په کښې
٦ تنده وه ستا خبر واخست ۶ دَ دوي دَ څراګاه سره موافق ماړه شول
او چه ماړه شول نو ته په زړه کښې ئې غرور راغې له دي سببَ
٧ مو هېر کړلم ۷ څکه زه به دَ دوي دَپارَ دَ ببر زمري په شان شم
٨ دَ پړانګ په څير به په لاري کښې ناست دوي ته پټوني وکړم ۸ زه
به دَ هغه ږيږ په دود چه بچي ورنه شوکولي شوي وي ور ته به
پيښ شم او دَ هغو دَ زړه پردي به وڅيرم او دَ زمريُ په شان
٩ به ئې هلته کښې ونغړم دَ صحرا درندګان به ئې وڅيري ۹ اي
اسرائيل تا خپل ځان برباد کړي دَي په دي چه زه ستا کومک
١٠ يم ۱۰ اوس ستا بادشاه چرته دَي دي دَپارَ چه دَي تا لره په ټولو
ښهرونو ستا کښې خلاص کړي او ستا قاضيان چرته دِي چه دَ
١١ هغو په باب دِ ويل چه يو بادشاه او اميران ما ته راکړه ۱۱ ما
په خپلي غصّي کښې تا ته بادشاه درکړ او په خپل غضب سره مِ
١٢ واخست ۱۲ دَ افرائيم بدکارِي تړلي شوه دَ هغه ګناه ذخيره دَه
١٣ ۱۳ دَ لنګيدونکي ښځي به دردونه پرِ راشي هغه نادان هلک دَي
څکه چه وقت دَي چه دغه دَ هلکانو دَ راوتلو په ځاي کښې درنګ
١٤ ونه کړي ۱۴ زه به هغوي دَ ګورهندي له اختيارنه په فديي رانيسم
هغوي به له مرګ نه خلاص کړم اي مرګ ستا مرګو چرته دَه
اي ګورهندي ستا هلاکت چرته؟ پښيماني څما له سترګو پټه دَه
١٥ ۱۵ اګر که هغه دَ خپلو وروڼو په منځ کښې مرادمند دَي ليکن
دَ مشرق باد به راشي دَ خداوند باد به له بيابانَ راشي او دَ هغه
چينه به وچه شي او خوټنديُ به خشکه شي دي به دَ ټولو
ښائسته ؤ لوښيو خزانه لوټ کړي سمروَن به دَ خپلي ګناه سزا مومي
څکه چه دَي له خپل الله نه ياغي شوي دَي هغوي به په ټوري پريوزي
دَ هغو هلکان به ريزمريږ او دَ هغوي بارداري ښځي به وڅرلي شي ٭

څورلسم باب

۱ آ اي اسرائيلَ ته دَ خداوند الله خپل په لوري وګرځه ځکه چه ته
۲ دَ خپلي بدکارۍ په سبب وپرتلي ۲ تاسو له کلمي سره دَ خداوند
په لوري وګرځئ او هغه ته ووايئ چه ټولي بدکارۍ لرې
کړه او مونږ په مهربانۍ سره قبول کړه نو به مونږ دَ خپلو شونډو
۳ سخي نذر کړو ۳ اسور به مونږ ته خلاصي رانه کړي په آسونو به
سواره نه شو دَ خپلو لاسونو کارونو ته به هيڅري ونه وايو چه
تاسو څمونږ معبودان يئ ځکه چه هم له تا نه يتيمان رحمت مومي
۴ ۴ زه به ياغيولي ته شفا ورکړم زه به په ښه زړه سره په هغو
۵ مينه وکړم ځکه چه څما غصّه له هغو نه پورته شوه ۵ زه به دَ
اسرائيل دپاره دَ شبنم په شان شم هغه به دَ سوسن په شان
۶ وغوړيږي او دَ لبنان په څير به خپلي ولبيي وغورزوي ۶ دَ هغه
ښاخونه به وغوړيږي او دَ زيتون دَ ونې په شان به ښائسته او
۷ دَ لبنان په طور به خوشبويه وي ۷ هغه خلق چه دَ هغه تر سيوري
لاندې اوسي بيرته به وګرزي هغوي به دَ غنمو په دود شنه زرغونه
وي او دَ تاک په څير به وغوړيږي دَ هغو شهرت به دَ لبنان دَ
شرابو په څير وي افرائيم به ووايي چه څما له بتانو سره بياڅه کار
۸ دَي ۸ ما هغه ته ځواب ورکړي دي اونظر به پري وکړم زه دَ سرو
۹ غوندې شنه ونه يم څما په سبب ته بريالي شوي ۹ کوم دانا دَي
چه په دي خبري پوه شي او اهلِ دل څوک دَي چه په دغو
و پوهيږي ځکه چه دَ خداوند لاري سمي دي او نيکان خلق
پري درومي مګر نافرمان به په کښې پريوزي ❊

دَ یوئیل نبي کتاب

اول باب

١ دَ خداوند کلام چه یوئیل زوي دَ پثوئیل ته ورسیده ٢ اي زړو ٢
دا واورئ او دَ زمکي ټولو اوسیدونکیو غوږونه کیږدئ داسي څه ستاسي
په ورځو کښ یا ستاسي دَ پلرونو او نیکونو په ورځو کښ کله شوي
وُو ٣ تاسي خپل اولاد ته دَدغه ذکر وکړئ او دَ تاسي اولاد دِ ٣
خپل اولاد ته او دَ هغو اولاد دِ بلي پیړئ ته ٤ چه هغه څه چه ٤
له چیچونکي ملخ نه پاتي شول هغه بیاباني ملخ وخوړل او هغه څه
چه له بیاباني ملخ پاتي شول هغه څټونکي ملخ وخوړل او هغه څه
چه له څټونکي ملخ نه پاتي شول هغه نغړونکي ملخ وخوړل
٥ اي کیفیانو ویښ شئ او وژاړئ اي تاسي ټولو چه شراب څښئ ٥
دَ نویو شرابو دَپاره هي هي وکړئ ځکه چه هغه ستاسي له خولي
نه رانیولي شول ٦ دي دَپاره چه یو قوم څما په زمکي راوخوت هغه ٦
زوراور او بي شماره دَی او غاښونه ئي دَ ببر زمري غاښونه دِي او
داړي ئي دَ لوي زمري دِي ٧ هغو څما تاک ویجاړ کړي دي څما دَ انځر ٧
دَ ونې پوست ئي لوڅولي دَی هغه لغړه کړه وئ غورزوله او
ښاخونه ئي سپین واچول ٨ تاسي ویرکوئ لکه چه پیغله دَ خپلي ٨
ځوانئ دَ میړه دَپارَ شیړئ آغوستي وي ٩ او هدیه او دَ څښلو ٩
نذر دَ خداوند له کور نه پریکړي شول کاهنان چه خدمتګذار
دَ خداوند دِي ویر کوي ١٠ پټي ویجاړ شول زمکه ویر کوي چه ١٠
غله خرابه شوه نوي شراب وچ شول تیل ضایع شول ١١ اي دهقانانو ١١
شرمنده شئ او اي دَ تاکستان باغوانانو هي هي کوئ دَ غنمو او
دَ اوربشو په سبب ځکه چه دَ پټي فصل ورک شه ١٢ تاکونه ١٢

وچ شول دَ انځیر ونې مړاوي شولې دَ انارو او دَ خرما او دَ
منڼې ونې هو دَ ورشو ټولې ونې مړاوي شولې هو دَ بنيآدم له ځنځ
۱۳ نه خوښي هم مړاوي شوه ۱۳ اي کاهنانو ملاوې وتړئ وير کوئ
اي دَ مذبح خدمت کونکيو تاسي هي هي کوئ اي ځما دَ الله خادمانو
تاسو ننوزئ ټوله شپه ټيرئ اغوستي تيره کړئ ځکه چه هديه او
۱۴ دَ ځکلو نذر ستاسو دَ الله له کور نه منع شوي ۱۴ تاسي روژي
مقدسه کانړئ پاکه جرګه راوبولئ سپين بږيري او دَ زمکي ټول اوسيدونکي
دَ خداوند الله خپل وکورته جمع کړئ او دَ خداوند دَ وړاندِ
۱۵ ناري کوئ افسوس دَ دي ورځي په سبب ۱۵ ځکه چه دَ خداوند ورځ
نژدي ده او لکه چه دَ قادرِ مطلق له لوري لوي هلاکت کيده نو
۱۶ هسي به راشي ۱۶ دَ مونږ دَ سترګو دَ وړاندِ خوراک هو ځمونږ دَ الله
۱۷ له کور نه خوښي او خوشحالي پريکړې نه دي شه ؟ ۱۷ غله تر لوټي
دَ لاندِ سخا شه درمندان خراب پراته دي کندوان مات شوي دي
۱۸ ځکه چه غله وچه شوه ۱۸ چارپايان ځرنګ آهونه کوي او دَ غواوُ
او دَ غوايانو پادي په ترس کښې شوي دي ځکه چه دَ هغوي دَپارَ
۱۹ څراګاه نشته ده هو دَ ميږو رمي هم ورکي شوي ۱۹ اي خداوندَ زه
ستا دَ وړاندِ فرياد کوم ځکه چه اور دَ بيابان څراګاهي نغړلي دي او
۲۰ لنبي دَ پټيو ټولي ونې سيځلي دي ۲۰ دَ ورسنو ځناوران هم تا ته
مشتاق دي ځکه چه دَ اوبو توپونه وچ شول او اور دَ بيابان
څراګاهي وخوړلي *

دويم باب

۱ آ په صيحون کښې توري ووهئ ځما په مقدس غره باندِ چغي ووهئ
دَ زمکي ټول اوسيدونکي دِ ورېږدِي ځکه چه دَ خداوند ورځ را دروي
۲ ځکه چه نژدي ده ۲ دَ تياري او دَ تاريکي ورځ دَ توري اوريځي او
دَ ګڼږي اوريځي ورځ لکه چه دَ صباح روښنائي په غرونو باندي

وغوریږي یو قوم لوي او زوراور دَي چه نه دا هسي وړاندِ چري
شوي وه او نه به ترکالونو پوري پیړی په پیړیٔ بیا وشي ۳ دَ هغو ۳
دَ وړاندِ وړاندِ یو اور دَي چه خوړل کوِي او دَ هغو په وروستو
وروستو یوه لنبه دَه چه سیځل کوِي دَ هغو دَ وړاند زمکه دَ باغ
عدن په دود دَه او دَ هغو دَ وروستو یو ویران بیابان دَي هو
له هغو هیڅ خلاص شوي نه دي ۴ دَ هغو لیدنه دَ اسونو دَ لیدني ۴
په دود ده او دَ سوارو په شان زغلي ۵ دَ غرونو په څوکو باندِ دِ ۵
کاډیو دَ کړیدلو په شیر دانکي لکه لنبه دَ اور چه خس خوري
هغوي دَ یوه زوراور قوم په دود چه دَ جنګیدلو دَپارَ صف تړي-
۶ دَ هغو دَ وړاندِ خلق ترهیږي هو دَ ټولو دَ څهرو رنګ تغیّر کیږي ۶
۷ هغوي دَ پهلوانانو په شان زغلي دَ جنګي ځوانانو عوندِ په دیوالونو ۷
باندِ ختږي او هریو په خپلي خپلي لاري باندِ درومي او خپل صفونه
نه ماتوي ۸ هغوي یو بل ته تیل وهي هرڅوک په خپلي خپلي لاري درومي ۸
او دَ وسلي په منځ کښ پروځي نو هم نه ماتیږي ۹ هغوي په ښاري ۹
وهي په دیوالونو زغلي په کورونو ختږي دَ غلونو په دود په کړکیو
ورننوزي ۱۰ دَ هغو دَ وړاندِ زمکه رپیږي آسمان ترهیږي نمر او ۱۰
سپوږمۍ تاریک کیږي ټول ستوري له خپلي روښنائۍ ورکولو ستنیږي
او یَهُوَه به دَ خپل لښکر دَ وړاندِ خپل آواز ورکړي ځکه چه ۱۱
دده دَ لښکر ځاي ډیر لوي دَي ولي چه دي عظیم دَي چه دَ خپل
کلام عمل کونکي دَي ځکه چه دَ خداوند ورځ ډیره لویه دَه او
بي اندازه خوفناکه ده څوک دَ هغي زغم کولي شي ۱۲ پس خداوند ۱۲
فرمایي اوس تاسي په خپل ټول زړه سره راوګرزئ په روژي او ویر
او زاري سره ۱۳ او خپل زړه وشیریٔ نه چه خپلي جامي او دَ یَهُوَه ۱۳
الله خپل په لوري وګرزئ ځکه چه دَي زړهسوان او رحیم دَي په
قهر کولو کښ صابر او ډیر مهربان دي او په بدي ارمان کوِي

۱۴ ۱۴ څوک پوهیږي چه دئ به گرزي او ارمان به وکړي او په وروستو
خپل یو برکت پرېږدي چه دَ خداوند الله خپل دَپارَ یوه دَ څکلو
نذر او هدیه وي
۱۵ ۱۵ په صیحون کښ تورۍ ووهئ او یوه روژه مقدّسه کړئ
۱۶ او دَ مقدّس جماعت منادي وکړئ ۱۶ تاسو خلق جمع کړئ جماعت پاک
کانړئ سپین ږیري یو ځای کړئ هلکان او یئ خوړونکي هم راټول کانړئ
زلمي دِ له خپلي کوټنړئ نه او ناوي دِ له خپلي حجلي نه باهر راشي
۱۷ ۱۷ کاهنان خلق دَ خداوند خادمان دِ دَ منډو او دَ قربانګاه په منځ
کښ وژاړي او و دِ وایي چه اي خداوندَ په خپلو خلقو شفقت وکړه
او دَ خپل میراث سپکي ته مه ورکوه هسي نه چه غیر قومونه په هغو
حکومت وکړي هغوي دِ دَ قومونو په منځ کښ څله ووایي چه دَ هغو
الله چرته دَي
۱۸ ۱۸ هغه وقت خداوند لره به خپلي زمکي غیرت وشه او ده
۱۹ به پخپلو خلقو زړه سوي وکړ ۱۹ بلکه خداوند خپلو خلقو ته ځواب
ورکړ او ورته ئي ووئیل چه گورئ زه به ستاسي دَپارَ غله او نوي شراب
او تیل واستوم چه تاسي به په هغو ماړه شئ او زه به تاسو بیا په
۲۰ غیر قومونو کښ رسوا نه کړم ۲۰ او بې له دي به دَ قطب وال به له تاسي
لري کړم او په هغي وچي ویراني زمکي کښ به ئي وشړم دَ هغه مخه
وراندِ به دَ مشرق په سمندر کښ او دَ هغه وُرستار به دَ مغرب په
سمندر کښ او دَ هغه به بدبوي پورته شي او دَ هغه سخا بوي به
۲۱ پورته شي ځکه چه هغه لویه گستاخي کړي ده ۲۱ اي زمکي مه ډاریږه
۲۲ خوښي او خوشحالي کوه ځکه چه خداوند لوي کارونه کړي دي ۲۲ اي
دَ ځنګل چارپایانو مه ترسیږئ ځکه چه دَ بیابان څراګاهي زرغوني کیږي
۲۳ او ونې خپله میوه ورکوي انځیر او تاک خپل قوّت ورکوي ۲۳ نو اي
دَ صیحون اولاده تاسي خوښ شئ او په خپل خداوند الله خوښي کوئ

ځکه چه دَي به ورنبني باران په برابرِي سره تاسي ته وبخښي بلکه
ستاسي دَپارَ دَ زور باران واوروِي وړاندنيُ او ورستونيُ باران
تاسي ته کوز کړِي لکه چه وړاندِ کيدل ۲۴ او درمندونه به له غنمو ۲۴
ډک شِي او تول حوضونه به له نويو شرابو او له تيلو ډک شِي
۲۵ او دَ هغو کالونو حاصل چه هغه به بياباني ملخانو او څټونکيو ۲۵
ملخانو او نغرونکيو ملخانو او چيچونکيو ملخانو يعني هغه لوي فوج
چه ما ستا وَ منځ ته در استولي وه پسِتنه درکړم ۲۶ او تاسي به ۲۶
ئي په خوړلو وخورئِ او ماړه به شئِ او دَ خپل خداوند الله دَ
نامه چه له تاسو سره ئي عجائب سلوک وکړ ثنا به وکړئِ او خما
خلق به هرګز شرمنده نه شِي ۲۷ نو تاسي به پوه شئِ چه زه دَ ۲۷
اسرائيل په منځ کښ يم او چه زه يهوه ستاسو الله يم او بي
له ما بل هيڅوک نشته دَي او خما خلق به هيچري شرمندهٔ نه شِي
۲۸ او پس له دي به داسي وشي چه زه به خپل روح په ټول بشر ۲۸
توي کړم او ستاسي زامن او لونړي به نبوّت کوِي او ستاسي
زاړه به خوبونه وينِي او ستاسي ځوانان به رؤيتونه ۲۹ بلکه زه به ۲۹
خپل روح په هغو ورځو کښ په غلامانو او په وينځو هم توي کړم
۳۰ او زه به په آسمانونو او په زمکو عجائبات ظاهر کړم ويني او اور ۳۰
او دَ لوګي ستنيه ۳۱ نمر به تاريک او سپوږمئ به ويني تِي پخوا له ۳۱
هغه چه دَ خداوند لويه او خوفناکه ورځ را رسي ۳۲ او داسي به ۳۲
وشِي چه هرڅوک چه دَ خداوند په نوم بلنه کوِي نو آزادِي به مومي
چه دَ صيحون په غره او په اورشليم کښ لکه چه خداوند فرمايلي
دِي دَ هغو باقيو په منځ چه خداوند بولي خلاصون وِي *

دريم باب

۱ او ګوره په هغو ورځو کښ او په هغه وقت کښ چه دَ يهوداه ۱
او دَ اورشليم بنديان بيرته راولم ۲ نو به ټول قومونه يوځاي کړم ۲

اودَ یهوشافاط په خوړي کښې به ئې لاندِ راولم او هلته کښې به
په هغو باندِ څما اُمّت اوځما دَ میراث اسرائیل دَپارَ چه دغه
هغوي دَ قومونو په منځ کښې پراګنده کړ اوځما زمکه ئې څبله
٣ وویشاله دعویٰ ثابته کړم ٣ هو هغوي څما په خلقو هسک واچاوه
او دَ یوي کسبې په بدل کښې ئې یو هلک ورکړ او دَ شرابو دَپارَ
٤ یوه جنکۍ خرڅه کړه تاچه و ئې څښې ٤ بیا سناسو له ما سره
څه کار دَي اي دَ صور او دَ صیدا او دَ فلسطیانو ټولو اطرافو
تاسو به ما ته بدله راکړۍ څه ؟ اوکه ئې راکړۍ نو زه به زر په
بیړه سره ستاسي بدله ستاسي په سرونو باندِ بیرته دروغورزوم
٥ ٥ څکه چه تاسي څما سپین او سره زر واخستل اوځما ګران
٦ او قیمتي څیزونه مو په خپلو تبخانو کښې ننه یستل ٦ اوتاسي بني
یهوداه او بني اورشلیم په بني یونانیانو خرڅ کړي دِي تاچه دوي
٧ دَدوي له سرحدونو نه لري کړۍ ٧ ګوري زه به هغوي ته له هغه
ځاي نه چه هلته کښې تاسو خرڅ کړي دِي ولمسوم او ستاسو بدله
٨ به ستاسو په سرونو در وګرزوم ٨ او ستاسي زامن او لونړې به
هم دَ بني یهوداه په لاسونو خرڅ کړم او دوي به هغوي دَ سبائیانو
په لاس چه په لري وطن کښې دِي خرڅ کړي څکه چه دا خداوند
فرمایلي دِي
٩ ٩ دَدي (خبري) منادِي په غیر قومونو کښې وکړۍ دَ جنګ طیاري
وکړۍ پهلوانان بیدار کانړۍ ټول جنګي څوانان دِ حاضر شي هغوي
١٠ دِ را وخیژي ١٠ دَ خپلې یوي سسپارونه توري جوړي کړۍ او لونه برچې
١١ ناتوان دِ ووایي چه زه زوراور یم ١١ اي دَ شا اوخوا ټولو قومونو
تاسي راشۍ بیړه وکړۍ راجمع شۍ اي خداوندَ داسي وکړه چه ستا
١٢ پهلوان هلته کوز شي ١٢ غیر قومونه دِ بیدار شي او دَ یهوشافاط
په خوړي کښې دِ وخیژي څکه چه زه به هلته کښې جلسه وکړم

تا چه دَ ټلورو خواوُ دَ غیر قومونو عدالت وکړم ۱۳ لور ولګوه ځکه ۱۳
چه فصل پوخ شوي دَي راشئِ دربل کوئِ ځکه چه چرخشت ډک
شوي دَي او ټول حوضونه مالامال شوي دِي ځکه چه دَ هغو شرارت
ډیر دَي ۱۴ ټولي ټولي دَ عدالت په خوړي کښ ځکه چه دَ خداوند ۱۴
ورځ دَ عدالت په خوړي کښ را نژدي ده ۱۵ نمر او سپوږمئ به تاریک ۱۵
شي او ستوري به خپلي روښنائي بند کړي ۱۶ ځکه چه خداوند به ۱۶
له صیحونَ وغرنبیږي او له اورشلیمِ نه به خپل آواز ورکړي او
آسمان او زمکه به وریږدِي لیکن خداوند به دَ خپلو اُمت پناه
او دَ بني اسرائیل محکمه قلا وِي ۱۷ نو تاسي به پوه شئِ چه زه ۱۷
خداوند ستاسي الله یم چه دَ صیحون ځما په پاک غره کښ اوسم
نو هغه وقت به اورشلیم پاک وِي او بیګانه خلق به هیڅري دَ
هغه په منځ کښ تیر نه شي ۱۸ او هغه ورځ به داسي وشي چه ۱۸
غرونه به نوي شراب وڅڅوي او غونډي به پئ وبهوي او دَ یهوداه
ټول کاریزونه به اوبه وبهوي او دَ خداوند له کور نه به یوه
چینه جاري شي او دَ شتّیم خوړه به اوبه کړي ۱۹ مصر به یوه ۱۹
ویرانه شي او ادوم به یو ویجاړ بیابان جوړ شي دَ هغه ظلم
په سبب چه دوي په بني یهوداه وکړ چه دوي دَ هغوي په مُلک
کښ دَ بیګناهو ویني توي کړي ۲۰ لیکن یهوداه به مدام آباد وِي ۲۰
او اورشلیم به هم پیړئ په پیړئ ۲۱ ځکه چه زه به دَ هغوي ويني ۲۱
پاکي کړم چه ما پاکي کړي نه دِي چه خداوند په صیحون کښ
اوسي ✱

دَ عاموس نبي کتاب

اول باب

۱ دَ تقوع له شپنو نه دَ عاموس خبري چه ده دَ یهوداه دَ بادشاه عزیاه په ۱
ورځو کښں او دَ اسرائیل دَ بادشاه یروبعام ځوي دَ یوآش په ورځو کښں
دَ اسرائیل په باب دَ زلزلي له راتلو نه دوه کالَ وړاندِ ولیدلي ۲ او ده ۲
وِو چه خداوند له صیحونَ به وغرمبیږي او له اورشلیمَ خپل آواز ورکوي
او دَ شپنو څراګاهي وِیر کوي او دَ کرملَ څوکي وچیږي ۳ خداوند داسي فرمائي ۳
چه دَ دمشق دَ دریو تقصیرونو دَپارَ هو دَ څلورو په سبب به زه ور نه
و نه ګرزم ځکه چه هغوي جلعاد دُ اوسپنو په ځیرونو سره موږلي دي ۴ نو زه به ۴
دَ حزاایل په کور کښں یو اور واستوم هغه به دَ بنِ هداد محلونه وخوري
۵ او زه به دَ دمشق اړم مات کړم او دَ بقعتِ اَوِن کښښیناستونکيَ او هغه ۵
چه دَ بیتِ عدن دَ کور امسا ئي اخستي دَه پري به ئي کړم او دَ آرام خلق
به په بند سره قیرَ ته لاړ شِي خداوند فرمائي

۶ خداوند داسي فرمائي چه دَ غزاه دَ دریو تقصیرونو دَپارَ هو دَ ۶
څلورو په سبب به زه ور نه و نه ګرزم ځکه چه دوي بندیان په پوره
شمار سره بیولي دِي چه آدوم ته ئي و سپارِي ۷ نو زه به دَ غزاه په ۷
ښهرپناه یو اوِر واستوم چه دَ هغه محلّونه وخوري ۸ او دَ اُشدود ۸
کښښیناستونکي او هغه چه دَ اسقلون امسا ئي آخستي دَه پري به ئي
کړم او خپل لاس به په عقرون بیا وګرزوم او دَ فلستیانو باقیه به
نیست شِي خاوند یهوواه فرمائي

۹ خداوند داسي فرمائي چه دَ صور دَ دریو تقصیرونو په سبب ۹
هو دَ څلورو په سبب به زه ور نه نه وګرزم ځکه چه دوي بندیان په
پوره شمار سره و ادوم ته وسپارل او دَ ورورګلوِي عهد ئي یاد نه کړ نو

۱۰ زه به دَ صورَ په ښهرپناه يو اور واستوم چه دَ هغه محلّونه به وخوري
۱۱ ۱۱ خداوند داسي فرمايي چه دَ آدوم دَ دريو تقصيرونو په سبب
هو دَ څلورو په سبب زه به ورنه نه وګرزم ځکه چه ده له توره سره
په خپل ورور پسي شه او خپل رحمتونه ئي خراب کړل او دَده غصّه
۱۲ مدام څيرونکي ده او ده خپله غصّه هميشه ساتله ۱۲ نو زه به په تيمان
باندِ يو اور واستوم او هغه به دَ بصراه محلّونه وخوري
۱۳ ۱۳ خداوند داسي فرمايي چه دَ بني عمون دَ دريو تقصيرونو دَپارَ
هو دَ څلورو په سبب زه ورنه نه وګرزم ځکه چه دوي دَ جلعاد
۱۴ حاملي ښځي څيري کړي دي دَپارَ چه خپل سرحدونه ارت کړي ۱۴ نو زه به
دَ رباه په ښهرپناه باندِ يو اور بل کړم چه دَ هغه محلونه به وخوري
او دَ جنګ به ورځ په نارو سره او دَ ګردباد په ورځ له طوفان سره
۱۵ او دَ هغو بادشاه بلکه هغه به له خپلو اميرانو سره يو ځاي په
بند لاړ شي خداوند فرمايي ✣

دويم باب

۱ ۱ خداوند داسي فرمايي چه دَ موآب دَ دريو تقصيرونو دَپارَ هو دَ
څلورو په سبب به زه ورنه نه وګرزم ځکه چه ده دَ آدوم دَ
۲ بادشاه هډوکي وسيزل چونه ئي کړل ۲ نو زه به په موآب باندِ يو اور
واستوم او هغه به دَ قريوت محلّونه وخوري او موآب به په شورماشور
۳ کولو او په ناري وهلو او په نورئ غږولو مړ شي ۳ او زه به قاضي هم
دَ هغه له مينځ نه پريکړم او زه به دَ هغه ټول اميران له هغه
سره قتل کړم خداوند فرمايي
۴ ۴ خداوند داسي فرمايي چه دَ يهوداه د دريو تقصيرونو دَپارَ
هو دَ څلورو په سبب به زه ورنه و نه ګرزم دي دَپارَ چه هغوي دَ
خداوند تورِيت رد کړي دي او دَ هغه حکمونه ئي و نه ساتل او
دَ هغوي دروغژنو چه دَ هغو پيروي دَ دوي پلرونو او نيکونو کړي وه

۵ گمراه کړي دِي ۵نو زه به په يهوداه باندِ يو اور واستوم او هغه به
دَ اورشليم محلونه وخورِي
۶ ۶خداوند داسي فرمايي چه دَ اسرائيل دَ دريو تقصيرونو دپاره هو
دَ څلورو په سبب به زه ورنه و نه گرزم ځکه چه هغوي په روپيو باندِ
۷ صادق او په يوي جوړي پېزو ئې مسکين خرڅ کړ ۷دَ هغه گرد هم چه دَ
مسکينانو په سر باندِ وِي طمع کوِي او دَ غريبانو لار اړوِي او يو سړي
۸ او پلار ئې يوي جنکئِ ته ورځِي تا چه ځما پاک نوم پليت کړِي ۸او دوي
دَ هر مذبح څنخه په هغو جامو باندِ چه گروِي دي څملِي او دَ خپلو
خدايانو په کور کښِ هغه شراب چه له مجرمانو ئې اخستلي دِي څښِي -
۹ ۹نو هم ما خو دَ هغو له وړاندِ اموري نيست کړِي دِي چه دَ هغو اوچتوالي
دَ يو نښترو دَ اوچتوالي په دود وه او دَ بلوط دَ وني په شان مضبوط
وو هو ما له پاس دَ هغو ميوه او له لاندِ نه مِ دَ هغه ولي بربادي کړي
۱۰ ۱۰او هم ما تاسو دَ مصر له زمکي را وخيژولي او ترڅلويښتو کالونه مِ په
بيابان کښِ تاسو بوتللي چه تاسو دَ امورِيانو زمکه په خپل ميراث کښِ
۱۱ واخلئِ ۱۱او ما ستاسو له زامنو نه نبيان او ستاسو له ځوانانو نه نذيران
۱۲ ودراول داهسي نه دَه څه؟ اي بني اسرائيلَ خداوند فرمايي ۱۲مگر تاسو
په نذيرانو شراب وڅښل او نبيانو ته مو په تاکيد سره وِوِيل چه نبوّت مه کوئِ
۱۳ ۱۳گورئِ زه به مو دَ لاندِ داسي ښکېمندم لکه چه گاډئِ ښکېمندي چه
۱۴ په هغي باندِ ډېر گېډي ليښلِي وِي ۱۴نو له گړندِي تلونکي به دَ تښتېدلو
طاقت لاړ شِي او زورآور به خپل زور مضبوطولي نه شِي او
۱۵ ميړني به خپل ځان خلاصولي نه شِي ۱۵او لندي ځکونکي به نه
و دريږِي او نه به گړندي پښي وال به خپل ځان خلاص کړِي او نه
۱۶ به هغه چه په آس باندِ سوار وِي خپل ځان خلاص کړِي ۱۶او په
هغه ورځ هغه چه له پهلوانو نه دلاور وِي لوڅ لغړ به وتښتي
خداوند فرمايي ✢

دريم باب

۱ ا اي بني اسرائيلو دا خبره واورئ چه خداوند ستاسو په مخالفت کښ فرمايلي
ده دَ هغه ټول قوم په مخالفت چه ما دَ مصر له زمکي رايستلي دي -
۲ ۲ هغه ووِ چه دَ زمکي له ټولو ټبرو نه مِ تش تاسو پيژاندلي يئ دي
۳ دَپارَ به زه تاسو ته ستاسو دَ ټولو بدکاريو سزا درکړم ۳ که چري دوه
۴ سړي سره اتفاق نه وي نو يوځاي به سره لاړ شي څه؟ ۴ ببر زمري به
په ځنګل وغرچيږي چه ښکار ئي (موندلي) نه وي او که ځوان ببر زمري
۵ څه نيولي نه وي نو له غار نه به خپل آواز هسک کړي ۵ کومه مرغۍ
په زمکي باندِ په دام کښ نښلي څه؟ چه دَ هغي دَپارَ دام لګولي شوي
نه وي؟ دام به تر هغه پوري چه څه نه څه په ده کښ نښتلي نه وي
له زمکي به واخست شي څه؟ په ښهر کښ به توريِ وغږوله شي
۶ څه؟ او خلق به نه و ريږيږي څه؟ ۶ بلا به په ښهر کښ وشي چه خداوند
۷ هغه جوړه کړي نه وي څه؟ ۷ په يقين سره به خداوند يهوَهٔ هيڅ کار
و نه کړي مگر چه دَي خپل راز په خپلو خدمتګذارو نبيانو ظاهر
۸ کړي ۸ ببر زمري غرچيدلي دَي څوک دَي چه نه به و ترسيږي خداوند
الله فرمايلي دِي څوک دَي چه نبوّت به و نه کړي
۹ ۹ تاسو دَ اشدود په محلونو کښ او دَ مصر دَ زمکي په محلونو
کښ منادي وکړئِ او ووايئِ چه دَ سمرون په غرونو خپل ځان جمع کړئِ
او هغه لويه غلبه چه دَ هغه په منځ کښ کيږي او ظلمونه چه دَ هغه
۱۰ په منځ کښ دی وګورئِ ۱۰ ځکه چه هغوي په راستي کولو نه پوهيږي
خداوند فرمايي هغه چه په خپلو محلونو کښ دَ ظلم او دَ لوټ انبار
۱۱ کوي ۱۱ دي دَپارَ خاوند يهوَهٔ داسي فرمايي چه هغه زمکه به يو دښمن
ګير کړي او ستا قوّت به درنه کوز کړي او ستا محلونه به لوټ کړي شي
۱۲ ۱۲ خداوند داسي فرمايي لکه چه شپون دوه لينګي يا دَ غوږ ټکړه دَ ببر
زمري له خولي نه راکاږي هم هسي بني اسرائيل چه په سمرون کښ دَ

۱۳ پلنګ په کوټي کښې او دَ دمشق په کټ کښېني را وکاږلي به شي ۱۳ تاسو
واورئِ او دَ يعقوب په ټبر ګواهي ولئِ خاوند يَهُوَهْ الله دَ لښکرو
۱۴ فرمائِي ۱۴ چه زه په هغي ورځي چه دَ اسرائيل دَ تقصيرونو سزا پرِ
راوړم نو به دَ بيتِ‌ايل مذبحونه ته هم سزا ورکړم بلکه دَ مذبح
۱۵ ښکرونه به پريکړي شي او هغوي به په زمکي پريوزي ۱۵ او زه به دَ
ژمي کور دَ وړي له کور سره و وهم او دَ هاتي دَ غاښ کونه به هم
ويران شي او لوي لوي مکانونه به و نړيږي خداوند فرمائِي ✣

۵ څلورم باب

۱ آ اي دَ بسن غواؤ چه دَ سمرون په کوهستان کښې يئِ او غريبان ربړوئِ
او مسکينان دربلئِ او خپلو مالکانو ته وائِ چه راوړئِ مونږ به وڅښو
۲ نو تاسو دا خبره واورئِ ۲ خداوند الله په خپلي پاکئِ قسم خوړلي دَي
چه ګورئِ هغه ورځي به په تاسو راشي چه په هغو کښې به تاسو په
۳ ښکو سره او ستاسو اولاد په کونډو سره يوسي ۳ او له تاسو به
هره يوه له هغو چودو نه چه دَ هغي په مخ کښې وي ووځي هو تاسو
به په حرمون کښې خپل ځانونه و غورزوئِ خداوند فرمائِي

۴ ۴ په بيتِ‌ايل راشئِ او تقصير کوئِ په جلجال کښې او ډير
تقصيرونه وکانږئِ او هر صباح له خپلي قربانئِ راوړئِ او هر يو دريمه
۵ ورځ خپل عشرونه ګذارئِ ۵ او دَ شکرانې هديي له خميري سره په اور
باندِ کړئِ او دَ نفلو هديو منادِي وکړئِ او واورئِ ځکه چه دا ټول کارونه
۶ ستاسو خوښ دِي اي بني‌اسرائيل خاوند يَهُوَهْ فرمائِي ۶ او ما هم
ستاسي په ټولو ښهرو کښې دَ غاښونو صفائِي او ستاسو ټولو هر مکانو
کښې دَ ډوډئِ کموالي درکړي دَي په دي هم تاسو ځما په لوري ګرزيدلي نه
۷ ئِ خداوند فرمائِي ۷ او ما هم باران چه دَ فصل په پخيدلو کښې تشي
دري مياشتي پاتي وي منع کړي دَي له تاسو نه او ما په يوه ښهر
واوراوه او په بل مِ نه واوراوه په يوي ټکړي زمکه باران واوريده

٨ اودَ بلي ښكري چه باران پري و نه اوريده وچه شوه ۸ نو دوه دري ورپي
كلي ته و تېريدل چه اوبه وڅښي لېكن ماړه نه شول په دي هم تاسو
٩ خما په لوري و نه ګرزيدلئ خداوند فرمايي ۹ بيا م تاسو په بادِ مشرقي او
په زرنړه ووهلئ او ستاسو ډير باغونه او تاكستانونه اودَ انځير وني
او دَ زيتون وني ملخانو خوړلي دي په دي هم تاسو خما په لوري راو نه
١٠ ګرزيدلئ خداوند فرمايي ۱۰ ما لكه چه په مصر و شول وبا ستاسي په منځ
كښ استولي دَه بيا م ستاسو ځوانان ستاسو له بنديوانو آسونو سره په
توري ووژلي دي او ستاسو دَ لښكر دَخاي بدبويي ستاسو په سپږمو
كښ م وخيژوله په دي هم تاسو خما په لوري نه راو ګرزيدلئ خداوند
١١ فرمايي ۱۱ ما ځني له تاسو واړول لكه چه الله سدوم او عموراه واړول
او تاسو دَ هغي شوشئ په شان شوي چه له بليدلو نه په دي هم
١٢ تاسو خما په لوري نه راو ګرزيدلئ خداوند فرمايي ۱۲ دي دَپاره اي اسرائيل
زه به له تا سره داسي وكړم او هركله چه زه له تا سره داسي وكړم
١٣ نو اي اسرائيل ته دَ خپل الله دَ ملاقات طيارِي وكړه ۱۳ ځكه ګوره دي
هم هغه دَي چه غرونه جوړوي او باد پيدا كوي اوچه سړي ته
دده فكر ور ښيي او صباح تياره كوي او دَ زمكي په لوړو دربي
كوي دَ هغه نوم خداوند الله دَ لښكرو دَي ٭

پنځم باب

١ ۱ اي دَ اسرائيل تبره دغه خبره چه زه ئي په تاسو پورته كوم يعني
٢ دغه وير واورئ ۲ دَ اسرائيل پيغله پرېوتله بيا به پورته نه شي هغه
٣ په خپلي خاوري پرته دَه هيڅوك نشته دَي چه بيا ئي پورته كړي ۳ ځكه
چه خداوند الله داسي فرمايي هغه ښهر چه زر به ور نه وتل نو په
هغه كښ به دَ اسرائيل دَ تبر دَپارَ سل پاتي شي او له هغه چه
سل به ور نه وتل لس به پاتي شي
٤ ۴ ځكه چه خداوند دَ اسرائيل و تبر ته داسي فرمايي چه

٥ تاسو څما طلب کوئِ نو تاسو به ژوندِي شئِ ۵ مګر دَ بيتِ‌ايل طلب
مه کوئِ او په جلجال کښې مه ننوزئِ او بير سبع ته مه ور تيريږئِ څکه
٦ چه جلجال به په بند لاړ شِي او بيتِ‌ايل به ناڅيز شِي ۶ تاسو دَ خداوند
طلب کوئِ نو به تاسو ژوندِي شئِ هسي نه چه هغه دَ يوسف په کور
کښې دَ اور په دود بل شِي او و نِي خوري او په بيتِ‌ايل کښې دَ هغه
٧ مړکونکي هيڅوک نه وِي ۷ اي تاسو چه عدالت په مستياري بدل کوئِ او
٨ صداقت په زمکي غورزوئِ ۸ هغه (لټوئِ) چه پروويني او جبّار جوړوِي او
چه دَ مرګ سيورِي صباح کوِي او ورځ په شپي تياره کوِي او دَ قعرِ دريابِ
٩ او به رابولِي او دَ زمکي په مخ نِي تويوِي دَده نوم خداوند دَی ۹ هغه
چه په زوراورو يو ناګهاني هلاکت راوړِي هسي چه په محکمي قلا باندِ
١٠ خرابِي راشِي ۱۰ دوي له هغه سره کينه لرِي چه په دروازي باندِ طعنه
١١ کوِي او دوي له هغه نفرت کوِي چه حقه خبره وايِي ۱۱ نو دي دَپارَ چه
تاسو مسکينان پايمال کوئِ او دَ غنمو هديي ورنه اخلِئِ تاسو مکانونه
له تراشليو کاڼيو بنا کړي دِي مګر په هغو کښې به نه و اوسئِ او تاسو
ښائسته تاکستانونه لګولي دِي ليکن دَ هغه شراب به نه وڅښئِ
١٢ ۱۲ څکه چه زه ستاسو له ډيرو تقصيرونو او له لويو لويو ګناهونو خبر
يم اي تاسو چه صادقان ربړوئِ او رشوت اخلِئِ او مسکينان له
١٣ دروازي شړئِ ۱۳ دي دَپارَ به په هغي زماني کښې هوښيار خاموش
١٤ به شِي څکه چه هغه بده زمانه ده ۱۴ تاسو دَ نيکِي طلب کوئِ او دَ
بدِي نه: دي دَپارَ چه تاسو ژوندِي اوسئِ او هم هسي به خداوند
١٥ دَ لښکرو له تاسو سره وِي لکه چه تاسي وايِئِ ۱۵ له بدِي سره کينه
کوئِ او له نيکِي سره مينه کوئِ او په دروازي عدالت ودروي کُندِ
١٦ خداوند دَ لښکرو الله دَ يوسف په باقيه مهرباني وکړي ۱۶ دي دَپارَ
يَهْوَهْ الله دَ لښکرو خاوند داسي وايِي چه په ټولو بازارو کښې به
نيهر وهل وِي او هغوي به ټول په کوڅو کښې هَي هَو کوِي او دهقانان

به دَ وِیرِ دَپارَ او هغوي چه په ویر کولو ماهر دِي وینا ته را و بولِئ
١٧ ١٧ او په ټولو انګوري باغونو کښ به وِیر وِي ځکه چه زه به ستاسو په منځ
١٨ کښ تیر شم خداوند فرمایِي ١٨ هَي هَي په تاسو چه دَ خداوند دَ ورځي
آرزو لرئِ دَ خداوند ورځ تاسو ته څه ده هغه خو تاریکي ده او رڼا
١٩ نشته ١٩ لکه چه سَړي له ببر زمري نه تښتي او په یږ ملیا شي یا
٢٠ کور ته لاړ شي خپل لاس په دیوال کیږدِي او ملر ئي وچیچي ٢٠ دَ
خداوند ورځ به تاریکه نه وِي څه ؟ او نور نشته بلکه ګنږه تیاره به وِي
٢١ چه په هغي کښ رڼا نشته ٢١ زه ستاسي له عیدونه کینه کوم له هغو
٢٢ نفرت کوم او زه به ستاسو په جماعتونو خوښي و نه کړم ٢٢ او که تاسو
هرڅو سیزونکي قربانئِ او هدیي څما دَ وړاندِ تیري کړئِ نو هم زه به ئي
قبولي نه کړم او ستاسو دَ څربو څاروو دَ شکراني دَ هدیي په لوري
٢٣ به مخ نه کړم ٢٣ ته دَ خپلو سرودونو آواز څما له وړاندِ نه لري کړه
٢٤ ځکه چه زه به ستا دَ ربابونو نغمه وا نه ورم ٢٤ مګر عدالت دِ دَ اوبو
٢٥ په دود وبهیږي او صداقت دِ دَ مدامي رود په شان ٢٥ اي اهلِ اسرائیل
تاسو څما دَ وړاندِ تر څلویښتو کالو پورِي په بیابان کښ ذبیحي او هدیي
٢٦ تیرولي څه ؟ ٢٦ تاسي خو دَ خپل مولک خیمي او دَ خپل کیون او دَ
خپل معبود ستوري چه تاسو دَ خپل ځان دَپارَ جوړ کړل پورته کړل
٢٧ ٢٧ ځکه به زه تاسو په بند سره له دمشق پوري خوا ته بوزم هغه
چه نوم ئي خداوند الله دَ لښکرو دي فرمایِي ❖

شپږم باب

١ ١ هَي هَي په هغو چه په صیحون کښ بيپروا دِي او دَ سمرون په غره
کښ بيخوفه دِي چه دَ نورو قومونو مشهور سرداران دِي چه هغو
٢ ته دَ اسرائیل ټبري ورځي ٢ تاسو کلنه ته پوري خوا لاړ شئِ او وګورئِ
او له هغه ځاي نه تر لوي حمات سیل وکړئِ نو دَ فلسطیانو په جتّه
کښ کوز شئِ هغوي له دي ملکونو ښه دي څه ؟ او اطراف ئي ستاسو

له اطرافو لوي دِي څه ؟ ۳ هَيْ هَيْ په هغو خلقو چه دَ بدو ورځو (خيال) ۳
لري کوِي او دَ ظلم کرسئِ ورنږدې کوِي ۴ چه دَ هاتِي دَ غاښو په پلنګونو باندِ ۴
څملِي او په خپلو کټونو باندِ غوړيږِي او له رمو نه ګډورِي او له
غوجلو نه سخِي خورِي ئِي ۵ او دَ رباب دَ آواز سره پرته پرته سندري ۵
واپِي او دَ داؤد په شان دَ موسيقِي سازونه دَ خپل ځان دَپارَ په فکر
جوړوِي ۶ او له پيالو نه شراب څښِي او په خپل ځانونه باندِ خاص عطر ۶
مږِي مګر دَ يوسف دَ شکسته حالِي دَپارَ غم نه خورِي ۷ دي دَپارَ به دوي ۷
له وړنبيو بنديانو سره په بند لاړ شِي او دَده دَ لوي ميلمستيا مستِي
چه په آرام سره غزيږِي و به شاړه شِي ۸ خاوند يَهوَهْ په خپل ذات ۸
قسم خوړلي دَيْ خداوند الله دَ لښکرو داسي فرمائِي چه زه دَ يعقوب له
دبدبِي نه نفرت لرم او دَده له محلونو سره مِ کينه دَه دي دَپارَ زه
به هغه ښهر دَ هغو ټولو سره چه په هغه کښِ دِي وسپارم ۹ بلکه ۹
داسي به وشِي چه که په کوم کور کښِ لَسْ سړِي باقِي پاتِي شِي نو هغوي
به هم مړه شِي ۱۰ او چه دَ چا تره چه دَده سيځونکي وِي پورته به ئِ کړِي ۱۰
تاچه دَ هغه هډونه له کور نه و باسِي او هغه ته چه په اندرونِي کور
کښِ دَيْ و به وائِي چه تر اوسَ پورِي له تا سره څوک شته هغه به
ووائِي چه نشته نو به هغه ووائِي چه چُپ شه دَ خداوند نوم دِ مونږ
ذکر نه کړو ۱۱ ځکه ګوره خداوند حکم کوِي او دي به لوي کور ټوټي ټوټي ۱۱
او وړوکِي کورونه به چاودي چاودي کړِي شِي
۱۲ په ګمره به آسونه وزغلِي څه ؟ يا څوک به په غوايه سره هلته ۱۲
کښِ يويه وکړِي څه ؟ چه تاسو عدالت په افيمو او دَ صداقت ميوه په مستيارِي
بدل کړل ۱۳ تاسو چه په ناڅيزونو فخر کوئِ او وائِ چه مونږ دَ خپل ځان ۱۳
دَپارَ په خپل طاقت سره ښکر نه واخست څه ؟ ۱۴ مګر اي دَ اسرائيل خاوندانه ۱۴
خداوند دَ لښکرو الله داسي فرمائِي ګوره زه به په تاسو باندِ يو ټولِي راوځيږوم
او تاسو به دَ حمات دَ ننوتلو له ځايه دَ بيابان تر ويالِي پورِي و ربړوِي * ۷

اوم باب

١ آ خداوند الله ما ته داسي را ښکاره کړل او ګوره چه ده (دکړوني
دَ آخرو زرغونکو په شروع کښ ملخان پيدا کړل او ګورئ هم هغه دَ
٢ دَ آخر زرغونکي وُو چه دَ بادشاه له ريبلو وروستو وشول ۲ او داسي
وشول چه هرکله چه دَ زمکي واښه ئې بالکلّ وخوړل نو ما وُوِ چه
اي خاوند يهوه زه ستا منّت کوم چه ته ئې معاف کړه يعقوب به
٣ څرنګ پورته شِي څکه چه دَي وړوکي دَي ۳ له دي نه خداوند افسوس
وکړ او خداوند وُوِ چه دا به نه وِي
٤ ۴ نو خاوند يَهوَه ما ته داسي را ښکاره کړي دِي او ګوره
چه خاوند يَهوَه دَ مقدّمي دَپاره اور را وباله او هغه لويه ژوره ئې
٥ و نغړله او يوه برخه ئې خوړله ۵ نو ما وُوِ چه اي خاوند يَهوَه زه
ستا منّت کوم چه پرې ئې بږده يعقوب به څرنګ پورته شي څکه چه دي وړوکي
دَي له دي هم خاوند يَهوَه وُوِ چه دا به هم نه وِي
٧ ۷ بيا ئې ما ته داسي را ښکاره کړل او ګوره چه خداوند
په يو دېوال چه په چاړول جوړ شوي وه ولاړ وه او چاړول مزي ئې
٨ په لاس کښ وه ۸ او خداوند ما ته وُوِ چه اي عاموس ته څه ويني
ما وُوِ يو دَ چاړول مزي خاوند وُوِ چه ګوره زه به يو دَ چاړول مزي
دَ خپل اُمّت اسرائيل په منځ کښ کېږدم او زه به بيا دَ هغو په لورِ
٩ ورتېر نه شم ۹ او دَ اسحاق اوچت مکانونه به ويجاړ شِي او
دَ اسرائيل مقدّسونه به ويران شِي او زه به له توره سره دَ يروبعام
په کور به وخېژم
١٠ ۱۰ نو دَ بيت‌ايل کاهن امصياه دَ اسرائيل بادشاه يروبعام ته
خبر واستاوه و ئې ويل چه عاموس دَ اسرائيل دَ کور په منځ کښ
په تا باندِ بندړ ترلي دَي او زمکه دَ هغه دَ ټولو خبرو زغم کولي
١١ نه شِي ۱۱ څکه چه عاموس داسي واېي چه يروبعام به په توري قتل

کړي ﺜﻴﻱ او بني اسرائيل به له خپل وطنَ يقيناً په بند سره لاړ
ﺜﻴﻱ ۱۲ او امصياه عاموس ته وُوِ چه اي غيب ليدنکي ته له دي ځاي ۱۲
نه ووزه وتښته دَ يهوداه زمکي ته او هلته کښ ډوډئِ خوره او هلته
کښ نبوّت کوه ۱۳ مګر په بيت ايل کښ بيا نبوّت مه کوه ځکه چه دا دَ بادشاه ۱۳
مقدّس او دده پاي تخت دَي
۱۴ نو عاموس امصياه ته په ځواب کښ وُوِ چه زه څو نبي نه وم ۱۴
نه دَ نبي زوي بلکه زه څو غوبه او دَ انځيري جمع کونکي وم ۱۵ او خداوند زه ۱۵
دَ موښيو له وروستو راونيولم او خداوند راته وفرمائيل چه لاړ شه
او ځما اُمّت اسرائيل ته نبوّت وکړه
۱۶ نو اوس ته دَ خداوند کلام واوره ته وايي چه دَ اسرائيل ۱۶
په خلاف نبوّت مه کړه او دَ اسحاق دَ ټبر په خلاف خبره مه څڅوه دي
دَ پاره خداوند داسي فرمايي ستا ارتينه به په ښهر کښ کنچني توب کوي او ۱۷
ستا زامن او لوڼړي به په توري پريوزي او ستا زمکه به په جريب سره
ويشله ﺜﻴﻱ او ته به په يوه ناپاکه زمکه کښ مړ ﺜﻴﻱ او بني اسرائيل
به له خپل وطنه په يقين سره په بند لاړ ﺜﻴﻱ ⁘

اتم باب

۱ خاوند يهوواه ماته داسي رابنکاره کړل او ګوره کورم چه يوه ټوکرئِ ۱
دَه چه په هغي کښ دَ اوړي ميوي دِي ۲ او ده وُوِ چه اي عاموسَ ته ۲
څه وينې ما وُوِ چه دَا اوړي دَ ميوو يوه ټوکرئِ نو خداوند ما ته وُوِ
چه ځما دَ اُمّت اسرائيل اجل راورسيد زه به بيا ورتېر نه شم
۳ او په هغي ورځي به دَ هيکل نغمي وير ﺜﻴﻱ خاوند يَهْوَهْ فرمايي ۳
ځاي په ځاي ډير مړي وِي هغوي به ئې په خاموشي وغورزوِي ۴ دا ۴
خبره واورئِ تاسو چه محتاجان کپ نغرئِ تاچه تاسو دَ ملک مسکينان
ورک کانړئِ او تاسو وائِ ۵ چه دا نوي مياشت به کله تېره ﺜﻴﻱ چه مونږ ۵
غله خرڅه کړو او دَ سبّت ورځ تاچه دَ غنمو انبارونه پرانزو او ايفه

۶ وړوکي او مثقال لوي کړو او په ټګي سره تله دروغژنه جوړه کړو ۶ څکه
چه مونږ په روپيو مسکينان او په يوي جوړي د پنړو خوار سړي وپيرو
۷ او د غنمو څچبيږ خرڅ کړو ۷ خداوند د يعقوب په دبدبي قسم خوړلي
دي چه په يقين سره به زه د هغو کارونه هيڅري هير نه کړم-
۸ ۸ هغه زمکه به له هغه سبب نه و رپيږي څه؟ او هر يو چه په
هغي اوسي وير به و نه کړي څه؟ هو هغه به د نيل سيلاب په دود
پوره وخيژي او د مصر د درياب په دود به موج ووهي او کوز به
۹ شي ۹ او په هغي ورځي به داسي وشي خاوند يَهُوَه فرمايي چه زه
به داسي وکړم چه نمر به د غارمي په وقت ډوب کړم او زه به په
۱۰ رڼا ورځ زمکه تاريکه کړم ۱۰ او زه به ستاسو عيدونه په وير سره
او ستاسو نغمي په ژړا ژړا سره بدل کړم او د هر يوه په ملا
باندِ به شيړيځ پورته کړم او د هر يوه د سر به ګنجيځ او زه به
داسي وير وګرزوم لکه چه په يو ځړي ځوي کيږي او د هغه آخر
به د ترخي ورځي په شان وي
۱۱ ۱۱ ګوريځ هغه ورځي راځي خاوند يَهُوَه فرمايي چه زه به په
هغه ملک کښي قحط واچوم نو هغه نه د ډوډيځ او نه د اوبو د
تندي قحط بلکه داسي قحط چه د خداوند د خبري آوريدلو وي -
۱۲ ۱۲ نو دوي به له قعرِ درياب تر قعرِ درياب پوري او له قطب تر
مشرق پوري للوان ګرزي د خداوند د کلام د لټولو دپاره مګر نه به
۱۳ ئي مومي ۱۳ او هغه ورځ به بښاستهٔ پيغلي او ځوانان د تندي له
۱۴ سبب بيهوښ شي ۱۴ هغه خلق چه د سمرون په ګناه قسم خوري او وايي
چه اي دان ستا د خداي په ژوند قسم دي او هغه چه د بيرسبع د لاري
په ژوند قسم خوري و به پرزي او بيا به هرګز پورته نه شي +

نهم باب

۱ آ ما خاوند د مذبح څنګه ولاړ وليد او وئ فرمايل د ستنيو څنګي

ووهه چه استاني وخوځيږي هو هغه مات کړه چه دَ ټولو په
سرونو ولګيږي او زه به دَ هغو آخر په توره قتل کړم له دوي
نه هغوي چه وتښتي نو په تيښتنه به و نه وزي او چه له دوي نه
خلاصون موني خلاص به نه شي : اګر که دوي په دوزخ کښ کنډر ۲
وکني نو هم ځما لاس به يُ له هغه ځاي نه راونيسي او که په آسمان
وخيژي نو زه به يُ له هغه ځاي نه راکوز کړم : اګر که هغوي دَ ۳
کرمل په سر خپل ځانونه پټ کړي نو زه به يُ ولټوم له هغه ځايه
به ئي راونيسم او که دَ قعرِ درياب په تلي کښ ځما له نظر نه پټ
شي نو زه به هلته مار ته حکم ورکړم او هغه به يُ وچيچي : او ۴
اګر که دوي بنديان شي دَ خپلو دښمنانو دَ وړاندِ ورشي نو هلته
کښ به توري ته حکم ورکړم او دوي به مړه کړي هو زه به په دوي
سترګي ولګوم دَ بدي او نه دَ نيکي دَپاره : ځکه چه خاوند يَهُوَه دَ ۵
لښکرو هغه دَي چه زمکه مسه کوي او دغه ويلي کيږي او دَ هغي
ټول اوسيدونکي به وِير وکړي او هغه به دَ نيل دَ سيلاب په دود
پوره وخيژي او لکه دَ مصر درياب کوز به شي : دا هغه دَي ۶
چه په آسمان باندِ خپلي بالاخالي بنا کوي او په زمکي باندِ دَ خپلو
قبه ودروي هغه چه دَ قعرِ درياب اوبه رابولي او دَ زمکي په
مخ يُ تويوي دَ هغه نوم يَهُوَه دي : اي بني اسرائيلو تاسو ځما دَ ۷
وړاندِ دَ کوش دَ اولاد په شان نه يُ څه ؟ خداوند فرمايي
ما اسرائيل دَ مصر له زمکي او فلستيان له کفتور او اراميان له
قير را پورته کړي نه دي څه ؟ : ګوريُ دَ خاوند يَهُوَه سترګي په ۸
ګنهګار مملکت دي او زه به هغه له روي زمين نيست او نابود
کړم مګر دَ يعقوب ټبر به بيخي نابود نه کړم خداوند فرمايي : ګوريُ ۹
زه به حکم وکړم او دَ اسرائيل ټبر به دَ ټول قومونو په منځ کښ
لکه چه په پرويزي کښ چنړوي و به يُ چنړوم نو هم يوه دانه به

۱۰ په زمکه پرې نه وزي ۱۰ خما دَ اُمّت ټول گنهګاران چه وائي چه آفت به
نه له وروستو تر مونږ راشي او نه به له وړاندې په مونږ پرېوزي په
توري به قتل شي
۱۱ ۱۱ زه به په هغه ورځ دَ داؤد نړېدلې جونګړه ودروم او دَ
هغه سورې به بند کړم او زه به دَ هغه ډېرې ودروم او هغه
۱۲ به دَ وړاندنيو ورځو په شان بنا کړم ۱۲ تا چه دوي دَ آدوم باقيه او
غير قومونه چه خما په نوم بللي شي په خپل ميراث واخلي خداوند
۱۳ چه دي کار کونکي دَي فرمائي ۱۳ ګورئ هغه ورځې راځي خداوند
فرمائي چه يويه کونکي به په لو کونکيو او دَ انګورو مړوونکي به په تخم
کرونکي نژدې راشي او له ټولو غرونو به نوي شراب وڅاځي او ټولي
۱۴ غونډئ به ويلي شي ۱۴ او زه به دَ خپل اُمّت اسرائيل بنديواني
بېرته راولم او دوي به ويجاړ ښهرونه بنا کړي او په هغو کښې
به استوګنه کوي او تاکستانونه به ولګوي او دَ دغو شراب به څښي
۱۵ دوي به باغونه جوړ کړي او ميوه به ئې خوري ۱۵ چه زه به دوي دَ دوي
په زمکو ولګوم او دوي به له خپلې زمکې چه ما ورکړې دَه هيڅ کله
و نه کښلې شي خداوند ستا الله فرمائي ❊

دَ عوبدیاهِ نبي کتاب

اول باب

١ ١ رؤیا دَ عوبدیاه خاوند یهوه دَ ادوم په باب داسي وایي مونږ دَ
خداوند له طرفه یو خبر واوریده او دَ قومونو په مینځ کښ رسول واستولي
٢ دَي پورته شئِ او مونږ دِ په هغه جنګ له پورته شُو ٢ ګوره ما ته دَ
٣ غیر قومونو په مینځ کښ وړوکي وګرزولي ته ډیر سپک یي ٣ نه
ستا دَ زړه کبرجنِي وغولولي اي دَ کمرو په چودو کښ اوسیدونکيَ ستا دَ
تکیه‌ګاه اوچتوالي چه په خپل زړه کښ وایي چه ما به څوک زمکي ته را
٤ کوز کړي ٤ که ته دَ قچیر په شان اوچت یي او که ستا ځاله دَ ستورو
په مینځ کښ ایښي شوي ده نو زه به دِ له هلته نه راکوز کړم خداوند وایي
٥ ٥ که تا ته غلهٔ درشي یا دَ شپي لوټونکي ـ ته څرنګ پرېکړي یي نو خپل
کفایت به غلا نه کړي څه ؟ که تا ته ځندونکي درشي نو څه انګولي به پرېږي
٦ نه بېدي څه ؟ ٦ عیسو څرنګ ولټولي شه او دَده خزانې تلاش کړي شوي ـ
٧ ٧ ستا دَ وعدي ټول کسانو ته سرحدونو ته وشړلي او ستا دَ سلامتي
کسانو وغولولي او غلبه ئي درباندِ وکړه ستا دَ ډوډئ کسانو تر تا لاندِ
٨ دام کیښود په هغه کښ فهم نشته ٨ نو زه به په هغي ورځي حکیمان له
٩ آدوم نه او فهم دَ عیسو له غره نه نابود نه کړم څه ؟ ٩ نو ستا بهادران
به ولړزیږي اي تیمانه تاچه هر یو دَ عیسو له غره نه په قتل سره
١٠ پرېکړي شي ١٠ ستا دَ ظلم په سبب یعقوب ورور لره شرمندګي به دِ
١١ پټ کړي او تر ابده به دِ پرېکړي شي ١١ هغه ورځ چه ته دَ هغه په
مقابله ودریدلي هغه ورځ چه بیګانهٔو دَده مال اخست او بیګانه
دده دروازي ته ننوتل او په اورشلیم ئي هسک اچاوه نو ته هم لکه
١٢ یو له هغو وي ١٢ او نه دِ دَ خپل ورور ورځي ته دده دَ جلاوطني په

ورځ نظر ونه کړي اوته دِ دَ يهوداه په زامنو دَدوي دَ هلاکت په ورځ
۱۲ خاموش نه شي اوته دِ دَ تنګسي په ورځ خوله وير نه کړي ۱۳ اوته
دِ خما دَ اُمّت دروازي ته دَده دَ آفت په ورځ کښ ننه نه وزي اوته
دِ دَده دَ مصيبت په ورځ نظر هم ورته ونه کړي اونه دِ دَ آفت په
۱۴ ورځ دَده مال ته لاس اوږد کړي ۱۴ اوته دِ په چارسو ونه دريږي تا
چه دَده تښتيدنکي پريکړي اوته دِ دده باقيه دَ تنګسي په ورځ ونه
۱۵ سپاري ۱۵ ځکه چه دَ خداوند ورځ په ټولو قومونو نژدي دَه لکه چه
تا وکړه په تا به هم وکړي شي ستا عمل به ستا په سر دروګرزي
۱۶ ۱۶ لکه چه تا خما په پاک غره وڅښل هسي به ټول قومونه وڅښي
تل ترتله هو وبه څښي او وبه کوټي او دوي به داسي وشي لکه چه
۱۷ نه وِي ۱۷ او دَ صيحون په غره به خلاص شوي وِي او هغه به
مقدّس وِي او دَ يعقوب کور به دَدوي دَ ميراث وارث شي-
۱۸ ۱۸ او دَ يعقوب کور به اور شي او دَ يوسف کور به لنبه او دَ
عيسو کور خس نو دوي په هغوي به بل کړي او هغوي به
ونغري او دَ عيسو له کورَ به باقيه نه وِي ځکه چه خداوند خبره
۱۹ کړي دَه ۱۹ او اهلِ جنوب به دَ عيسو دَ غره وارث شي او کورتني
به دَ فلسطينيانو او دَ افرائيم دَ ملکونو وارثان به شي او دَ
۲۰ سامريَ دَ ورشو او بنيامين دَ جلعاد ۲۰ او بنديان دَ دغه لښکر
دَ بني اسرائيل دِي چه په کنعانيانو کښ دي ځارفت او بنديان
دَ اورشليم چه په سفارد کښ دِي دَ جنوب دَ ښهرونو وارثان به
۲۱ شي ۲۱ او خلاصونکي به دَ صيحون په غره وخيژي تاچه دَ عيسو
غر عدالت کړي او بادشاهي به دَ خداوند وِي *

دَ یونس نبِي کتاب

اول باب

آ او دَ خداوند کلام یونَس ځوي دَ اَمِتي ته ورسیده او وُ ئي ویل ۱
۲ چه پورته شه هغه لوي ښهر نینوه ته ورشه او دَ هغه په ۲
مخالفت کښې منادِي وکړه ځکه چه دَ هغو شرارت ځما دَ وړاندِ پورته
راغي ۳ لیکن یونَس دَ خداوند له حضور نه و ترسیس ته دَ تښتېدلو ۳
دَپارَ پورته شه او دَي په یافا کښې کوز شه او هلته کښې يُ یو
جهاز چه ترسیس ته تلونکي وه بیاموند نو دَ هغه کرایه ئي ورکړه
پرې کوز شه تا چه دَ خداوند له حضور نه و ترسیس ته له هغوي
سره لاړ شي
۴ لیکن خداوند په دریاب باندِ یو سخت باد تیل واهه ۴
او دَ دریاب په منځ کښې لوي طوفان وشه داسې چه ګمان وُه چه
جهاز به مات شي ۵ نو ملاحان په ویره کښې شول او هر یوه خپل ۵
خداي ته ورناري کړې او هغه جنسونه چه په جهاز کښې وُو په
دریاب کښې ئي وغورزول چه په دي طور ئي سپک کړي لیکن یونس
دَ جهاز دننه کوز لاړ پروت وه او درند اوده وه ۶ نو ناوخدا ورغي ۶
او ورته ئي وویل چه دا څه چل دَي اي خریدنګيَ پورته شه خپل
خداي ته ناري کړه که داسې وشي چه الله مونږ په یاد کړي چه هلاک
نه شو ۷ او هر سړي خپل ملګري ته وَوِ چه راشئ مونږ به هِسک ۷
واچوُو چه معلوم کړو چه دَ چا په سبب په مونږ دا بلا راغله نو
هغوي هِسک واچاوه او هِسک په یونس پریووت ۸ پس هغوي ورته ۸
ووِ چه ته مونږ ته راوښیه دَ چا په سبب دا بلا په مونږ راغله ستا
څه کسب دَي او ته له کومه راغلي يې ستا ملک کوم دَي او ته دَ

٩ کوم قوم يي ٩ ده هغوي ته ووِ چه زه عبراني يم او له يهـواه دَ آسمان
١٠ له الله نه چه درياب اوخشکي ئي پيدا کړي دِي په ويري کښې يم ١٠ پس
هغه خلق بيحده ووېريدل او ده ته ئي وويل چه تا دا ولي وکړل ځکه
چه هغوي معلوم کړي وُو چه دَي دَ خداوند له حضور نه تښتيدلي
١١ دَي ځکه چه ده پخپله هغوي ته ويلي وُو ١١ نو هغوي ورته و ويل
چه مونږ له تا سره څه وکړُو چه درياب را نه تم شي ځکه چه درياب
١٢ نور زيات طوفاني کيده ١٢ نو ده ورته وُوِ چه تاسي ما واخليِ په
درياب کښې مِ واچويِ نو به له تاسي نه درياب تم شي ځکه چه زه
١٣ پوهيږم چه دا لويه طوفان ځما په سبب په تاسو نازل شو ١٣ په دي
هم هغو کسانو په ځاپو وهلو کښې ډيرښت وکړ چه وچي ته وګرزويِ
ليکن دوي کولي نه شول ځکه چه درياب دَدوي په مخالفت کښې نور
١٤ هم زيات طوفاني کيده ١٤ پس دوي خداوند ته ناري کړي و ئي ويل
چه اي خداوندَ مونږ تاته زاري کوُو چه مونږ دِ دَدي سړي دَ ځان
په سبب هلاک نه شُو او ناحق خون ځمونږ په غاړه مه غورزوه ځکه
اي خداوندَ ته هر هغه څه چه تا خوښ کړي دِي هغه دِ کړِي دِي
١٥ او هغوي يونس واخست او په درياب کښې ئي وغورزاوه او درياب
١٦ له خپلي مستيِ نه ودريده ١٦ نو هغه کسان له خداوند نه ډير ډير
ووېريدل او دَ خداوند ته ئي يوه ذبحه ذبح کړه او نذرونه ئي ومنل
١٧ ١٧ ليکن خداوند يو لوي ماهِي مقرّر کړي وُه چه يونس ونغرِي او
يونس دري ورځي اودري شپي دَ ماهِي په ګيډي کښې وه ✢

دويم باب

١ ١ نو يونس دَ ماهِي له ګيډي نه له خداوند الله خپل نه دُعا وغوښته
او و ئي ويل

٢ چه ما پخپل غم کښې خداوند ته وباله	او ده ځواب راکړ
	ما دَ ګورهنډي له ننه ناره وکړه

او تا خما آواز واوریده
۳ خکه چه هم تا زه په ژوري کښې
دَ دریابونو په منځ کښې وغورزولم
او دَ اوبو دارو ګېر کړلم
او ستا ټول موجونه او څپې په ما
باندِ تېر شول
۴ نو ما وویل چه زه ستا دَ سترګو
له وړاندِ وغورزولي شولم
نو هم ستا دَ مقدس هیکل په
لوري به بیا نظر وکړم
۵ زه اوبو تر ځان پوري ګیر کړم
او ژوره رانه چاپیره شوه
او دَ دریاب وابنه مِ په سر باندِ
ونغښتلي شول
۶ او زه دَ غرونو تر بیخونو پوري کوز
شولم
دَ زمکي اړنګو په ما باندِ مدام (اوسي)
مګر اي خداوندَ خما الله تا خما ژوند
لره له سخاوالي را وخېژاوه
۷ هرکله چه خما زړه په ما کښې ضعیف
شه نو ما خداوند په یاد کړ
او خما دُعا ستا په مقدس هیکل
کښې تر تا پوري ورو رسیده
۸ هغوي چه دروغ بطلانونه مني
خپل نعمتونه پرېږدي
۹ لیکن زه به دَ شکرګذاري په آواز
سره ستا دَ وړاندي قرباني
تېره کړم
زه به خپل نذرونه ادا
کړم
خلاصون له خداوندَ دَي

۱۰ او خداوند ماهي ته وویل او دغه یونس په وچي باندِ وچاریوست *

درېم باب

۱ آ او دَ خداوند کلام دویم وار یونس ته ورسید او وئي ویل چه
۲ ۲ پورته شه هغه لوي بنهر نینوه ته ورشه او هلته کښې هغه
۳ خبره ورته وکړه چه زه ئي درته وکړم ۳ نو یونس دَ خداوند دَ کلام
په موافق پورته شه نینوه ته لاړ شه او نینوه دَ الله په نزد یو لوي
۴ بنهر وَه چه دَ هغه چاپېره دَ دریو ورځو لار وه ۴ او یونس بنهر په
ننوتلو سر شه دَ یوي ورځي لار او منادي ئي وکړه او وئي ویل
۵ چه پس له څلوېښتو ورځو به نینوي وارولي شي ۵ نو دَ نینوه اوسیدونکو

په الله ایمان راوړ او دَ روژي سنادِي ئي وکړه او ټولو خلقو که واړه
۶ وُو که لوي وُو شیړيَ ئي واغوستي ۶ او دا خبره دَ نینوه بادشاه ته
ورسیده او هغه له خپل تخت نه پورته شه او بادشاهي جامه
۷ ئي وویستله او شیړي ئي واغوستله په ایرو باندِ کښیناست ۷ او دَ
بادشاه او دَ ارکانِ دولت په حکم په نینوه کښ یو اشتهار او فرمان
جارِي واهه و ئي ویل چه هیڅ سړي او حیوانان کله یا رمه هیڅ څیز
۸ دِ نه څکي نه دِ خوړي او نه دِ اوبه څښي ۸ لیکن سړي او حیوانان دِ
په شیړيَ پټ وِي او الله ته دِ په زور سره ناره وکړي هرڅوک دِ له
خپلي بدي لاري او له خپل ظلم نه چه دَدوي په لاسونو کښ دَي
۹ پسته راشي ۹ څوک پوهیږي چه الله به وګرزي او پښیمان به شي او
۱۰ له خپلَ سخته قهرَ په بیرته راشي تاچه مونږ هلاک نه شو ۱۰ او
الله دَ هغو کارونه ولیدل چه دوي له خپلو بدو لارو را وګرزیدل
نو الله له هغي بدي نه چه هغه ویلي وه چه زه به له هغو سره
وکړم پښیمان شه او ده و ئي نه کړه ۞

څلورم باب

۱ ۱ مګر یونس دیر خپه شه او سخت غصه شه ۲ او دَ خداوند دَ وړاندِ
ئي دُعا وکړه او و ئي ویل اي خداوندَ زه تا ته عرض کوم دا څما خبره
نه وه څه ؟ هغه وقت چه زه لا په وطن کښ وم دي دَپارَ زه په بیړه
سره و ترسیس ته و تښتیدم څکه چه زه پوهیدلم چه ته زړه سوان
او رحیم الله يي چه په غصي کولو صابر او دیر مهربان يي او په بدِي
۳ ارمان کوونکي ۳ اي خداوندَ اوس څماځان له ما نه واخله که نه څکه چه
څما مړیدلَ څما له ژوند نه غوره دَي
۴ ۴ نو الله و فرمائیل چه ته ښه کوي چه غصه شوي څه ؟
۵ ۵ او یونس له ښهرَ ووت دَ ښهر دَ مشرق په لورِي کښیناست
او هلته کښ ئي دَ ځان دَپارَ یوه جونګړه جوړه کړه او تر هغي دَ لاندِي

په سیوري کښې کښېناست چه وګوري چه په ښهر باندې څه کیږي ٦ ٦
نو خداوند الله (یوه ونه) دَ توريځ سازه کړه او هغه ئې په یونس
باندې هسکه کړه چه دده په سر باندې سوري وي او له بدحالي نه ئې
خلاص کړي او یونس دَ هغي توري (دَ ونې) په سبب ډېر خوښ شه -
٧ لیکن بله ورځ دَ صباح په وقت الله یو چنجي طیار کړ او هغه ٧
دَ توري (ونه) لې ووهله په هسې شان چه وچه شوه ٨ او چه نمر ٨
وخوت نو داسي وشول چه الله مشرق ګرم باد تیار کړ او دَ یونس
په سر باندې نمر اثر وکړ او بیخوده شه او دَ خپل ځان دَپارَ ئې مرګ
وغوښت او وئې ویل چه له دغه ژوند نه مې مرګ غوره دَي ٩ او ٩
الله یونس ته وویل چه ته دَ دغي توري (دَ ونې) په سبب ښه کوي چه
غصه شوی څه ؟ ده ویل چه زه ښه کوم چه غصه شوم او مرګ
غواړم ١٠ نو خداوند وفرمائل چه تا دَ هغي توري (په ونې) شفقت کړي ١٠
دَي چه دَ هغې دَپارَ دې هیڅ محنت کړي نه دَي او نه دې هغه لویه
کړي ده چه هم په یوي شپې کښې زرغونه شوه او هم په شپې کښې
وچه شوه او کنړه په ما باندې لازم نه دَي څه ؟ چه زه په دومره
لوي ښهر نینوه باندې شفقت ونه کړم چه په دغه کښې له یو لاکه
شل زره سرپو زیات دي چه پخپل ښي او کینړ لاس کښې تمیز
کولي نه شي او څناور هم ډیر دي ❊

دَ ميکاه نبي کتاب

اول باب

١ آ دَ خداوند کلام چه دَ يهوداه دَ بادشاهانو يوتام او آخز او حزقياه په
ورځو کښې مورستې ميکاه ته و رسيده چه ده دَ سمرون او دَ اورشليم په باب
٢ وليد ٢ واورئ اي ټولو خلقو او غوږ کيږده اي زمکې ته او ستا ډکوالي او
خاوند يهوه هو خاوند دِ له خپل مقدس هيکل نه په تاسي شاهد ي
٣ ولي ٣ ځکه ګوره خداوند له خپل ځاي نه باهر راووزي او دي را
٤ کوزيږي او دَ زمکې اوچت مکانونه پايمال کوي ٤ او ټول غرونه تر
هغه دَ لاند ويلي کيږي اوخوړي څيري کيږي لکه چه موم دَ اور له
٥ مخ نه او لکه توي شوي اوبه په ژور ٥ دا ټول دَ يعقوب دَ تقصير
او دَ اسرائيل دَ ګناه په سبب شوي دي دَ يعقوب تقصير څه ده
سمرون نه دي څه؟ او دَ يهوداه اوچت مکانونه څه دي اورشليم نه
٦ دي څه ؟ ٦ دي دَپاره به زه سمرون دَ پټي دَ ټوټي او دَ انګورو دَ
باغ دَ لګولو ځاي جوړ کړم او زه به دَ هغه کاڼي خوړي ته و رغړوم
٧ او دَ هغه بنيادونه به لوڅ کړم ٧ او دَ هغې ټول کنودلي صورتونه به
ريزه ريزه کړي شي او دَ هغه خرڅې په اور به و سيځولي شي او زه به
دَ هغو ټول بتان خراب کړم ځکه چه ده دا هر څه دَ بوي کسبي
په خرڅې سره ګټلي دي او هغه به دَ بوي کسبي خرڅې ته ور وګرزي
٨ ٨ دي دَپارَ به زه زګيروَي او هَي هَي وکړم زه به بيله او لغړ ګرزم
زه به دَ ګيدړو په دود انګولا کوم او شتر مرغانو په شان به زګيروَي
کوم ځکه چه دَ هغې زخمونه لاشفا دي نو هغه تر يهوداه پورې هم راغله
١٠ هغې ځما دَ خلقو تر دروازې پورې هو تر اورشليم و رسيده ١٠ تاسو
په جات کښې دَ هغه خبر مه ورکوئ او په ژاړه مه ژاړئ زه په

۱۱ بیتِ‌عفرهِ کښې په خاورو غړېدلي يم ۱۱ اي دَ سفیر اوسیدونکي تـه
برمنډه او شرمنده لاړه شه هغه چه په زانان کښې اوسیدونکي وه
۱۲ نه ووتله دَ بیتِ‌ایضل ژړیږي له تاسو نه مقام اخلي ۱۲ دَ ماروت اوسیدونکي
دَ ښیګړې دَپارَ رنځوره شوي ده ځکه چه دَ خداوند له طرف نه بلا نازله
۱۳ شوه چه دَ اورشلیم تر دروازې ورسیده ۱۳ اي دَ لکیس اوسیدونکي په
بادپایَ آس ګاډيِ وتړه هغه دَ صیحون دَ لور دَپارَ ورومبي ګناه شوه
۱۴ ځکه چه دَ اسرائیل تقصیرونه په تا کښې بیاموندَه شوي دِي ۱۴ دي دَپارَ
به ته مورست‌جات ته حصّه ورکړې دَ اکذیب ټبر به اسرائیل له
۱۵ بادشاهانو لره کذب شِي ۱۵ بلکه اي دَ مرشیه اوسیدونکي زه به
هغه چه ستا وارث دَي تا لره راولم هغه چه دَ اسرائیل جلال دَي
۱۶ تر عدولام پورې به راشي ۱۶ خپل (سر) ګنجي کړه دَ خپلو ګرانو
هلکانو دَپارَ خپل سر وخریه دَ ګرُبت په دود خپل ګنج زیات
کړه ځکه چه هغوي له تا نه په بند لاړل ✣

دویم باب

۱ آهي‌هَي په هغو باندِ چه دَ بطلان خیالونه کوِي او په خپلي بچاونړي باندِ
دَ شرارتونه کوِي چه صباح رڼا شِي دوي دغه په عمل راوړِي ځکه چه
۲ هغه دَدوي دَ قدرت په لاس کښې دَي ۲ هغوي دَ پټو حرص کوِي
او په ظلم سره ئي اخلِي او دَ کورونو هم او هغوي رانیسِي هم داسي
په میره باندِ او دَده په کور باندِ هو په سړِي باندِ او دَ هغه په
۳ میراث باندِ ظلم کوِي ۳ دي دَپارَ خداوند داسي وايِي ګوره زه دَدي ټبر په
مخالفت کښې یو خیال کوم چه له هغه بلا نه به تاسي خپلي غاړي خلاصه
نه کړي شئِ او تاسي به له کبرجني سره لاړ نه شئِ ځکه چه دا بد وقت دَي
۴ ۴ هغه وقت به ځوک سړَي په تا باندِ یو متل راوړِي او په یوه غمجن
وِیر سره به وِیر وکړِي او و به وايِي چه مونږ بالکلّ لوټ شولو هغه
ځمونږ دَ خلقو بخره بدله کړه هغه څله له ما نه بیله کوِي هغه ځمونږ پټي

چا مرتد ته ور ویشِي ۵ دي دَپارَ به له تاسو نه هیڅوک پاتي نه شِي چه ۵
دَ خداوند په جماعت کښ هسک اچوِي ۶ (دوي هغوي ته چه) نبوّت کوِي ۶
(واِيِ) چه نبوّت مه کوئِ نبوّت به نه وکړِي دوي ته دَ هغو رسوائِي به
و نه گرزِي ۷ اي تاسو چه دَ یعقوب ټبر يئ و به ویلي شِي دَ خداوند ۷
روح تنگ کړي شه څه ؟ دا کارونه دَده دِي ځما خبري دَ هغه دَپارَ
چه سم چلیږِي نیکِي نه رسوِي څه ؟ ۸ پروڼ ځما خلق دَ دښمن په دود ۸
پورته کیدل تاسو له هغونه چه په آرام سره چلیږِي اوچه له جنگ نه
پستنه راگرزِي قبا له څادر سره و باسیِٔ ۹ تاسو ځما دَ اُمّت ښځي دَدوي ۹
له ښائسته کورونو باسیِٔ او تاسو دَ هغو دَ اولاد نه دَ همیشه دَپارَ ځما
جلال اخلِئ ۱۰ تاسو پورته شئِ اولاړ شئِ ځکه چه دا ستاسو دَ آرام ځاي نه ۱۰
دَي دَ هغي ناپاکِي په سبب چه هلاکت کوِي هو سخت هلاکت سره ۱۱ که څوک ۱۱
سړي دَ هوا او دَ دروغو پیروِي وکړِي ووايِي چه زه به تا ته دَ شرابو او دَ
نشي په باب نبوّت وکړم نو هم هغه سړِي به دَدي قوم نبِي وي
۱۲ اي یعقوب زه به په یقین سره ستا ټول واړه جمع کړم زه ۱۲
به په یقین سره دَ اسرائیل باقیه جمع کړم زه به هغو دَ هغو گډو
په شان چه په بصره کښ دِي او دَ هغي رمي په دود چه دَ هغي
دَ څراگاه په منځ کښ وِي یو ځاي کړم دَ ډیرو سړیو په سبب هغوي
به شورماشور وکړِي ۱۳ پریکونکي دَ هغو دَ وړاندِ وړاندِ درومِي هغوي ۱۳
پریکول کوِي تر دروازي پوري تیریږِي او له هغي نه ووزِي او دَ هغو
بادشاه دَ هغوي وړاندِ وړاندِ درومِي هو خداوند دَ هغو سر دَي ✤

دریم باب

۱ او ما وُوِ چه اي دَ یعقوب سردارانو او دَ اسرائیل دَ ټبر قاضیانو واورِئ ۱
که نه ستاسو دَپارَ دَ عدالت پیژاندل لازم نه دِي څه ؟ ۲ تاسو هغه يئِ چه ۲
دَ نیکِي سره کینه لرِي او په بدِي مینه کوِي چه دَ خلقو پوستونه ورنه کاږِي
او دَ هغو له هډوکیو غوښي ۳ او چه ځما دَ اُمّت غوښي خورِي او څرمني ئي ۳

ورنه باسي او هډونه ئې ماتوي او ټوکړې ټوکړې کوي کوياکه هغوي دَ
۴ کټوئِ دَپارَ او کوياکه لکه غوښې چه دَ دیګ په منځ کښې وي ۴ نو به
دوي خداوند ته ناري وکړي مګر دي به ځواب ورنه کړي هو دَي به هغه
وقت خپل مخ ورنه پټ کړي ځکه چه هغوي خپل عملونه بد کړل
۵ ۵ خداوند دَ هغو نبيانو په حق کښې چه ځما اُمت ګمراه کوي او
چه پخپلو غاښونو ئې چيچي او دَ سلامتي ناري وهي او دَ هغه سړه چه
دَدوي په خولو کښې څه نه اچوي دَ هغه په مخالفت وجنګيدلو ته طيار
۶ دي داسي فرمايي ۶ دي دَپارَ به په تاسي شپه شي چه په هغې کښې به
ستاسي رؤيا نه وي او به تاسي به تاريکي وي چه دَ هغه په سبب به
تاسي دَ غيب پيژاندل و نه کړئِ او په نبيانو به نمر ډوب شي او په هغو
۷ باندِ به ورځ تورتم شي ۷ نو به رؤيا ليدونکي پښيمان شي او غيب
پيژاندونکي به شرمنده شي هو ټول خلق به خپلي شونډي پټي کړي ځکه چه دَ
۸ الله له طرفه هيڅ ځواب نشته ۸ مګر زه دَخداوند دَ روح په سبب له قوت او
له انصاف نه او له قدرتَ ډک يم تاچه يعقوب لره دَده تقصير او اسرائيل
۹ لره ئې خطا ورو ښيم ۹ اي دَ يعقوب دَ ټبر سردارانو او اي دَ اسرائيل دَ کور
قاضيانو واوريئِ که نه تاسوچه له عدالت سره نفرت لرئِ او ټوله راستئِ کږي
۱۰ لري ۱۰ تاسو صيحون په خونريزي سره او اورشليم په بديئِ سره بنا کوئِ
۱۱ ۱۱ دَده سرداران په رشوت سره عدالت کوي او دَده کاهنان په اجرت
سره تعليم ورکوي او دَ هغه نبيان دَ نقدو دَپارَ غيب ويل کوي په
دي هم په خداوند تکيه کوي او وايي چه خداوند ځمونږ په منځ کښې نه
۱۲ دَي څه ؟ هيڅ بلا به په مونږ را نه شي ۱۲ له دي سببَ به صيحون هم
ستاسي په سبب دَ پټي په دود يوبه کړي شي او اورشليم به تودي تودي
شي او دَ هيکل غر به دَ ځنګل دَ اوچتو مکانونو په شان شي *

څلورم باب

۱ ۱ مګر په آخرو ورځو کښې به داسي وشي چه دَ خداوند دَ کور غر به دَ

غرونو په څوکِي باندِ وِدراوه شِي او له ټولو غونډیو به اوچت کړي شِي او
امتونه به ورو بهیږِي
۲ او ډیر خلق به راشِي او وبه وايِي چه راځِئ چه مونږ دَ خداوند ۲
په غره او دَ یعقوب دَ الله کور ته وخیژو او دَي به مونږ ته خپلي لاري
راوښیِي او مونږ به دَده په لارو لاړ شُو ځکه چه تورَیت به له صیحونَ
او دَخداوند کلام به له اورشلیمَ راووزِي ۳ او دي به دَ ډیرو خلقو په منځ کښ ۳
عدالت وکړِي او ډیر زورآور قومونه به چه لري اوسِي وترټِي او هغوي
به له خپلو تورو سسپارونه وتکوِي او له خپلو برچو به لرونه: یو قوم به
په بل قوم باندِ توره نه پورته کوِي او بیا به دَجنګ تعلیم ونه کړِي ۴ نو ۴
دوِي به هریو سرِي ترخپل خپل تاک دَ لاندِ او دَ انځیر ترونِي دَ
لاندِ کښیني او هیڅوک به ئي نه ډاروِي ځکه چه دا دَ لښکرو دَ رب خولي
فرمایلِي دِي ۵ ځکه چه ټول قومونه به هریو دَخپل خپل خداي په نوم ۵
درومِي مګر مونږ به دَ خداوند خپل الله په نوم مدام درومو
۶ خداوند فرمايِي چه زه به په هغي ورځي کښ هغوي چه مانده شوِي دِي ۶
جمع کړم او هغوي چه یستلِي شوِي دِي ونیسم او هغوي چه ما آزارولِي دِي-
۷ اوزه به هغه چه مانده شوله یوه بقیّه به ئي کړم او هغه چه تر لري ۷
پورِي پراګنده کړِي شوي وَه یو زوراور قوم به ئي جوړ کړم او خداوند به دَ
صیحونَ په غره باندِ له اوس نه تر ابدالآباد پورِي په هغو سلطنت کوِي
۸ او ته به اي دَ رمِي برجَ او دَ صیحونَ دَ لور غونډئِ په تا ۸
باندِ به دا راشِي یعني وړاندنَي بادشاهت هو دَ اورشلیم دَ لور بادشاهت
به بیا راشِي ۹ اوس ته ولي په زور سره ناري وهي په تا کښ هیڅ ۹
بادشاه نشته څه ؟ ستا صلاح کار ورک شوي دَي څه ؟ چه ته دَ
لنګیدونِي ښځي په دود دردونو ونیولي ۱۰ دردمنه شه او دَ لنګیدونِي ۱۰
ښځي په شان زور وکړه اي دَ صیحونَ لورِي ځکه چه اوس به ته له
ښهرَ باهر ووزِي او په میدان کښ به اوسِي او تر بابلَ پورِي به

راشي هم هلته کښې به خلاصون مومي هلته کښې به دِ خداوند
ستا دَ دښمنانو له لاسَ خلاصه کړي
١١ ١١ او اوس ډیر قومونه ستا په خلاف جمعَ شوي دِي او وايي چه
١٢ هغه دِ ناپاکه کړي شي مونږ دِ په خپلو سترګو صیحون ووینو ١٢ مګر
هغوي دَ خداوند له خیالونو نه آګاه نه دِي او دَده ارادي نه پیژني
ځکه چه ده هغوي دَ ګیډیو په شان درمند ته جمعَ کړي دِي -
١٣ ١٣ اي دَ صیحون لوري پورته شه غوبل وکړه ځکه چه زه به ستا
ښکرونه اوسپنه او ستا سُمونه زیړجوړ کړم او ته به ډیر قومونه
ټکړي ټکړي مات کړي او ته به دَ هغو ذخیري دَ خداوند نذر کړي
او دَ هغو مالونه به هغه ته چه دَ ټولي زمکي خاوند دِي ÷

پنځم باب

١ ١ اي دَ فوځونو لوري ته اوس دَ فوځونو په صفونو جمعَ شه هغه په مونږ
قلابند مورچه بندي کړي دَه هغوي به دَ اسرائیل قاضي په وټ باندِ په
٢ سوټي وهي ٢ مګر ته بیت اللحم افراتاه اګرکه ته دَ یهوداه په زرګونو
کښې وړوکي يي نو هم له تانه به ما ته هغه راوزي چه په اسرائیل
به حاکم وِي او دَ هغه راوتل له قدیم نه هو دَ ازل له ورځو
٣ دِي ٣ دي دَپارَ به هغوي دي ورکړي تر هغه وقت پوري چه هغه
چه زیږونکي زیږولي وِي نو دَ هغه باقِي ورونړه به دَ اسرائیل
اولاد ته بیرته راشِي
٤ ٤ او هغه به ولاړ وِي او دَ خداوند په قدرتَ به دَ خداوند
خپل الله دَ نوم په بزرګي سره څرول کوِي او هغوي به ټینګ اوسِي،
٥ ځکه چه اوس به هغه دَ زمکي تر حدونو پوري بزرګ وِي ٥ او دغه به
سلامتِي وِي او چه اسور څمونږ په زمکي کښې راشِي او څمونږ په
محلونو کښې قدم کیږدِي نو مونږ به اوه شپانه او آته سرداران وډرو
٦ په هغه بانِد وخیژو ٦ او هغوي به په توري سره دَ آسور ملک او دَ

٦ نمرود زمکه دَ هغه په دروازو کښې ویران کړِي او له آسور به خلاصون
وشِي هرکله چه هغه دَ مونږ په زمکه کښې راشِي او دَ مونږ په سرحدونو
٧ کښې قدم کیږدِي ٧ او دَ یعقوب باقیه به دَ ډیرو قومونو په منځ کښې داسې
وِي لکه چه له خداوند نه شبنم او لکه چه باران په وابښو باندِ چه
دَ سړي دَپارَ نه ودریږي او نه دَ بني‌آدم په خاطر تم کیږِي
٨ ٨ او دَ یعقوب باقیه به دَ غیرقومونو دَ ډیرو ټولیو په منځ کښې
داسې وِي لکه زمري دَ ځنګل په ځناورو کښې او لکه ځوان زمري دَ میږو
په رمي کښې وِي هغه که پوري ووځي هغه ئې پایماله کړِي او څیري
٩ کړِي ئې او هیڅوک نشته چه خلاص ئې کړِي ٩ ستا لاس دِ ستا په
١٠ دښمنانو بلند کړي شِي او ستا ټول دښمنان دِ پریکړي شِي ١٠ او هغه
ورځ به داسې وشِي خداوند فرمایي چه زه به ستا اسونه ستا له منځه
١١ پریکړم او ستا ګاډيِ به نیستي کړم ١١ او ستا دَ زمکي ښهرونه به پریکړم
١٢ او ستا ټولي قلاوي به ونړوم ١٢ او ستا دَ لاس جادوګريِ به پریکړم او
١٣ تا ته به بیا فال‌ګیران نه وِي ١٣ او ستا کنډولي صورتونه به او ستا ستني
ستا له منځ به ئې پريکړم او ته به بیا دَ خپل لاس کاریګري ته
١٤ عبادت و نه کړي ١٤ او زه به ستا آشریم ستا له منځ نه وکاږم او
١٥ هم ستا ښهرونه به تباه کړم ١٥ او زه به هم له غصي او له قهر
سره له هغو غیرقومونو چه نه ئې اوریدل بدله واخلم ٭

شپږم باب

١ ١ واوريِ که نه چه خداوند څه وایِي چه پاسه دَ غرونو دَ وړاندِ بحث
٢ وکړه او غونډيِ دِ ستا آواز واوري ٢ اي غرونو او اي دَ زمکي مدامي
بنیادونو دَ خداوند بحث واوريِ ځکه چه دَ خداوند له خپل اُمّت سره
٣ بحث دَي او هغه به دَ اسرائیل سره دعویٰ کړِي ٣ اي زما اُمّت ما
٤ به تا څه کړي دي او په څه مِ مانده کړي يِئ ٤ تو تا ته په ما ګواهي
وله ځکه چه ما تا ته دَ مصر له زمکي راوستلي او دَ غلامِي له کور

نه مې په فديې سره خلاص کړې او ستا دَ وړاندِ مې موسیٰ او هارون او
٥ مريمه واستول ٥ اې ځما اُمت ياد وکړه چه دَ موآب بادشاه بالاق څه
مصلحت وکړ او دَ بعور ځوي بلعم هغه ته څه ځواب ورکړ له شتيم نه تر
٦ جلجال پورې تاچه ته دَ خداوند صداقت وپيژنې ٦ زه له څه سره دَ خداوند
٧ په حضور راشم او دَ الله تعالیٰ ته څرنګ سجده وکړم ٧ سيځونکي قرباني او
يو کالني بنځي واخلم دَده دَ وړاندِ ورشم څه؟ خداوند به په زرګونو مړونو
يا دَ تيلو په لسو زرو ويالو په خوشحاله شي؟ زه به خپل مشر دَ خپلې تقصير
په عوض کښ دَ خپلې ګيډې ميوه دَ خپل ځان دَ خطا په بدلې کښ ورکړم
٨ څه؟ ٨ اې انسانَ ده تا لره هغه ښکاره کړې دي چه ښه دي او خداوند
له تا نه بور څه غواړي مګر داچه ته انصاف کوې او په رحمت مينه کړې او
٩ له خپل الله سره په عاجزي دروځې ٩ دَ خداوند آواز ښهر ته ناري کوي او
هوښياري به ستا نوم وويني تاسو دَ هغه همسا واورئ او هغه چا
چه ئې مقرّر کړې دَي
١٠ ١٠ تر اوسَ دَ شرير په کور کښ دَ شرارت خزانې شته دي او وړوکي ايفه
١١ نفرتي ده ١١ زه چه دَ شرارت له تلې او دَ تکي له کځوړې سره پاک وخيژم څه؟
١٢ ١٢ دي دَپارَ چه دَ هغې دولتمند له ظلمَ ډک دَي او دَ هغې اوسيدونکي دروغ
١٣ وائي بلکه دَ هغو په خولې کښ دَ هغو ژبه تکونکي دَه ١٣ ځکه چه ما ته په لوي زخم
١٤ سره وهلي يي او ستا دَ ګناهونو په سبب مې ويران کړي يي ١٤ ته به وخورې مګر
موړ به نه شې ځکه چه ستا لوږه به ستا په لرمانه کښ وي ته به وړل کوې
مګر خلاص به ئې نه کړې او هغه څه چه ته خلاص کړې زه به ئې توري ته وسپارم
١٥ ١٥ ته به وکرې مګر لو به نه کړې زيتون به ومږې مګر تيل به په ځان و نه لګوې
او ښښتيزلي انګور ليکن شراب به ورنه وڅښې
١٦ ١٦ ځکه چه دَ عمري قانونونه او دَ اخي‌اب دَ کور ټول عملونه
ساتلي شوي دي او تاسو دَ هغو په مصلحتونو چليږئ چه زه دِ ويرانۍ ته ورکړم
او دَ هغه اوسيدونکي سپيلکي ته نو تاسو به ځما دَ اُمت رسوائي واخلئ *

اوم باب

آ هَي هَي په ما بانډِ ښکه چه ځما داسي حال دَي لکه ټولول دَ ميوي دَ اوړي ۱
لکه انړولي دَ انګورو هيڅ ږنګوري نشته چه خوړلي شِي دَ انځير دَ
وړنبئ پخه شوي ميوه ځما ځان غواړِي ۲ ديندار سړِي له ملک ورک ۲
شول او هيڅوک په بني آدم کښ راست نشته هغوي ټول واړه په پټوني کښ
کښيني چه خون وکړِي هرچا جال وغوړاوه خپل ورور ښکلوِي
۳ دوي لاسونه په بدئ بانډِ هسي دِي چه پوره ئي کړي سرداران ۳
اجرت غواړِي او قاضيان هم هغه غواړِي او لوي سړِي دَ خپل زړه دَ
شهوت خبري او هم ټول واړه دَ بدِي اودل کړي ۴ هغوي چه په دوي ۴
کښ له بهترو بهتر دِي دَ کرتومي په دود دِي او هغوي چه لوي
راست دِي دَ اغزيو دَ وياري په شان ستا دَ نګهبانو ورځ هو ستا
دَ بازخواست ورځ راځي اوس به دَ هغو حيراني وِي
۵ تاسو په هيڅ دوست اعتبار مه کوئ په لاري باور بنيونکي مه ۵
لرئ هو ته دَ خپلي خولي دروازه دَ خپلي هم کناري دَ وړاندِ بنده لره -
۶ ځکه چه ځوي دَ خپل پلار سپکه کوِي او لور په خپلي مور خيژي او نږور ۶
په خپلي خواښي اودَ سړِي دښمن هم دَده دَ خپل کور کسان دِي
۷ مګر زه به دَ خپل خداوند لار ګورم او دَ خپل نجات راکونکي الله ۷
انتظار به کوم ځما الله به ځما واورِي
۸ اي ځما دښمنَ په ما بانډِ خوښي مه کوه ځکه چه زه وېرزم نو ۸
به پورته شم چه په تياري کښ کښينم نو خداوند به ځما دَپارَ نور وِي -
۹ زه به دَ خداوند دَ قهر زغم وکړم ځکه چه ما دده ګناه کړي دَه تر دي ۹
حده چه ځما دَپارَ حجّت ثابت کړِي اوځما دَپارَ انصاف وکړِي هغه به مِ
رڼا ته وباسِي او زه به دَده راستبازِي ووينم ۱۰ نو ځما دښمن به هغه ۱۰
حال ووينِي او هغه چه ما ته ئي ويل چه خداوند ستا الله چري دَي

په شرمندګي سره به پټه شي څما سترګي به هغه وویني اوس به هغه دَ
۱۱ کوڅو دَ خټکو په څیر پایمال شي ۱۱ یوه ورځ ستا دَ دیوالونو جوړولو دَپاره ده
۱۲ چه هغه ورځ به حکم لري کړي شي ۱۲ په هغي ورځي کښ به هغوي
له آسورَ او دَ مصر له ښهرونو او له مصرَ تر دریاب پوري او له
قعرِ دریابَ تر قعرِ دریاب پوري او له غره نه تر غره پوري تا ته راشي –
۱۳ ۱۳ سره دَدي دا زمکه به دَ هغه په سبب چه په هغي کښ اوسي او دَ
هغه دَ کارونو دَ میوي په سبب ویرانه پرته وي
۱۴ ۱۴ نه خپل اُمّت په سوټي سره وڅراوه چه ستا دَ میراث رمه
ده او په ځنګل کښ بیله دَ کرمل په منځ کښ اوسي هغه دِ په بسن
۱۵ او په جلعاد کښ دَ وراندنیو ورځو په دود وڅري ۱۵ لکه چه په هغو
ورځو کښ چه ته دَ مصر له زمکي راوتلي وي په هغه شان سره به
هغوي ته خپل عجائبات ورښکاره کړم
۱۶ ۱۶ غیر قومونه به هغه وویني او سره له خپلَ ټولَ قوتَ به
شرمنده شي هغوي به په خپلي خولي لاسونه کیږدي او غوږونه به ئې
۱۷ کاڼه شي ۱۷ هغوي به دَ مار په دود خاوري څټي او دَ زمکي دَ ځخیدنکو
په دود به له خپلو کوڅو په لرزي سره راووځي او دوي به خداوند
څمونږ الله ته په ویره سره راشي هغوي به ستا په سبب و ویریږي
۱۸ ۱۸ څوک ستا په دود الله دَي چه بدکاري معافه کوي او دَ خپل میراث
دَ باقیه له تقصیرونو نه تیریږي دَي خپله غصّه تر همیشه پوري
۱۹ نه ساتي ځکه چه دَي په مهرباني کولو خوشحالیږي ۱۹ هغه به بیا راوګرزي
هغه به په مونږ باندِ رحم وکړي هم دَي به څمونږ ګناهونه ودربي
۲۰ ته به دَ هغو ټولي خطاوي دَ قعرِ دریاب په ژوري کښ وغورزوي ۲۰ ته
به له یعقوب سره وفاداري پوره کړي او له ابراهیم سره هغه مهرباني
چه دَ هغي په باب دِ له قدیم زماني نه څمونږ له پلرونو او نیکو
سره قسم خوړلي وُو ❊

دَ نحوم نبي كتاب

اول باب

١ دَ نينوه په باب الهامي كلام دَ القوشي نحوم دَ رويا كتاب ٢ خداوند ١، ٢
غيور او بدل اخستونكي الله دَي هو خداوند بدل اخستونكَي او
قاهر دَي خداوند له خپلو مخالفانو بدل اخلي او دَ خپلو دښمنانو دَپارَ
قهر ساتلي لري ٣ خداوند په غصي كښ غرڼد مګر په قدرت كښ قوي ٣
دَي او دَي سودام به پاک ګنړل و نه كړي دَ خداوند لار په ګرد باد كښ
او په طوفان كښ ده او وريځي دَ ده دَ پښو دوړي دَي ٤ هم دَي قعر درياب ٤
ترټي او وچ كوي ئي او ټول دريابونه وچوي بسن او كرمل مړاوي كيږي
او دَ لبنان ګلونه مړاوي كيږي ٥ له ده نه غرونه رپيږي او غونډئ ويلي ٥
كيږي او زمكه دده له حضور نه پورته كيږي هو دنيا او هرڅه چه په دي
كښ اوسيږي ٦ دَ هغه دَ غصي دَ وړاندِ څوک ودريدلي شي او دده په توده ٦
قهر كښ څوک تم كيدلي شي دده قهر دَ اور په دود بركيږي او ګمرونه ور نه
نړيږي ٧ خداوند نيک دَي او دَ تنګي په ورځ مضبوطه قلا ده دَي هغوي ٧
چه په ده توكّل لري پيژني ٨ ليكن اوس به دَي دَ هغه مكان په يوه ٨
تيريدنكي سيلاب سره تمام ورک كړي او دده دښمنان به په تاريكي پسي شي
٩ تاسو دَ خداوند په مخالفت كښ څه خيال كوئِ هغه دَ تمام هلاكت ٩
صانع دَي تنګي به دوباره پورته نه شي ١٠ اګر كه هغوي دَ اغزيو په شان ١٠
مروړلي شي او له خپلو شرابو نه شرابي دي ليكن هغوي به دَ وچ خس په
دود بالكل وخوړلي شي ١١ له تا نه يو خيال كونكي دَ بدي په خداوند راولي ١١
دَي چه مكروه مصلحتونه كوي ١٢ خداوند داسي وايي اګر كه دوي صحيح او سلامت ١٢
وي او دوي ډير هم وي په دي به هم دوي پريكړي شي او دي به تير شي سره
ددي چه ماته دَ ربړولي بيا به دِ هيچري و نه ربړوم ١٣ او اوس به ١٣

۱۴ زه دَ هغه تړَغ له تا نه مات کړم او ستا بندونه به وشلوم ۱۴ لیکن خداوند
ستا په حق کښې فرمايلي دِي چه ستا دَ نوم به نور هيڅ و نه کرلي شي زه به
ستا دَ بُتخانې له مينځ نه گنودلي صورتونه او ويلي کړي تشکلونه پريکړم زه به
۱۵ هغه ستا قبر جوړ کړم ځکه چه ته پليت يې ۱۵ گوره په غرونو بانې پښې دِ زيرې
راوړنکي او دَ سلامتي منادِي کونکي اي يهوداه ته خپل عيدونه کوه
او خپل نذرونه ادا کړه ځکه چه پس له دې به شرير ستا په
مينځ کښې نه شي تير هغه بيخي پريکړې دَې ❊

دويم باب

۱ ۱ وښتونکي ستا په مخامخ راختلې دَې ته قلا ساتلي لره او دَ لارې څار
۲ کوه خپله ملا ترلي لره او خپل ځان په ډېر زور سره مضبوط کړه ۲ ځکه
چه خداوند دَ يعقوب دبدبه دَ اسرائيل دَ دبدبه په دود بيا په حال کوي
ځکه خالي کونکيو هغوي خالي کړي دِي او دَ هغو دَ انگورو څانگې ئې بربادې کړي
۳ ۳ دَ هغه دَ پهلوانانو ډال سور کړي شوي دَې جنگي ځوانان په قرمزي پوشاک
کښې دِي گاډيَ دَ هغه دَ طيارۍ په ورځ کښې دَ فولاد له اورسره وِي او
۴ دَ صنوبر برچې به ښورولي شي ۴ په کوڅو کښې به گاډيَ په تندۍ سره زغلي
په چوکونو کښې يو په بله لگيږي هغوي به په نظر کښې دَ مشعلونو
۵ غوندِ وِي هغوي به دَ برېښنا غوندِ ډنگيږي ۵ هغه خپل بهادران په
ياد راوړي هغه په خپلو تلو کښې تيندک خوري دوي دَ هغه په ديوال
۶ بيره کوي او باره تياره کړي شي ۶ د رودونو دروازې پرانتلي شي او
۷ محل ويلي کيږي ۷ هضّب برمنډه کيږي هو هغه بيولي شي او دَ هغه
وينځې به دَ کوترو په دود په غوميد سره ژړا کوي او سينې به وهي
۸ ۸ نينوه له وړاندنيو ورځو نه دَ اوبو دَ ډنډ په شان ده نو هم
هغه په تيښته ځي هغوي وايي چه ودريږئ ودريږئ مگر هيڅوک مخ
۹ نه گرزوي ۹ سپين زرو لوټيږئ او سره زر لوټ کړئ ځکه چه دَ مالونو
۱۰ هيڅ انتها نشته ډېر قيمتي لوښي بيحد ډير دِي ۱۰ هغه خالي او خراب

او ویران دَي زړه ویلي کیږي او زنګنونه ریږدي دَ هر یوه په ملا کښې
۱۱ سخت درد دَي او دَ دغو ټولو دَ څهرو رنګونه الوتلي دِي ۱۱ دَ نرو زمرو غار
او دَ ببر زمرو دَ بچیو دَ خوراک ځاي چرته دَي چه په هغه کښې
به ببر زمري او زمرئ او دَ ببر زمري بچي ګرزیدل او هیڅوک به نه ویرول
۱۲ ۱۲ ببر زمري به دَ خپلو بچیو دَ خوراک په موافق ښکار ټوټې کول او دَ
خپلو زمریو دَپارَ به ئې ترټول او خپلو ځایونه به ئې له ښکار
۱۳ نه او غارونه به ئې له شکیرو ډکول ۱۳ خداوند دَ لښکرو فرمائي چه
ګوره زه ستا مخالف یم او زه به دَ هغه ګاډئ په لوګي کښې وسیځم
او توره به ستا ځوانان ببر زمري وخوري او زه به ستا ښکار
له زمکي نه پرې کړم او ستا دَ ایلچیانو آواز به بیا واوریدلي نه شي ؞

دریم باب

۱ آ هَي هَي په خونریز ښهر هغه له دروغو او له شوکه بالکل ډک دَي ښکار
۲ نه لرې کیږي ۲ دَ تراټ شور او دَ څرخونو دَ ګړهار شور او دَ آسونو
۳ دَ ښیخ پاي او دَ ګاډیو غړبهار ۳ دَ آسونو سوارِي دَ توري په برېښ او
دَ برچي پړکول او دَ ټوبلو ټولي او دَ وژلیو ډیریْ او دَ مړیو تودي دَ
۴ مړیو انتها نشه دوي دَ هغو په مړیو ټیندک خوري ۴ دَ هغي ښائسته
ښکلي کنچنئ دَ جادوګرئ شاهزادګئ دَ ډیرو زناکاریو په سبب چه دا
۵ قومونه له خپلو زناکاریو او ټبرې له خپلو جادوګریو خرڅوي ۵ خداوند دَ
لښکرو فرمائي چه ګوره زه ستا مخالف یم او ستا لمنې به پورته ستا
په مخ دَ رواړوم او قومونو ته به ستا بربنډوالي او بادشاهتونو ته
۶ به ستا ستر وربښکاره کړم ۶ او زه به مکروه ګندګئ په تا باندي در
۷ واچوم او تا به رسوا کړم هو تا به انګښتنما کړم ۷ او داسي به وشي چه
هر یو چه په تا باندِ نظر وکړي درنه وبه تښتي او وایي به چه نینواه
ویرانه شوي دَه څوک به ورباندِ ویر وکړي زه ستا دَپارَ تسلّي درکونکي
۸ له کومه لټوم ۸ ته له نوآمان ښه یې څه؟ چه دَ دریابونو په منځ کښې

اوسیدل او په ځلورو طرفونو ني اوبه وې او دَ ښهرپناه ئې قعرِ دریاب
وه او دېوالونه ئې له دریابَ شوي وُو ۹ کوش دَ هغه زور وه او مصر هم ۹
او انتها ئې نه وه فوط او لوبیم ستا مددکونکي وُو ۱۰ په دې هم هغه ۱۰
جلاوطنه شوه هو په بند لاړه شوه دَ هغې بچي دَ هغې دَ ټولو کوڅو په
سرو کښ ریزمریز شول او دوي دَ هغې په عزتمندو هسک واچاوه او
دَ هغې ټول بزرګان په زنځیرونو بند شول ۱۱ ته به هم مستنه شې ته ۱۱
به پټه شې ته به هم دَ دښمن په سبب پناه ولټوې ۱۲ ستا ټول کوټونه ۱۲
به داسي شي لکه چه دَ انځیر ونې چه په هغو باندِ ورنبې پخه شوي
میوه لګیدلي وي چه که هغه وخوځوله شي نو هغه به دَ خوړونکي په
خولې کښ پریوزي ۱۳ کوره ستا خلق چه ستا په منځ کښ دي ښځې دي ۱۳
ستا دَ بادشاهت دروازې ستا دَ دښمنانو په مخ به وازې پرتې دي ستا
اړمونه اورخوړلې دي ۱۴ ته دَ قلابندې دَپارَ اوبه ډکې کړه اوخپلې قلاوې ۱۴
مضبوطې کړه په خټې کښ ګډ په خړوبې کښ وخیژه او بټې مضبوطه
کړه ۱۵ هلته به دِ اور وخوري توره به دِ پریکړي هغه به دَ خټونکي ملخ ۱۵
په دود تا وخوري ته دَ خپل ځان دَپارَ دَ خټونکیو ملخانو په شان ډیر کړه
او دَ هجوم کونکیو ملخانو په څیر خپل ځان ډیر کړه ۱۶ ته خپل سوداګران ۱۶
ډیرونه کړه چه هغوي دَ آسمان له ستورو زیات شي خټونکي ملخان خرابي
کړي او الوزي ۱۷ ستا تاجداران دَ هجوم کونکیو ملخانو په دود دي او ستا ۱۷
سرداران دَ ډېرو ملخانو په شان دي چه دَ ساړه په وقت په دیوالو کښ
اوسي او چه نمر خیژي نو الوزي او مکان ئې نه معلوم کیږي چه دوي
چرته دي ۱۸ اي دَ آسور بادشاه ستا شپانه اوده دي ستا سرداران ۱۸
ملاست دي ستا خلق په غرونو کښ پراګنده شوي دي او هیڅوک نشته
چه یو ځاي ئې کړي ۱۹ ستا دَ ماتیدلو علاج نشته ستا زخم سخت دَي ۱۹
ټول چه ستا شهرت واوري په تا به تاړې ووهي ځکه څوک دَي چه په
هغه باندِ به ستا شرارت مدام تیر شوي نه وي *

دَ حبقوق نبِي کتاب

اول باب

۱، ۲ آ هغه الهام چه حبقوق نبي وليده ۲ اي خداوندَ زه به ترڅو پوري
فرياد کوم او ته نه اورې دَ ظلم په سبب به زه څو تا ته نارې وهم او
۳ ته به مِ نه خلاصوې ۳ ته ولي ما ته بدِي ښکاره کوې او په خپله به په
ربړ نظر کوې ځکه چه لوټ او ظلم څما دَ وړاند دَي فتني ښتد او فساد
۴ پورته کيږي ۴ دي دَپارَ شريعت سُست شه او انصاف هرګز نه
جارِي کيږِي ځکه چه شريران ربښتنيو لره ګير کوِي دي دَپارَ عدالت
کوږ ووزِي
۵ ۵ دَ غير قومونو په مينځ کښ وګورئِ او و ئې وينئِ او ډير تعجّب
وکړئِ دي دَپارَ چه زه ستاسي په ورځو کښ يو کار کوم چه که دَ هغه
۶ بيان هرڅو تاسو ته وکړي شِي نو تاسو به باور و نه کړئِ ۶ ځکه ګورئِ
زه به کسديان را وخېژوم هغه تلخ او تند قوم دَي چه دَ زمکي په ارتوالي
۷ کښ تيريږي تا چه هغه آباد مکانونه چه دَدوي نه دِي واخلِي ۷ هغوي
ډارونکِي او هيبت ناک دِي دَ هغوِي عدالت او دَ هغوي فتویٰ به له هغوي
۸ نه ووزِي ۸ دَ هغوي آسونه له پړانګانو هم ګړندِي او له هغو ليوانونه
چه نماښام ووزِي هم زيات تُند دِي او دَ هغو سواره غوړيږي هو
ددوي سواره له لري راځِي هغوي دَ ګجير په دود چه په خپل خوراک
۹ باندِ غوټه وکړِي الوزِي ۹ هغوي ټول واړه دَ ظلم کولو دَپارَ راځِي دَ هغو
مخونه دَ مشرقِي باد غوندِ په وړاندِ ګورِي او دوي بنديان دَ شګي په شان
۱۰ جمع کوِي ۱۰ هغه په بادشاهانو پوري ټوقي کوِي او شاهزادګان دَ دوي
دَ وړاندِ مسخره دِي او هغه په هري قلعي پوري خاندي هغه له دوړو
۱۱ باره ورته جوړه کړِي و ئې نيسِي ۱۱ نو هغه به دَ باد په شان تير شِي

او هغه به پوري ځي کرم به شي هغه چه دده قوّت ده الله دي
١٢ ١٢ اي خما خداوندَ الله اي خما قدّوسَ ته له ازل نه نه یي څه؟
مونږ به مړه نه شُو اي خداوندَ تا هغه دَ عدالت دَپارَ وډرولي دي او اي
١٣ کمره تا هغه دَ ترټني دَپارَ مقرّر کړي دي ١٣ ستا سترګي داسي پاکي دِي
چه بدِي ته کتلي نه شي او ته په آزار نظر کولي نه شي نو بیا څله په
دي لوټونکو نظر کوي او هغه وقت چه شرير هغه سړي لره چه له ده
١٤ نه ربښتني دَي نغرِي نو ته ولي چپ اوسي ١٤ او آدميان دَ سمندر دَ کبانو
په دود جوړوِي او دَ څخيدنکِي په شان چه په دغو بانِدِ هيڅ حاکم نشته
١٥ ١٥ دَي هغوي ټول په کونډي ورپورته کوِي او پخپل جال کښ ئي نښلوِي
او په څکونکي جال کښ ئي جمعَ کوِي دي دَپارَ دَي خوښي او خوشحالي
١٦ کوِي ١٦ څکه دَي خپل جال ته ذبح کوِي او په خپل څکونکي جال ته
لُبان سیځي څکه چه دَ هغو په وسيلي سره دَده برخه څربه دَه او خوراک
١٧ ئي څورب دَي ١٧ دَي به دي دَپارَ خپل جال خالِي نه کوِي څه؟ او
سدام دَ قومونو له قتلولو تم نه شي څه؟ ❖

دويم باب

١ آزه به دَ خپل څارګاه بانِدِ ودريږم او په برج بانِدِ به خپل ځان و
دروم او څار به کوم چه ووينم چه هغه به ما ته څه وائِي او زه به
٢ دَ خپل فرياد په باب څه ځواب ورکړم ٢ نو خداوند ما ته ځواب راکړ او
وئي ويل چه دا رؤيا وليکه او په تختيو ئي داسي صاف وښکه تا چه
٣ هغه چه زغلي وئي لولِي ٣ څکه چه دا رؤيا تر اوسَ پوري دَ يوه مقرّر
وقت دَپارَ دَه مګر آخر ته هيڅه وکړِي او دروغ به نه وائِي اګر که معطّلِي
وکړِي نو هم انتظارئِ کوه چه هغه به په يقين سره راشِي او درنګ به
٤ و نه کړِي ٤ ګوره مغرور دَ هغه ځان په کښ راست نه دَي مګر صادق
به په خپل ايمان سره ژوندي اوسِي
٥ ٥ هو بي له دي شراب ټګونکي دِي سړي ور نه مغرور کيږي هغه

په خپل کورکښې نه اوسي هغه دَ دوزخ په دود خپل ځان ارتوي هغه
دَ مرګ په دود دَي چه نه آسوده کيږي بلکه ټول قومونه ځان ته جمع
۶ کوي او ټول ټولي دَ ځان ته ټولوي ۶ کنزه دا ټول به په ده سپک متل
نه ووايي څه ؟ او په پيچومي سره به اشارت و نه کړي څه ؟ او و به نه
وايي چه په ده ارمان دَي چه له هغه مال نه چه دَده نه دَه ترقي کوي
تر کومه پوري او په هغه باندِ چه په خپل ځان باندِ ډير ګرو ليږدوي
۷ هغوي چه به وچيچي ناڅاپه به پورته نه شي څه ؟ او هغوي چه تا ته
۸ خپه کړي بيدار به نه شي څه ؟ او ته به دَ هغو دَپارَ لوټ شي ۸ دي
دَپارَ چه تا ډير قومونه لوټلي دِي ټول پاتي شوي دَ خلقو به تا لوټ کاندِ
دَ آدميانو دَ وينو تويولو او دَ ظلم په سبب چه په زمکه او په ښهرونو
او په ټولو اوسيدونکيو ئي وشول
۹ ۹ افسوس په هغه چا باندِ چه دَ خپل کور دَپارَ په بدي ګټهي
سره ګټه کوي تاچه خپله ځاله په لوړه جوړه کړي اوچه دَ بدئِ له
۱۰ ورغوي نه خلاصون مومي ۱۰ تا دَ ډيرو خلقو دَ پريکړلو په سبب دَ خپل ټبر
۱۱ دَپارَ شرم حاصل کړي دَي او خپل ځان دِ ګنهګار کړي دَي ۱۱ ځکه چه
کاڼي به له ديوال نه ناري وکړي او ارکي به دَ شهتير له مينځ نه
۱۲ ځواب ورکړي ۱۲ هيَ هيَ په هغو باندِ چه په خونريزي سره ښهر جوړوي او
۱۳ په شرارت سره کلي آباد کوي ۱۳ ګورئِ دا حال دَ لښکرو دَ رب له لوري
نه دَي څه ؟ چه خلق دَ اور دَپارَ مشقت وکړي او قومونه دَ بطلان
۱۴ دَپارَ خپل ځانونه ستړي کړي ۱۴ لکه چه اوبو قعرِ درياب پټوي هم
هسي به زمکه دَ خداوند دَ جلال له پيژاندلو ډکه شي
۱۵ ۱۵ هيَ هيَ په هغه باندِ چه پخپل همسايه باندِ (شراب) څښي
او خپله ګرمي زياتوي هغه پري کيفي کوي تاچه ته دَ هغه ستروني
۱۶ ته دَ عزّت په عوض کښې له رسوائي نه ډک شوي يي ته ئي وڅښه او
خپله څرمن بي پردي کړه دَ خداوند دَ ښي لاس پياله به درو ګرزولي

۱۷ شِي او ستا په دبدبې به دَ شرمندګي قي [۱۷] څکه هغه ظلم چه په لُبنان
باندِ وشوه تا به پټ کړي او دَ ځناورو ښکار هغوي لره و ويرول
دَ آدميانو دَ خونريزي او دَ ظلم په سبب چه په ملک او په ښهرونو
او په ټولو اوسيدونکيو ئې وشه
۱۸ [۱۸] له تراشلي صورت نه څه فائده حاصليږي چه دَ هغه جوړونکي
په تورلو سره جوړ کړي دي له اچولي صورت نه هو له دروغژنو استاذ
(څه فائده دَه) چه دَ کارجوړونکي په هغه باندِ توکّل لري چه ګونګ
۱۹ بُتان جوړوي [۱۹] هي هَي په هغه چه لرګي ته وايي چه ويښ شه او
بي ژبې کاڼي ته چه پاسه هغه را زده کړي ګوره هغه په سرو او سپينو زرو
۲۰ جړاؤ دَي مګر دَ هغه په مينځ کښ مطلق روح نشته [۲۰] مګر خداوند پخپل مقدس
هيکل کښ دَي تولّه زمکه دِ دَ هغه دَ وړاندِ خاموشه شِي ٭

دريم باب

دَ حبقوق نبِي دُعا دَ سجيونوت

۱ اي خداوندَ ما ستا خبر آوريدلي
ده او ويريدلم
اي خداوندَ ته دَ کالونو په مينځ
کښ خپل کار ته ژوندي کړه
۲ دَ کالونو په مينځ کښ هغه ته
شهرت ورکړه
دَ قهر په مينځ کښ رحمت په ياد
کړه
۳ الله له تيمانَ
او هغه چه قدّوس دَي دَ فارانَ
له غره نه راځي سلاه
دَ هغه تمجيد آسمان پټ کړ

او زمکه دَده له حمد نه ډکه شوه
۴ دَده ځليدل دَ نور په دود وه
دَه له لاسونو تجلّي ووتلي
مګر هلته کښ دَده دَ قدرت پرده
وه
۵ مرګو دَ هغه دَ وړاندِ تله
او دَده په قدمونو کښ دَ اور
بريښنا روانه شوله
۶ هغه ودريده او زمکه ئې وکچله
ده نظر وکړ او قومونه ئې تار په
تار کړل
او قديم غرونه ريزمريز شول

او زړي غونډي كوزي شولي
دَده لاري مدامي دِي
۷ ما وليدل چه دَ كوشان په خيمو
باندِ عذاب وه
او دَ مديان دَ زمكي پردي لړزيدلي
۸ اي خداوندَ ته په دريابونو نود
شوي څه ؟
په دريابونو باندِ ستا قهر وه څه ؟
په قعرِ درياب ستا غضب وه څه؟
چه ته په خپلو آسونو او په خلاصونكيو
كاډيو باندِ سوار شوي
۹ ستا لنده بالكل لوڅه كړي شوه
ستا قسمونو دَ قومونو وَينا سلاه
تا زمكه په دريابونو سره وڅيرلي
۱۰ غرونو ته وليدلي او ولړزيدل
سيلابونه دَ اوبو تير شول
ژورو خپل آواز هسك كړ
او خپل لاس ئي پورته اوچت كړ
۱۱ لمر او سپوږمئِ په خپل خپل مكان
كښ ودريدل
ستا دَ غشيو روښنائِي ته چه تله
ستا دَ برچو دَ بريښنا و رونق ته
۱۲ تا له قهر سره په زمكه درب وكړ
تا په قهر سره قومونه پايمال كړل
۱۳ ته دَ خپل اُمّت دَ خلاصون وركولو
دَپارَ ووتلي
هو له خپل مسيح سره دَ خلاصون
وركولودَپارَ
تا دَ شرير دَكور سر ژوبل كړ
ترغاړي پوري بنيادونه برمنډول (سلاه)
۱۴ تا دَ هغه په برچې سره دَده دَ بناغليو
سرونه سوري كړل
هغوي ما ته دَ پراكنده كولو دَپارَ
دَ گرد باد غونډِ راووتل
دَ هغو فخر دا وه چه مسكينان به په
پټه سره ونغرو
۱۵ ته په خپلو آسونو سره له سمندر
نه
هو دَ گنړو اوبو دَ موجونو له منځ
نه تير شولي
۱۶ ما اوريدل ځما لړمون رپيده
له هغه آواز نه ځما شونډي و
كړبيدلي
ځما هډونه ځخا شول
زه په خپل مكان كښ ولړزيدلم
تاچه زه دَ غم په ورځ آرام بياموم
هركاله چه هغه چه په اُمّت وځيږي
په خپلو فوځونو سره داخليږي
۱۷ هرڅوچه دَ انځيرونه نه وغوړيږي
او په تاكونو كښ ميوه و نه لګيږي

او دَ ښوون محنت لاړ شِي
او په پټيو کښ هيڅ غله پيدا نه شِي
او رمي په شپاله کښ پريکړي شِي
او غوا او غوايان په غوجلو کښ پاتي
نه شِي
١٨ په دي به هم په خداوند خوښِي
وکړم
زه به دَ نجات دَ الله په سبب
خوشحاله يم
١٩ خاوند يهوَه ځما قوّت دَي
او دَي به ځما پښي دَ اوسئ
غوندِ کړي
او په ما باندِ چه ځما په اوچتو
مکانو سيل وکړي
دَ سرودکړو دَ سردار دَپارَ ځما په
تاردارو سازنو باندِ ❋

دَ صفنیاه نبي کتاب

اول باب

۱ دَ یهوده دَ بادشاه یوسیاه ځوي دَ آمون په ورځو کښې دَ خداوند کلام ۱
چه صفنیاه ځوي دَ کوشي ځوي دَ جدلیاه ځوي دَ امریاه ځوي دَ حزقیاه
ته ورسیده ۲ زه به دَ زمکي له مخ نه ټول واړه نابود کړم خداوند فرمایي - ۲
۳ زه به انسان او حیوان نابود کړم دَ آسمان پرندګان او دَ قعرِ دریاب ماهیان ۳
او دَ شریرانو سره ټیندکونه به نیست او نابود کړم او انسان به دَ زمکي له
مخ نه پرېکړم خداوند فرمایي ۴ او زه به په یهوداه او دَ اورشلیم په ټولو ۴
اوسیدونکیو خپل لاس وغزوم او له مکان به دَ بعل باقي خلق او دَ کماریم
نوم به له کاهنانو سره پرېکړم ۵ او هغوي هم چه په بامونو دَ آسمان لښکر ته ۵
سجده کوي او هغوي چه سجده کوي په خداوند قسم خوري او په ملکام قسم
کوي ۶ او هغوي هم چه دَ خداوند له پیروي نه ګرزېدلي دي او هغوي چه ۶
خداوند ئې لټولي نه دي او طلب ئې کړي نه دي ۷ تاسو دَ خاوند یهوه په حضور ۷
چپ اوسئ ځکه چه دَ خداوند ورځ نژدې دَه ځکه چه خداوند دَ ذبحي طیاري
کړي دَه او خپل چه دَه بللي شوي میلمانه ئې پاک کړي دي ۸ او دَ خداوند ۸
دَ ذبحي په ورځ به داسي وشي چه زه به امیرانو او شاهزادګانو او
هغوي ټولو ته چه دَ بیګانه ؤ پوشاک آغوندي سزا ورکړم ۹ زه به په هغې ۹
ورځي هغو ټولو ته چه په آستانې باندِ په ټوپونو ځي او دَ خپل خاوند
کورونه له ظلمَ او له مکرَ ډکوي سزا ورکړم ۱۰ او په هغه ورځ به داسي ۱۰
وشي خداوند فرمایي چه دَ ماهي له دروازي نه دَ ژړا آواز او له دویمي
دروازي نه دَ هي هي او له غونډیو نه دَ لوي کړپهار آواز به وي ۱۱ اي دَ ۱۱
مکتیس اوسیدونکیو هي هي کوئ ځکه چه ټول کنعانیان ورک شول هغوي
چه په سپینو زرو لیښلي وي پرېکړي شول ۱۲ او هغه وقت به داسي ۱۲

وشي چه زه به په چراغ سره دَ اورشليم تالاش وکړم او هرڅو چه
په خپلو نهٔنشينو کنګل شوي دي او په زړه خپل کښ وائي چه خداوند
۱۳ به نه ښه وکړي نه به بد وکړي زه به سزا ورکړم ۱۳ نو به دَ هغو دولت
دَ لوټ دَپارَ شي او کورونه به ئي ويجاړ شي هغوي خو به کورونه جوړ
کړي مګر استوګنه به په کښ ونه کړي او تاکستانونه و لګوي مګر شراب
۱۴ به ئي ونه ښبي ۱۴ دَ خداوند لويه ورځ نژدي دَه او ډيره جلتي کوي هو دَ
خداوند دَ ورځي آواز هلته کښ به زبردست سړي په ورپ ورپ ژاړي -
۱۵ ۱۵ هغه ورځ دَ قهر ورځ دَه دَ عذاب او دَ رنځ ورځ دَ ويراني او دَ خرابي
ورځ دَ تاريکي او دَ تورتم ورځ دَ وريځي ورځ او دَ ګنړي تياري ورځ
۱۶ ۱۶ په مضبوطو ښهرونـــو باندِ او په اوچتو برجونو دَ قرنا او دَ جنګي غوږ
۱۷ ورځ ۱۷ او زه به په انسان باندِ تنګي راولېم تر دي حده چه دَ ړندو
په دود به ګرځي ځکه چه دوي دَ خداوند ګناهکار شول دَ هغوي وينې
۱۸ به دَ دوړو په دود وبهيږي او غوښې به ئي دَ غوښيو په شان ۱۸ دَ خداوند
دَ قهرِ په ورځ کښ به نه دَ هغو سپين نه دَ هغو سره زر خلاصوله
کړي مګر ټوله زمکه به دَده دَ غيرت له اورَ وخوړلي شي ځکه چه
هغه به يوي خوفناکي تماميدني سره دَ زمکي ټول اوسيدونکي تمام کاندِ *

دويم باب

۱ ۱ خپل ځانونه جمع کړئ هو را جمع شئ اي بي‌شرمه قومه وړاندِ له هغه
چه تقدير وزيږي (وړاندِ) له هغه چه هغه ورځ دَ خس په شان تيره شي
وړاندِ له هغه چه دَ خداوند سخت قهر په تاسو نازل شي وړاندِ له هغه
۳ نه چه دَ خداوند دَ غضب ورځ په تاسو راشي ۳ اي دَ ملک ټولو حليمانو
چه دَده په عدالت عمل کوئ تاسو خداوند و لټوئ صداقت ولټوئ دَ عاجزئ
طلب وکړئ کندِ چه تاسي دَ خداوند دَ غضب په ورځ پټ شئ
۴ ۴ ځکه چه غزه به ترک کړي شي او عسقلون به يوه ويرانه شي
او اشدود چه دَي دَ ورځي په غرمه کښ به ئي و باسي او عقرون به له

٥ بېخ وېوست شي ٥ دَ سمندر دَ غاړي په اوسېدونکيو دَ قريتيانو په قوم
باندِ هَيْ هَيْ دَي دَ خداوند کلام ستاسو په خلاف دَي اي کنعانَ دَ
فلستيانو زمکي زه به تاسو نيست کړم څو چه څوک اوسېدونکي پاتي نه شي
٦ ٦ او دَ سمندر غاړي به دَ ځراګاهو او دَ شپنو ځيودي او دَ درمو شپولونه شي
٧ ٧ او هغه غاړه به دَ يهوداه دَ کور دَ باقيه دَپارَ شي دوي به په هغو کښ
څري هغوي به دَ نماښام په وقت دَ عسقلون په مکانونو پنديږي ځکه چه
خداوند دَ هغو الله به دَ هغو بازخواست وکړي او دَ هغو بنديواني به را وګرزوي
٨ ٨ ما دَ موآب ملامت او دَ بني عمون طعني واوريدل چه دوي زما قوم
٩ ملامت کړي دَي او دَ هغو دَ سرحدونو په مخالفت کښ کبر کړي دَي ٩ دي
دَپارَ خداوند دَ فوځونو دَ اسرائيل الله زه ژوندي يم فرمايلي ئي دي په يقين
سره په موآب دَ سدوم په دود شي او بني عمون به دَ عموره په دود ملک
دَ جلبنک او مالګينه او هميشه ويراني به شي زما دَ خلقو پاتي شوي به
١٠ ئي لوټ کړي او زما دَ قوم باقيه به دَ دوي وارثان شي ١٠ دا به په دوي باندِ
دَ دوي دَ مغروري په سبب پيښ شي ځکه چه دوي دَ لښکرو دَ خداوند
دَ اُمت ملامتيا کړي دَه او دَ هغو په خلاف ئي ځانونه هسک کړي دِي -
١١ ١١ خداوند به دَ هغو دَپارَ هيبت ناک وِي ځکه چه ټول معبودان دَ زمکي به
دنګر کړي او هر څوک به له خپل خپل ځاي نه هو دَ غير قومونو جزيرو
ټول سړي به دَ هغه عبادت وکړي
١٢ ١٢ تاسو به هم اي دَ کوشيانو زما په توري مړه شئ ١٣ او دي به
١٣ دَ قطب په طرف خپل لاس اوږد کړي او آسور به خراب کړي او نينوه به
١٤ ويرانه او دَ بيابان په شان وچه کړي ١٤ او دَ هغو په منځ کښ به پادي هو
دَ قومونو ټول حيوانان به پنديږي او کوتني او سکانړه دَ هغو دَ ستنيو په
څنتيو مقام وکړي آواز به په دريڅو کښ چمبږي دَ هغو به دهليزونو کښ به
١٥ ويراني وِي ځکه چه هغه ددېودار کار لوڅ کړي دَي ١٥ دا هغه خوشحال ښهر
دَي چه بې فکرَ اوسېدو چه پخپل زړه کښ ئي وَوِ چه زه يم او بې له ما نه بله

هیځوک نشته نو هغه څرنګ یوه ویرانه شه دَ حیواناتو دَ پنډیدلو ځاي هر
یو چه په هغه لوري تیر شي شپیلکي به کوي او خپل لاس به وخوځوي

دریم باب

۱ آ هَي هَي اي ظالمه ښهره ته چه یاغي او پلیت یې ۲ ده کلام نه واوریده او
تعلیم اخستونکي نه شه به خداوند ئې توکل ونه کړ او خپل الله نه نژدې
۳ نه شه ۳ دَ هغه په منځ کښ دَ هغه سرداران غرچیدونکي زمري دي
۴ قاضیان ئې دَ ماښام لیوان دي او ترصباح پوري نه هیڅ پریږدي ۴ دَ هغه
نبیان لافي وهونکي او دغاباز دي کاهنانو ئې مقدّس ناپاک کړي دَي دوي
۵ له تورَیت نه مخالفت کړي دي ۵ خداوند چه صادق دَي دَ هغه په منځ
کښ دَي هغه به بدي ونه کړي: دي هر صباح خپل عدالت روښنائي
۶ ته راوړي په ده کښ نشته مګر بي انصاف شرم نه پیژني ۶ ما قومونه
پریکړل دَ هغو برجونه برباد شوي دي ما دَ هغو کوڅي ویراني کړي دي چه
په هغو کښ هیڅوک نه ځي دَ هغو ښهرونه ویجاړ شول داسي چه هیڅ انسان
۷ نشته هیڅ اوسیدونکي نشته ۷ ما وِ چه ته خاص له ما نه ویریږه ته
نصیحت قبول کړه داسي چه د هغه استوګنه پریکړه نه شي د هغو
ټولو په شان چه ما دَ هغه په حق کښ مقرّر کړل مګر هغوي وَختي
پاڅیدل خپل ټول عملونه ئې خراب کړل
۸ ۸ سره دَدي تاسو ځما په انتظار کښ اوسئ خداوند فرمائي ترهغي
ورځي پوري چه زه دَ لوټ دَپارَ پورته شم ځکه چه ځما قصد دَي چه قومونه
جمع کړم او بادشاهتونه یوځاي کړم تا چه زه خپل غضب هو ټول
سخت قهر په هغوي توي کړم ځکه چه ځما دَ غیرت له اورَ به ټوله
۹ زمکه ونغردلي شي ۹ ځکه چه زه به هغه وقت ټول خلق یوي پاکي ژبي
ته وګرزوم تا چه هغوي ټول واره دَ خداوند نوم بولِي او په یوي اوږي
۱۰ سره دَده عبادت کوِي ۱۰ دَ کوش دَ رودونو له پوري خوا نه به ځما عبادت
۱۱ کونکي هو ځما دَ پراګنده خلقو لور به ځما دَپارَ هدیي راولي ۱۱ هغه ورځ

به نه دَ ټولو کارونو په سبب چه په هغو سره تما تقصیروار شولي شرمنده
به نه شي څه؟ ځکه چه زه به هغه وقت ستا له مینځ نه هغوي چه ستا
په لوړي فخر کوي وباسم او ته به بیا څما په پاک غره باندِ کبرجني و نه کړي
۱۲ ۱۲ او زه به یو غریب او مسکین قوم ستا په مینځ کښ پرېږدم او هغوي به دَ
۱۳ خداوند په نوم توکّل وکړي ۱۳ دَ اسرائیل باقیه به بدکارِي و نه کړِي او دروغ
به نه وايي او دَ دوي په خولي کښ به فریب ژبه مونده نه شي بلکه دوي
به څري او څملي به: او هیڅوک به يې نه ډاروي
۱۴ ۱۴ اي دَ صیحون لوري سندري وايه اي اسرائیل ناري وهه
اي دَ اورشلیم لوري ته په ټول زړه خپل سره خوښي او خوشحالي کوه
۱۵ ۱۵ خداوند ستا فتویٰ در نه اخستلي دَه ستا دښمن یستلي دَي
خداوند دَ اسرائیل بادشاه ستا په مینځ کښ دَي ته به بیا له بدئ
۱۶ و نه ویرېږې ۱۶ هغه ورځ به اورشلیم ته وویل شي چه ته مه
۱۷ دارېږه او صیحون ته چه ستا لاس دِ سُست نه شي ۱۷ خداوند ستا
الله چه ستا په مینځ کښ دَي قادر دَي هغه به دِ خلاص کړي هغه به
ستا په سبب خوشحال شوي خوښي به کوي دَ خپل محبّت په سبب به
خاموش اوسي هغه به په تا په سندرو ویلو سره خوشحالي وکړي۔
۱۸ ۱۸ زه به هغوي چه دَ مقدّس جماعت غمګین دِي چه له تا وُو چه
۱۹ په هغو باندِ دَ ملامتیا بار وه جمع کړم ۱۹ ګوره زه به هغه
وقت هغوي ټولو سره چه تا آزارولي کار وکړم او هغه چه پس‌مانده
دَه خلاصه به يې کړم او خارج کړي شوي به یو ځاي کړم او په
هري یوي زمکي کښ چه دوي رسوا شوِي وُو هغوي به ثنا او نامدار
۲۰ کړم ۲۰ هغه وقت به زه تاسو جمع کړم هغه وقت به مو بیرته
راولم ځکه هغه وقت چه ستاسو دَ سترګو دَ وړاندِ ستاسي
بندیوانِي را وګرزوم تاسو به دَ زمکي ټولو قومونو په مینځ کښ ثنا
او نامدار کړم خداوند فرمايي *

دَ حِجي نبي کتاب

اول باب

۱ ۱ دَ دارا بادشاه دَ بادشاهي په دويم کال په شپږمي مياشتي او دَ
هغي مياشتي په ورنبي ورځ دَ شيالتي ايل ځوي زروبابل ته چه دَ
يهوديانو امير وه اودَ يهوصادق ځوي يهوشع ته چه سردار کاهن وه
۲ دَ خداوند کلام دَ حِجي نبي په لاس ورسيده ۲ او وئي ويل چه خداوند
دَ لښکرو داسي وايي چه داخلق وايي چه هغه وقت چه دَ خداوند
۳ کور به بنا کړي شي هغه وقت لا تر اوسَ پوري راغلي نه دَي ۳ نو
۴ دَ خداوند کلام په حِجي نبي نازل شه ۴ او وئي وِچه هو ستاسو وقت
دَي څه ؟ چه په خپلو کورونو کښي چه په ديوالونو ئې تخته بندي کړي
۵ ده واوسئ او دا کور ويران پروت وي؟ ۵ او اوس خداوند دَ لښکرو
۶ داسي وايي چه تاسو په خپلو لارو باندِ خپل زړه کيږدئ ۶ تاسو ډير څه
وکرل مګر لږ حاصل کوئ تاسو خورئ مګر نه آسوده کيږئ تاسو څښئ
مګر په اوبو نه ډکيږئ تاسو جامي آغوندئ مګر هيڅوک نه توديږئ او
هغه چه مزدوري کوي نو مزدوري کوي تاچه په سورئ شوي کيڅي
۷ کښي کيږدي ۷ خداوند دَ لښکرو فرمايي چه تاسي په خپلو لارو خپل
۸ زړه کيږدئ ۸ په غره وخيژئ لرګي راوړئ او کور جوړ کاندئ زه به په
۹ هغه خوشحالَ شم او ځما تعظيم به وکړي شي خداوند فرمايي ۹ تاسو
دَ ډيرو انتظار وکړ او کورئ لږ څه او هرکله چه تاسي په هغه کور
کښي راوړل نو ما په هغه ور پو کړل خداوند دَ لښکرو فرمايي ولي؟
له دي سببَ چه ځما کور ويران دَي او له تاسو نه هريو دَ خپل
۱۰ خپل کور ته زغلي ۱۰ دي دَپارَ آسمان په تاسو بند دَي چه شبنم
۱۱ نه پريوزي او زمکه له خپلو حاصلو ورکولو منع شوه ۱۱ او ما وچ

کالي و بلله په زمکه باندِ او په غرونو باندِ او په غلو او په نويو شرابو
او په تيلو او په هرڅه چه له خاوري ووځي او په انسان او په
۱۲ حيوان او په ټول محنت دَ لاسونو باندِ ۱۲ نو زروبابل زوي دَ شيالتي‌ايل
او يهوشوع ځوي دَ يهوصادق سردار کاهن او ټول باقي خلق دَ قوم دَ
يهوه الله خپل آواز اود حجي نبي کلام لکه چه خداوند دَ هغو الله ور
۱۳ استولي وه اوريدونکي شول اوخلق دَخداوند په حضور ووېرېدل ۱۳ نو
دَ خداوند پيغمبر حجي دَ خداوند په پيغام سره هغه قوم ته ووېل چه
۱۴ خداوند فرمايي چه زه له تاسو سره يم ۱۴ بيا خداوند زروبابل ځوي دَ
شيالتي‌ايل دَ يهوده دَ امير روح اودَ يهوشع ځوي دَ يهوصادق سردار
کاهن روح اودَ باقي خلقو روح بيدار کړ نو دوي راغلل او دَ لښکرو
۱۵ خداوند دَخپل الله په کور کښ کار وکړ ۱۵ دَ دارا بادشاه په دويم
کال دَ شپږمي مياشتي په څليرويشتمي ورځي دَ مياشت +

دويم باب

۱ ۱ په اومه مياشت او دَ هغي مياشتي په يو ويشتم تاريخ دَ خداوند
۲ کلام دَ حجي نبي په لاس راورسيد ۲ او وئي ويل زروبابل ځوي دَ
شيالتي‌ايل دَ يهودبانو امير ته او يهوشع ځوي دَ يهوصادق سردار
۳ کاهن ته اودَ قوم باقي خلقو ته و فرمايه او داسي ووايه ۳ چه له
تاسو نه څوک باقي شوي دَي چه دغه هيکل ئي په هغه وړاندني رونق
وليد او دا څه رنګ دَي چه اوس ئي وينئ دغه ستاسو په نظرونو
۴ کښ ناڅيز نه ښکاريږي څه ؟ ۴ مګر اي زروبابل مضبوط شه
خداوند فرمايي او اي يهوشع دَ يهوصادق سردار کاهن زويه
مضبوط اوسه او اي دَ زمکي ټولو خلقو مضبوط اوسئ خداوند
فرمايي او کار کوئ ځکه چه زه له تاسي سره يم خداوند دَ لښکرو
۵ فرمايي ۵ لکه چه دَ هغه عهد کلام چه ما له تاسو سره دَ مصر
دَ وتلو په وقت کښ وکړ هم هسي ځما هغه روح تاسو په مينځ کښ

اوسي مه ويريږئ ٦ څکه چه خداوند دَ لښکرو داسي فرمائي چه ٦
اوس يو وار او لږ څه مُده زه به آسمانونه او زمکه او قعرِ درياب
او وچه وخوځوم ٧ بلکه زه به ټول قومونه وخوځوم او دَ ټولو قومونو ٧
مراد به راشي او زه به دا کور له لوئي نه ډک کړم خداوند دَ
لښکرو فرمائي ٨ سپين زر ځما دي او سره زر ځما دي خداوند دَ ٨
لښکرو فرمائي ٩ دَ دي وروستني کور جلال به له وړاندني نه زيات ٩
لوي شي خداوند دَ لښکرو فرمائي او زه په دي مکان به سلامتي
وبخښم خداوند دَ لښکرو فرمائي ١٠ او دَ دارا بادشاه په دويم کال ١٠
کښي او دَ هغه دَ نهمي مياشتي په څليريشتم تاريخ دَ خداوند کلام
دَ حجي نبي په لاس راورسيد ١١ او وئي ويل چه خداوند دَ لښکرو ١١
داسي وائي دَ شرعي په باب له کاهنانو دريافت وکړه او وايه ١٢ چه ١٢
که کوم سړي پاکي غوښي دَ خپل جامي په لمني کښي واخلي او په
خپلي لمني ډوډي يا آشّ يا شراب يا تيل يا کوم قسم دَ خوراک
مسه کړي نو هغه څيز به پاک شي څه ؟ نو کاهنانو ځواب ورکړ وئي
ويل چه نه ١٣ بيا حجي ووِ چه که څوک دَ کوم مردار مسه کولو په سبب ١٣
ناپاک شوي وي او له دغو نه په کوم يوه ولګيږي نو ناپاک به شي؟
کاهنانو ووِ هو ناپاک به شي ١٤ بيا حجي ځواب ورکړ وئي ويل چه ١٤
خداوند فرمائي چه دَ دي قوم او دَ دي ټولي حال ځما په نظر کښي هم
داسي دي او دَ دوي دَ لاسونو هر يو کار هم هسي دي او هم هغه څه
چه وئي ګذاري ناپاک دي ١٥ او اوس په خپلو زړونو کښي غور وکړئ ١٥
که نه له دي ورځي نه او له هغه نه په مخ کښي وړاندِ له هغه چه
دَ خداوند په هيکل کښي کاڼي په کاڼي ايښي شوي وه ١٦ له هغو ١٦
ورځو نه داسي وشول چه هر کله چه کوم سړي دَ شلو اوربو انبار
څخه ورغي نو تش ئي لس وموندل او چه تالاؤ څخه ورغي چه پوره
پنځوس لوښي ډک کړي نو هله ئي شل وموندل ١٧ ما تاسي په کرمِ باد ١٧

او په زيرِي او په پړلو سره ستاسي دَ لاسونو ټول کارونه ووهل مگر
۱۸ تاسي څما په لورِي نه وگرزيدلئِ خداوند فرمايِي ۱۸ له نن نه او له
دغه په مخ کښ غور وکړئِ دَ ځمي مياشتي څليرويشتم له ورځي نه
يعني له هغي ورځي چه دَ خداوند دَ هيکل بنياد واچاوه شه غور
۱۹ وکړئِ ۱۹ اوس تخم په کندوانو شته هو لا تر اوسه به تاک او دَ
انځير او دَ انار او دَ زيتون وني ميوي راوړي نه دَه مگر له نن
نه به تاسو ته برکت درکړم
۲۰ ۲۰ بيا دَ هغي مياشتي په څليرويشتم تاريخ دَ خداوند کلام
۲۱ حِجّي نبي ته ورسيده او وئي ويل ۲۱ چه دَ يهوديانو امير زروبابل
۲۲ ته ووائِ چه زه به آسمان او زمکه وخوځوم ۲۲ او دَ بادشاهتونو تخت
به واړوم او دَ غير قومونو دَ بادشاهتونو قوّت به ورک کړم او گاډئِ
به دَ هغو له سوارو سره واړوم او آسونه او چه په هغو سواره
۲۳ دِي پرِي به وزِي هر يو سرِي به دَ خپل ورور له تورِي ۲۳ خداوند
دَ لښکرو فرمايِي چه اي څما بنده زروبابل څوي دَ شيالتِيايل هغه
ورځ به زه تا واخلم خداوند فرمايِي او دَ غمي په دود به دِ جوړ کړم
دي دَپارَ چه ته مِ غوره کړي يي خداوند دَ لښکرو فرمايِي ❊

دَ ذکریّاه نبي کتاب

اول باب

۱ دَ دارا دَ دویم کال په آتمي میاشتي کښ دَ خداوند کلام و ذکریاه زوي ۱
دَ برکیاه زوي دَ عدو نبي ته ورسیده وئي ویل ۲ چه خداوند ستاسي ۲
له پلرونو او نیکونو ډېر غصّه شه ۳ دي دَ پار ته هغوي ته ووایه چه ۳
خداوند دَ لښکرو داسي وایي چه تاسي خما په لوري وګرزئ خداوند
دَ لښکرو فرمایي نو زه به ستاسي په لوري وګرزم خداوند دَ لښکرو
فرمایي ۴ تاسي دَ خپلو پلرونو او نیکونو په دود مه کیږئ چه دوی ۴
ته وړاندنیو نبیانو په نارو سره ویلي دي چه خداوند دَ لښکرو داسي
فرمایي چه تاسي له خپلو بدو لارو او له بدو کارونو بیرته راشئ
لیکن دوي نه واوریدل او نه ئي غوږ راته ونیو خداوند فرمایي ۵ ستاسي ۵
پلرونه نیکونه چرته دي او نبیان مدام ژوندي دي څه ؟ ۶ لیکن خما ۶
هغه خبري او خما هغه حکمونه چه ما خپلو غلامانو نبیانو ته وفرمائیل
کنړه هغه ستاسي تر پلرونو او نیکونو ونه رسیدل څه ؟ او دوي
وګرزیدل او وئي ویل چه خداوند دَ لښکرو لکه چه دده اراده وه
چه دَ مونږ سره وکړي نو هسي ئي دَ مونږ دَ لارو او دَ مونږ دَ عملونو
په موافق له مونږ سره ئي کړي دي
۷ دَ دارا دَ دویم کال او دَ یولسمي میاشتي په څلیرویشتم تاریخ چه ۷
دَ شباط میاشت دَه دَ خداوند کلام ذکریّاه زوي دَ برکیاه زوي دَ عدو
ته ورسیده وئي ویل ۸ چه ما دَ شپي ولید چه یو سړي په یو سره آس ۸
سوار شوي دَ اوبنتي په منځ کښ چه په سیوري کښ وي ولاړ دَی
او دَ هغه دَ وروستو سره او سکاڼره اونقري آسونه وو ۹ نو ما ۹
وویل چه اي خما خاوندَ داڅه دي ؟ بیا هغي فرښتي چه له ما سره

يُ خبرې کولي راته وويل چه زه به يُ تا ته در وښيم چه دا څه دِي
١٠ ١٠ او هغه سړِي چه دَ اوبښتو په منځ کښ ولاړ وه په ځواب کښ يُ
وويل چه دا هغوي دِي چه خداوند استولِي دِي چه په ټولي زمکي وګرځي
١١ ١١ او هغوي دَ خداوند هغي فرښتي ته چه دَ اوبښتي دَ ونو په منځ
کښ ولاړه وه په ځواب کښ وويل چه مونږ په ټولي زمکي کښ
١٢ ګرزيدلِي يُو او ګوريُ ټوله زمکه ناسته دَه آرام کوِي ١٢ بيا دَ خداوند
فرښتي ځواب ورکړ و يُ ويل چه اي خداوندَ دَ لښکرو ته په اورشليم
او دَ يهوداه په ښهرونو چه په هغوي دِ له اوياؤ کالو نه غضب
١٣ نازل کړي دَي تر څو پوري به رحم ونه کړي ١٣ او خداوند دَ هغي
فرښتي ته چه له ما سره يُ خبرې کولي په نيک کلام او دَ تسلّي په
١٤ کلام ځواب ورکړ ١٤ نو هغي فرښتي چه له ما سره يُ خبرې کولي
راته و يُ ويل چه ته په نارو سره ووايه چه خداوند دَ لښکرو داسي
وايِي چه ما ته دَ اورشليم او دَ صيحون دَپارَ غيرت راغِي بلکه لوي
١٥ غيرت ١٥ او زه له هغو غير قومونو چه په آسودګِي کښ دِي په لوي
غصّي سره غصّه يم ځکه چه زه لږ څه غصه شوم او هغوي
١٦ دَ هغه آفت مدد وکړ ١٦ دي دَپارَ خداوند داسي فرمايِي چه زه
په رحمتونو سره به اورشليم کښ بيرته راغلي يم په هغه کښ
به ځما کور جوړ کړي شِي خداوند دَ لښکرو فرمايِي او يوه رسيُ
١٧ به په اورشليم وغځوله شِي ١٧ بيا په نارو سره ووايه چه خداوند
دَ لښکرو داسي فرمايِي چه ځما ښهرونه به په نيکِي سره بيا مالامال
شِي ځکه چه خداوند به بيا صيحون ته تسلّي ورکړي او بيا به
اورشليم غوره کړِي
١٨ ١٨ ما بيا خپلي سترګي پورته کړي او نظر مِ وکړ او ګوريُ
څلور ښکرونه وُو او ما هغي فرښتي ته چه له ما سره يُ
١٩ خبرې کولي وويل چه دا څه دِي ؟ هغي ما ته ځواب راکړ چه دا هغه

بنکروندي چه يهوداه او اسرائيل او اورشليم ئي پراګنده کړل -
٢٠ ٢٠ بيا خداوند ما ته څلور لوهاران رابنکاره کړل نو ما ووېل چه دا
٢١ خلق دَ څه کولو دَپارَ راغلي دِي ٢١ ده په خبره ووېل چه دا هغه
بنکرونه دِي چه يهوداه ئي پراګنده کړي دي داسي چه هيڅ سړي
هم خپل سر پورته کړي نه شه ليکن دغه دي دَپارَ راغلي دِي چه
هغوي ودارِوِي او دَ غير قومونو بنکرونه چه دَ يهوداه په زمکه
ئي دَ پراګنده کولو دَپارَ خپل بنکر پورته کړي دَي و پرزوِي *

دويم باب

١ ١ بيا مِ خپلي سترګي پورته کړي او و مِ کتل او څه ګورم چه يو سړي
٢ دَ کچلو رسئِ په لاس کښِ دَه ٢ او ما ورته وُوِ چه ته چرته ځي؟
هغه راته ووېل چه دَ اورشليم و کچلو ته تاچه ووينم چه دَ دغه
٣ پلن والي څو دَي او اوږدوالي څو دَي ٣ او ګورئِ هغه فرشته چه له
۴ ما سره ئي خبري کولي ووتله ۴ بله فرښته دَ هغي ومخي ته راغله
او ورته و ئي ويل چه دو کړه او دَ دغه ځوان سره خبري وکړه ور ته
ووايه چه اورشليم به دَ هغو ښهرونو په دود آباد شِي چه ښهرپناه
ئي نه وِي دَ انسان او دَ حيوانانو دَ کثرت په سبب چه په هغه کښ
۵ به وشِي ۵ ځکه چه خداوند فرمايِي چه زه به دَ هغه دَپارَ له ګير
چاپير دَ اور ديوال شم او دَ هغه په منځ کښ به مجد شم
٦ ٦ هاها دَ قطب له زمکي وتښتئِ خداوند فرمايِي اګر که ما ته
٧ دَ آسمان دَ څلورو هواؤ په دود وغړولي خداوند فرمايِي ٧ اي صيحون
٨ ته چه دَ بابل دَ لور سره اوسي خپل ځان خلاص کړه ٨ ځکه چه
خداوند دَ لښکرو داسي فرمايِي چه پس له مجيد نه هغه زه و
هغو قومونو ته واستولم چه تاسو ئي لوټ کړلي په حقيقت هرڅوک
٩ چه تاسو مسه کوِي ځما دَ سترګي کسَي مسه کوِي ٩ ځکه ګوره زه به
په هغو باندِ خپل لاس وخوځوم او دوي به دَ خپلو غلامانو دَپارَ

لوټ شِي پس له هغه به تاسي پوه شئِ چه زه خداوند دَ لښکرو
١٠ را استولي يم ١٠ اي دَ صيحون لوري ته سندرِي وايه او خوښي کوه ځکه
کوره چه راځم او ستا په منځ کښ به استوګنه کوم خداوند وايي
١١ ١١ او هغه ورځ به ډير قومونه له خداوند سره پيوسته شي او دوي
به ځما اُمّت وِي او زه به ستا په منځ کښ اوسم او ته به پوه شي چه
١٢ خداوند دَ لښکرو زه تا ته دراستولي يم ١٢ او خداوند به يهوداه لره
په مقدّسه زمکه کښ خپله ميراثِ بخره واخلِي او اورشليم به بيا
١٣ غوره کړِي ١٣ اي ټولو خلقو دَ خداوند دَ وړاندِ چپ اوسئِ ځکه
چه دي له خپل مقدّس مکان نه ويښ کيدونکي دَي *

دريم باب

١ ١ او هغه ما ته راوښيله سردار کاهن يهوشوع دَ خداوند دَ فرښتي
دَ وړاندِ ولاړ دَي او شيطان دَ هغه په ښي لاس ولاړ دي چه دَده
٢ مقابله وکړِي ٢ او خداوند شيطان ته وويل چه اي شيطانه خداوند
دِ تا ملامت کړِي هو هغه خداوند چه اورشليم ئي غوره کړي دَي
تا دِ ملامت کړِي ګنزه دا يوه شونټئِ نه دَه چه له اور نه را نيولي
٣ شوي دَه څه؟ ٣ او يهوشوع ګنده جامي اغوستي دَ فرښتي دَ وړاندِ
۴ ولاړ وه ۴ بيا هغه ځواب ورکړ او هغوي ته چه دده دَ وړاندِ ولاړ
وُو وئي ويل چه ګنده جامي له هغه وباسئِ نو هغه وويل چه
کوره ما ستا بدکارِي له تا نه لري کړِي دَه او زه به تا ته قيمتِي
٥ پوشاک دراواغوندم ٥ او ما وويل چه دَ هغه په سر باندِ يوي پاکه
پګړئِ کيږدئِ پس هغوي دَ هغه په سر باندِ پاکه پګړئِ کيښوه
او جامي ئي ور واغوستلي او دَ خداوند فرښته (دَ هغه څخه) ودريده
٦ ٦ او دَ خداوند فرښتي يهوشوع ته په تاکيد سره وويل ٧ چه
خداوند دَ لښکرو داسي فرمايي چه که ته ځما په لارو لاړ شي
او ځما امانتونه وساتي نو ته به ځما په کور حکومت وکړِي او ځما دَ

غولیو ساتنه به وکړي او زه به تا له دَدغو په مینځ کښ چه دلته
٨ کښ ولاړ دِي داسي ځاي درکړم چه ته په کښ دروميِ ۸ اوس اي
یهوشوع سردار کاهنه واوره ته او ستا رفیقان چه ستا دَ وړاندِ
ناست دِي ځکه چه دا سړِي دَ نخښي په طور دِي چه ګوره زه به خپل
٩ بنده ښاخ راولم ۹ ځکه چه هغه کاڼيَ چه ما دَ یهوشوع دَ وړاندِ
ایښي دَي ګوره هم په هغه یوه کاڼِي به اوه سترګي وِي ګوره زه به
دَ هغه نقش وکنم خداوند رب دَ لښکرو فرمايِي او زه به دَدي زمکي
١٠ دَ بدکارِي هم په یوی ورځي کښ لرِي کړم ۱۰ په هغي ورځي خداوند
دَ لښکرو فرمايِي چه له تاسي نه به هر یو سړِي دَ تاک دَ لاندِ او تر
انځیر دَ لاندي خپل همسایه را وبولِي ❊

څلورم باب

١ او هغه فرښته چه له ما سره ئي خبري کولي بیا راغله او لکه چه
٢ څوک له خوب نه ویښ کیږِي هم هسي هغي ویښ کړم ۲ او ما ته
چه ته څه وېني وم ویل
ئي وویل چه ما لیدلي دَي او ګوره یو شمعدان بالکل دَ سرو زرو
او دَ هغه په سر باندي یو کټوري دَي او په هغه باندِ اوه چراغونه
او دَ هغو اوو چراغونو چه په هغو باندِ دِي اوه شپیلۍ چه دَ
٣ هغو په سر باندِ دِي ۳ او هغه ته نژدي دوه دَ زیتون وني یوه
٤ چه ده دَ کټورِي په ښي لورِي او بله دَ هغه په کیڼ لورِي ۴ او
ما هغي فرښتي ته چه له ما سره ئي خبرِي کولي ځواب ورکړ و مِ
٥ ویل چه اي څما خاوندَ دا څه دِي؟ ۵ نو هغي فرښتي چه له ما
سره ئي خبري کولي ځواب راکړ و ئي ویل کنه ته نه پوهیږِي څه؟ چه
٦ دا څه دِي؟ ما وویل نه اي څما خاونده ۶ نو هغي ما ته ځواب راکړ
زور سره او نه خو په
و ئي ویل چه دا دَ زروبابل دَ پارَ دَ خداوند کلام دَي چه نه خو په
٧ قوّت سره بلکه څما په روح سره خداوند دَ لښکرو فرمايِي ۷ اي لویه
غرِه ته څه یِي ته دَ زربابل دَ وړاندِ به یو میدان شي او هغه به دَ

٨ سرکاڼي په نارو سره راوباسي چه فضل فضل هغه لره ۸ بيا دَ
٩ خداوند کلام ما ته وشه ۹ او وئي ويل چه دَ زروبابل لاسونو دَدې
کور بنياد کښېښودلي دَي او دَ هغه لاس به ئي تمام کړي پس به
١٠ ته وپوهيږي چه خداوند دَ لښکرو زه تاسو ته استولي يم ۱۰ ځکه څوک
دَي چه دَدي وړوکيو څيزونو دَ ورځې سپکه ئي کړي دَه هغوي به
خوشحاله شي او دَ زروبابل په لاس کښ دَ سکي کاڼي به ووينې هو
هغه اوه چه دَ خداوند سترګې دِي چه په ټولي زمکي کښ دلته
١١ هلته زغلي ۱۱ نو ما په هغه ځواب کښ وويل چه دغه دواړه دَ زيتون
١٢ دَ وني چه دَ شمعدان په ښي په کيڼ طرف دِي څه دِي؟ ۱۲ او ما بل
وار خبري وکړي ورته و مِ ويل چه دغه دواړه ښاخونه دَ زيتون چه
دَ سرو زرو دَ دوو شپيليو سره پيوسته دِي چه دَدوي له څانګو
١٣ نه زرزرين (تيل) تښوي ۱۳ هغه ما ته ځواب راکړ و ئي ويل چه ته
١٤ نه پوهيږي څه ؟ چه دا څه دِي ۱۴ ما وويل نه اي څما خاوندَ هغه
راته وويل چه دا هغه دواړه مسح کړي زامن دِي چه دَ ټولي زمکي
دَ خداوند په حضور ولاړ اوسي *

پنځم باب

١ ۱ نو زه وګرزيدم او خپلي سترګي مِ پورته کړي او نظر مِ وکړ او ګوره
٢ يوه الوتونکي ملاتفه ۲ هغه راته ووِ چه ته څه ګوري ما ځواب ورکړ
چه الوتونکي ملاتفه وينم چه اوږدوالي ئي شل هاتي او پلنوالي لَس
٣ هاتي ۳ بيا هغه راته وُوِ چه دا هغه لعنت دَي چه په ټول روي زمين
نازل کيږي او هر يو چه غلا کوِي په دي لورِي به دَ هغه په دود رد کړي
شي او هر يو چه بيځايَ قسم خورِي به هغه لورِي به دَ هغه په
٤ دود رد کړي شي ۴ زه به هغه روان کړم خداوند دَ لښکرو فرمايي
او هغه به دَ غله کره او دَ هغه کره چه څما په نوم دروغ قسم کوِي
ننوزي او دَ هغه دَ کور په منځ کښ به پاتي شي او هغه به دَ هغه

له لرگیو او دَ هغه له کاڼیو سره برباد کړي
۵ ۵ او هغه فرشته چه له ما سره ئې خبري کولي راووتله او
ما ته ئي وویل چه اوس ته خپلي سترگي پورته کړه اوگوره دا چه راوزي
۶ څه دِي ۶ ما وویل چه دا څه دِي؟ هغه وویل داچه راوزي یوه ایفه
دَه او هغه وویل چه په ټوله زمکه کښ هم دغه دَ هغو سترگي دِي
۷ ۷ وگوره یو گرد برغولي دَ سکي پورته کړي او یوه ښځه دَه چه دَ ایفي
۸ په منځ کښ ناسته دَه ۸ او هغي وویل چه دا شرارت دَيَ او هغي دَ غه
دَ ایفي په منځ کښ وپرزوله او دَ هغي سکي برغولي ئې دَ هغي په خولي
۹ واچاوه ۹ بیا مِ خپلي سترگي پورته کړي او نظر مِ وکړ او گورئِ دوه
ښځي را ووتي او باد دَ هغو په وزرو کښ وُو او دَ هغو وزر لکه وزر
۱۰ دَ ډینگ او هغو ایفه دَ آسمان او دَ زمکي په مینځ پورته کړه ۱۰ نو
ما هغي فرښتي ته چه له ما سره ئې خبري کولي وویل چه دغه ایفه
۱۱ چرته وړي؟ ۱۱ هغي را ته وویل دي دَ پارَ ئي وړي چه دَ سنعار په زمکه
کښ دَ هغي یو کور جوړ کړي چه هغه ودراوه شي او پخپل بنیاد بانذِ کیښود شي٭

شپږم باب

۱ ۱ نو زه وگرزیدم او خپلي سترگي مِ پورته کړي او نظر مِ وکړ نو گوره
چه دَ هغو دوارو غرونو له منځ نه څلور گاډئِ را ووتي او هغه غرونه
۲ ۳ دَ زیړو غرونه وُو ۲ په اوله گاډئِ کښ سرنگ آسونه وُو ۳ او په دویمه
گاډئِ کښ مُشکي آسونه وُو او په دریمه گاډئِ کښ نقرِي آسونه او
۴ په څلورمه گاډئ کښ ابلق آسونه وُو ۴ نو ما هغي فرښتي ته چه له ما
۵ سره ئې خبري کولي وویل چه اي څما خاوندَ دا څه دَي ۵ او فرښتي ځواب
راکړ و ئي ویل چه دا دَ آسمان څلور ارواحونه دِي چه دَ ټولي زمکي
۶ دَ خاوند دَ حضور له ولاړیدلو را ووځي ۶ او مشکي آسونه چه په
۷ هغه کښ دِي دَ قطب و ملک ته ووځِي او سپین وریسي ووځي ۷ او
ابلق دَ سُهیل و ملک ته ووځِي سرنگ ووتل نیّت ئې وکړ چه په ټولي

زمکي وګرزي او هغي وو چه ځئ او په زمکي کښ لور په لوري وګرزئ
۸ او هغوي په زمکي کښ وګرزيدل ۸ نو هغي ماته را ناري کړي او وئي ويل
چه هغه ګوره چه دَ قطب و ملک ته وتلي دِي دوي ځما زړه دَ
قطب په مُلک کښ آرام کړي دي
۹ ۹ بيا دَ خداوند کلام ماته راورسيده او و ئي ويل ۱۰ چه
۱۰ ته له بنديانو سره يعني له خلدِي او له طوبياه او له يدعياه سره
چه له بابل نه راغلي دِي هلته سپين او سره زر واخله او ته
۱۱ هغه ورځ لاړ شه صفنياه دَ زوي يوسياه کره ورننه ووزه ۱۱ او تاجونه
جوړ کړه او دَ يهوشوع زوي دَ يهوصدق سردار کاهن په سر ئي کيږده
۱۲ ۱۲ او داسي ورته ووايه چه خداوند دَ لښکرو داسي فرمائي چه ګوره
هغه سړي چه نوم ئي شاخ دي او هغه به دَ خپل ځاي له لاندِ نه
۱۳ زرغون شي ۱۳ او دَ خداوند هيکل به جوړ کړي هم هغه به دَ خداوند
هيکل جوړ کړي او هم هغه به جمال واخلي او پخپل تخت به کښيني
حکومت به کوي او هغه به پخپل تخت ناست کاهن به هم وِي او دَ
۱۴ سلامتي مصلحت به په دواړو کښ وِي ۱۴ او هغه تاجونه به حيلم
او طوبياه او يدعياه او حين زوي دَ صفنياه لره وِي چه دَ
۱۵ خداوند په هيکل کښ يوه يادګاري وِي ۱۵ او هغوي چه لري لري
دِي را به شي او دَ خداوند په هيکل کښ به بنا وکړي او تاسي به پوه شئ
چه خداوند دَ لښکرو زه تاسي ته در استولي يم او که تاسو دَ خداوند
خپل الله آواز په آوريدنه سره واورئ نو داسي به وشي ✣

اوم باب

۱ ۱ دَ دارا بادشاه په څلورم کال کښ داسي وشول چه دَ خداوند کلام دَ
نهمي مياشتي په څلورم (تاريخ) يعني په کسليو (مياشتي) کښ ذکرياه ته
۲ ورسيده ۲ دا هغه وقت وشه چه بيت ايل شراځر او رجم ملک او دَ هغو
۳ خلق واستول چه دَ خداوند په حضور دعا وغواړي ۳ او چه دَ لښکرو

دَ خداوند دَ کور کاهنانو ته او نبیانو ته ووایِي چه زه به په پنځمي
میاشتي کښِ وژاړم څه ؟ او ځان جدا کړم لکه چه ما له څو کالونو کړي دي
۴ نو خداوند دَ لښکرو کلام ماته را ورسیده ۵ او وئي ویل چه ته دَ ۴ ۵
زمکي وټولو خلقو ته او کاهنانو ته ووایه چه هرکله چه تاسي په پنځمي
او په اوومي میاشتي کښِ تر هغو اویاؤ کالو پوري روژه ولرله او وِیر مو
وکړ نو کله موځما دَپارَ هم ولرله هو هم ځما دَپارَ څه ؟ ۶ او هرکله چه ۶
تاسي وخوړل او وڅښل نو کنږه دَ خپل ځان دَپارَ مو نه وخوړل او نه
وڅښل څه ؟ ۷ کنږه دا هغه خبري نه دِي څه ؟ چه خداوند دَ وړاندنیو ۷
نبیانو په معرفت په نارو نارو وکړي هغه وقت چه اورشلیم آباد او
آسوده حالَ وُه او دَده په ګرداګرد ښهرونو هم داسي وُو هغه وقت چه
خلقو دَ سُهیل په زمکه کښِ او په میدان کښِ استوګنه کوله
۸ بیا دَ خداوند کلام ذکریاه ته ورسیده ۹ او وئي ویل چه ۸ ۹
خداوند دَ لښکرو داسي وایِي چه تاسي رښتني عدالت کويِ او هرڅوک
په خپل خپل وړور کرم او رحم کويِ ۱۰ او په کونډو او په یتیمانو او په ۱۰
مسافرانو او په مسکینانو ظلم مه کويِ او هیڅوک دِ له تاسي نه پخپل زړه
کښِ دَ خپل وړور دَ بدِي فکر نه کوِي ۱۱ لیکن دوي له فکر کولو انکار ۱۱
وکړ بلکه دَ بې‌فرمانِي اوږه ئي وکړه او خپل غوږونه ئي بند کړل تا چه
نه واورِي ۱۲ بلکه خپل زړونه ئي الماس کړل تا چه تورِیت او دَ هغه ۱۲
کلامونه چه خداوند دَ لښکرو دَ وړاندنیو نبیانو په لاس له خپل روح
نه استولِي وُو نه واورِي دي دَپارَ دَ خداوند دَ لښکرو له طرف نه لوي
قهر نازل شه ۱۳ او داسي وشول لکه چه هغه ناري وکړي او دوي اوریدونکي ۱۳
نه شول هم هسي دوي به ناري وکړي او زه به نه واورم خداوند دَ لښکرو
فرمایِي ۱۴ بلکه زه به هغوي په هغو ټولو قومونو کښِ چه دوي ورنه ۱۴
ناخبر دِي په ګرد باد تار په تار کړم هم هسي دَدوي په وروستو زمکه وړانه
شوه داسي چه هیڅوک په هغي کښِ تله راتله نه کول ځکه چه هغوي

هغه زه خوښونکي زمکه ویرانه کړي ده ۰

اتم باب

۱ آ بیا دَ خداوند کلام وماته راورسیده ۲ او وئي ویل چه خداوند دَ
لښکرو داسي فرمائي چه دَ صیحون دَپارَ ډیر ډیر غیرتناک شولم بلکه له لوي
۳ غیرت سره زه دَ هغه دَپارَ غیرتناک شوم ۳ خداوند داسي فرمائي چه
زه په صیحون کښې بیا راغلم او دَ اورشلیم په منځ کښې به استوګنه وکړم
او دَ اورشلیم نوم به دَ امان ښهر او دَ خداوند دَ لښکرو غر به
۴ مقدّس غر بللي شي ۴ خداوند دَ لښکرو داسي فرمائي چه بیا به زاړه سړي
او زړي ښځي دَ اورشلیم په کوڅو کښې ناستي وي او دَ هر یوه سړي
۵ په لاس کښې به دَ هغه دَ ډیرو ورځو په سبب په امسا وي ۵ او دَ
ښهر کوڅي به له هلکانو او له جنکیو ډکي وي چه په کوڅو کښې به لوبي
۶ کوي ۶ او خداوند دَ لښکرو داسي فرمائي چه اګر که دغه په هغو ورځو
دَدي قوم دَ باقیه په سترګو کښې عجیبه وه نو هم خما په سترګو کښې
۷ عجیبه وي څه ؟ خداوند دَ لښکرو فرمائي ۷ خداوند دَ لښکرو داسي
فرمائي چه ګوره زه به خپل خلق دَ نمرخاته له ملک نه او دَ پرېواته له
۸ ملک نه راخلاص کړم ۸ او زه به ئي راولم او دوي به دَ اورشلیم په
منځ کښې استوګنه کوي او دوي به خما اُمّت وي او زه به په امان او صداقت
۹ سره دَ دوي الله شم ۹ خداوند دَ لښکرو داسي فرمائي چه اي (خلقو) خپل
لاسونه مضبوط کانړئ تاسي چه په دي ورځو کښې دا خبري دَ نبیانو له
خلو اورئ چه په هغه ورځ وي چه خداوند دَ لښکرو دَ هیکل بنیاد
۱۰ اچاوه کیده تا چه هیکل بنا کړي شي ۱۰ څکه چه له هغو ورځو وړاندې
نه دَ انسان دَپارَ مزدوري وه او نه دَ څناورو مزدوري وه او نه
دَ دښمن په سبب دَ وتونکیو او دَ ننه وتونکیو سلامتي وه څکه چه
۱۱ ما ټول آدمیان هر یو په خپل ګاونډي ولیږه ۱۱ لیکن اوس به زه
دَدي قوم دَ باقیه دَپارَ نه شم لکه چه په وړاندنیو ورځو کښې و

۱۲ خداوند دَ لښکرو فرمایي ۱۲ بلکه دَ سلامتي فصل به وي ځکه چه تاک
به خپلي میوي راوړي او زمکه به خپل حاصل ورکړي او آسمان به
خپل شبنم ورکړي او زه به دَ دي قوم باقیه دَ دي ټولو وارثان
۱۳ کړم ۱۳ او داسي به وشي اي دَ یهوداه کوره او اي دَ اسرائیل کوره لکه
چه تاسي دَ غیرِ قومونو په منځ یو لعنت وئ هم هسي به موخلاص
کړم او تاسي به یو برکت شئ مه دارېږئ بلکه ستاسي لاسونه دِ
۱۴ مضبوط وي ۱۴ ځکه چه خداوند دَ لښکرو داسي فرمایي لکه چه ما
نیت کړي وه چه له تاسي سره بد وکړم هغه وقت چه ستاسي پلرونو
او نیکونو زه په غصّه کړم خداوند دَ لښکرو فرمایي او ما پښیماني
۱۵ و نه کړه ۱۵ هم هسي زه په دي ورځو کښ وګرزېدم فکرِ مِ وکړ چه
دَ اورشلیم او دَ یهوداه له ټبره سره به نیکي وکړم پس تاسي مه
دارېږئ

۱۶ ۱۶ دا هغه کلمونه دي چه تاسي پرِ عمل وکړئ چه
هر یو سړي له خپل ګاونډي سره رښتیا وایي او تاسي په خپلو
۱۷ دروازو کښ رښتني او دَ صلحي انصاف سره عدالت کانږئ ۱۷ او له
تاسي دِ هیڅوک پخپل زړه کښ دَ خپل ورور دَ بدي خیال نه کوي
او په دروغ قسم مینه مه کوئ ځکه چه زه له دي ټولو څیزونو نفرت
کوم خداوند فرمایي

۱۸ ۱۹ ۱۸ بیا دَ خداوند دَ لښکرو کلام ما ته را ورسیده ۱۹ او ده
وویل چه خداوند دَ لښکرو داسي فرمایي چه دَ څلورمي میاشتي روژه
او دَ پنځمي روژه او دَ اوومي روژه او دَ لسمي روژه دَ یهوداه دَ کور
دَ پاره به خوښي او خوشحالي او دَ خوښي کولو عیدونه وي دي دَ پار تاسي
۲۰ رښتني او سلامتي مینه کوئ ۲۰ خداوند دَ لښکرو داسي فرمایي چه
په آینده کښ به داسي وشي چه قومونه او دَ ډیرو ښهرونو اوسېدونکي
به راشي او دَ یوه ښهر اوسېدونکي به وبل (ښهر) ته ورشي و به

وایي چه ځئ چه څُو تا چه موبز دَ خداوند مهرباني وغواړُو او خداوند
۲۲ دَ لښکرو و لټوُو هوزه به هم لاړ شم ۲۲ او ډیر خلق او زوراور
قومونه به دَ خداوند دَ لښکرو ولټولو ته او دَ خداوند دَ مهرباني
۲۳ غوښتلو له به اورشلیم کښ راشي ۲۳ خداوند دَ لښکرو داسي فرمايي
چه په هغو ورځو کښ (به داسي وشي) چه دَ قومونو لس سړي له
ټولو ژبو دَ قومونو نه لاس به ونسي هو دَ یوه یهودي سړي لمن به
ونیسي او و به وایي چه موبز به له تا سره لاړ شُو ځکه چه موبز
اوریدلي دي چه الله له تاسو سره دَي *

نهم باب

۱ ۱ دَ خداوند الهامي کلام چه دَ حدرک په زمکي کښ دَي او دمشق دَ
هغه آرامګاه وي چه دَ بني‌آدم او دَ اسرائیل دَ ټولو فرقو سترګي به
۲ دَ خداوند په لوري وي ۲ او دَ حمات هم چه له هغه سره پیوسته
۳ دَي او صور او صیدا هم هرڅوکه هغه لوي عقلمند دي ۳ هو اګر
که صور دَ ځان دَپارَ یوه مضبوطه قلا جوړه کړه او دَ دوړو په دود
ئي دَ سپینو زرو توده جوړه کړه او خالص زر ئي دَ کوڅو دَ چیکړ په
۴ شان ۴ ګورئ خاوند به ئي خارج کړي او دَي به دَ هغه قوت په دریاب
۵ کښ ووهي او په اور به وخوړلي شي ۵ اشقلون به ویني او و به
داریږي او غزه دِ هم ویني او ډیر دردمند به شي عقرون هم چه دَ
هغه انتظاري به شرمنده شي او له غزه به بادشاه نابود شي او
۶ اسقلون به آباد نه شي ۶ او یو حرامزاده به په اشدود کښ و اوسي
۷ او زه به دَ فلسطیانو کبرجني پریکړم ۷ او زه به دَ هغه ویني دَ هغه
له خولي نه او دَ هغه نفرتناک څیزونه دَ هغه له غابښونه راوباسم
او هغه به یوه باقیه وي دَ موبز دَ الله دَپارَ او هغه به دَ هغه
سردار په دود وي چه په یهوداه کښ دَي او په عقرون کښ به دَ
۸ یبوسي په دود وي ۸ او زه به دَ خپل کور شا او خوا په فوځ سره

مضبوط کړم له هغه نه چه تیریږي او له هغه نه چه راګرزي له
دي وروستو به هیڅ ظالم دَ هغو په منځ کښ تیر نه شي ځکه
چه اوس مِ پخپلو سترګو لیدلي دي
9 ۹ اي دَ صیحون لوري ته بيحده خوښي کوه اي دَ اورشلیم لوري
ته ناري وکړه ځکه ګوره ستا بادشاه تا ته راځي هغه صادق دي او
نجات، ورسره دي هغه حلیم دي او په خره باندِ په ځوي دَ خري
10 هو په کوتي باندِ سوار دي ۱۰ او زه به دَ افرائیم ګاډئِ او دَ
اورشلیم آسونه پریکړم او جنګي لیندي به پریکړي شي او هغه به
قومونو ته دَ صلحي زیري ورکړي او دَ هغه بادشاهت به له سمندره
تر سمندر
11 پوري او له دریاب نه دَ زمکي تر انتها پوري وِي ۱۱ او ته چه يي له
تا سره دَ وینو دَ وعدي په سبب ما ستا بندیان له هغه کوهي نه
12 چه هلته کښ اوبه نشته دَ باندِ استولي دِي ۱۲ تاسي و هغي مضبوطي
قلا ته بیرته راشئِ اي امیدوارو بندیانو زه نن ورځ وایم چه زه به
13 تاسي ته دوه ګون درکړم ۱۳ ځکه چه ما یهوداه دَ خپل ځان دَ پاره
تیټ کړ او لینده مِ له افرائیم نه ډکه کړه او زه به اي صیحون ستا
زامن ولمسوم ستا په زامنو اي یونانه او زه به تا دَ پهلوان دَ توري
14 په دود جوړ کړم ۱۴ او خداوند به دَ هغو دپاسه ښکاره شي او دَ
هغه غشي به دَ بریښنا په شان ووزي هو خداوند الله به شپیلۍ
15 پو کړي او دَ سُهیل په بربوکیو کښ به وګرزي ۱۵ او خداوند دَ لښکرو
به ورځرګند شي او دوي به ونغري او دَ مچوغنو په کاڼیو به پښي
ږدي او هغوي به وڅښي او شور به کوي لکه له شرابو نه او دَ
16 کټوریو په دود او دَ مذبح دَ کونجونو په ځیر به ډک وي ۱۶ او خداوند
دَ هغو الله به خپل اُمّت دَ رمي په شان په هغي ورځي خلاص
کړي ځکه چه دَ ګوهر دَ تاج په طور به شي چه دَ هغه په زمکي
17 باندِ بلندي نیسي ۱۷ ځکه چه دده احسان څومره عظیم دي او دده

حسن څرنګ ښه دَي غلي به ځوانان تازه کړي او نوي شراب پيغلي ❊

لسم باب

۱ آ تاسي له خداوندَ باران وغواړئ دَ ورستني باران په وقت کښ
څکه چه خداوند بريښناوي جوړوي او دَ شيبو باران به ورکړي
۲ سړي ته په پټي کښ وابښه ۲ څکه چه ترافيم دَ بطلان خبري
ويلي دي او غيب ليدونکيو تکي ليدلي دَه او دَ دروغو خوبونو بيان
ئې کړي دَي هغوي په باطل سره تسلّي ورکوي دي دَپارَ دوي دَ
رمي په دود وتړهيدل دوي عذاب وموند څکه چه دَدوي شپون
۳ نه وه ۳ ځما غضب په شپنو زيات شوي دَي او زه به سردارانو
ته سزا ورکړم نو هم خداوند دَ لښکرو په خپلي رمي يعني دَ اهل
يهوداه بازخواست کړي دَي او هغوي به په جنګ کښ خپل ښائسته
۴ آس غوندِ جوړ کړي ۴ دَ هغه له لوري نه دَ کونج کاڼي له هغه
نه ميخ له هغه نه جنګي ليندَه له هغه نه به هر يو حاکم ووزي
۵ ۵ او دوي به دَ پهلوانانو په دود په جنګ کښ دښمنان دَ کوڅو دَ خټو
په شان ودرَبي او دوي به وجنګيږي څکه چه خداوند ور سره دَي
۶ او هغوي چه په آسونو سواره دِي شرمنده به شي ۶ څکه چه زه
به دَ يهوداه وکورمي ته قوّت ورکړم او دَ يوسف وتبر ته به خلاصي
وبخښم او زه به هغوي بيا کښينوم څکه چه ما په دوي باندِ رحم
کړي دَي او هغوي به داسي وِي چه ګويا کښ ما دوي هيڅري ترک
کړي نه وُو څکه چه زه خداوند دَدوي الله يم او دَدوي به
۷ واورم ۷ او افرائيم به پهلوان غوندِ وِي او دَ هغوي زړه لکه
له شرابو هم هسي به خوشحال وِي بلکه دَ هغو اولاد به هم
ووِيني او خوښي به وکړي دَدوي زړه به په خداوند کښ خوشحال
۸ وِي ۸ زه به دَدوي دَپارَ شپيلکي ووهم او دوي به سره راټول کړم
څکه چه ما دوي ته فديه ورکړي دَه او دوي به ډير شي لکه چه

۹ دیر شوي وُو ۹ هر څو چه ما دوي دَ قومونو په منځ کښې وکرل نو
هم دوي به ما په هغو لرې لرې ملکونو کښې یاد کړي او دوي به
۱۰ له خپل عیال سره ژوندي وِي او پسته به راشي ۱۰ زه به دوي دَ
مصر له زمکې بیرته راولم او دوي به له آسور نه راټول کړم او
دَ جلعاد او دَ لُبنان په زمکه کښې به ئې بیرته راولم تر دې حده چه
۱۱ دَ دوي دَپارَ به ځای منده نه شي ۱۱ او دَې به دَ تنګي په دریاب کښې
پوري خوا ته لار شي او دَي به دَ دریاب چاپې ووهي او ټولې ژورې
دَ نیل به وچې شي او دَ آسور غرور به لاندې کړې شي او دَ مصر
۱۲ امسا به لاړه شي ۱۲ او زه به دوي لره په خداوند کښې قوّت ورکړم او
دوي به خپل ژوند دَده په نوم وګرزوي خداوند فرمایي ❖

یولسم باب

۱ ۱ اي لُبنانَ ته خپلې دروازې وازې کړه تا چه اور ستا نشتر وخوري
۲ ۲ اي دَ سروو ونو وِیر وکړه ځکه چه نشتر پرېوتل ځکه چه شاندار
لوټ شوي دي اي دَ بسن دَ بلوط ونو وِیر کوئ ځکه چه ګڼه بنه
پرېوتلې دَي
۳ ۳ دَ شپنو دَ وِیر آواز دَي دي دَپارَ چه دَ هغو دبدبه لوټ
شوله دَ ځوانانو ببرو زمریو دَ غړنبا آواز دَي ځکه چه دَ اردن کبرجنې
۴ لوټ کړې شوه ۴ خداوند خما الله داسې فرمایي چه میږې وڅروي چه
۵ دَ حلالو دَپارَ دي ۵ چه مالکان ئې ذبحه کوي او ځانونه ګنهګار نه ګڼي
او له هغوي نه هر یو چه هغوي خرڅوي وایي چه خداوند دِ مبارک وِي چه
زه مالدار شوم او دَ هغو خپل شپانه په هغو زړه سوَی نه کوي -
۶ ۶ ځکه چه زه به بیا دَ ملک په اوسیدونکیو زړه سوَی و نه کړم خداوند
فرمایي لیکن ګوره زه به دَ هغو سړیو هر یو تن دَ هغو دَ همسایه او دَ
هغو دَ بادشاه په لاس کښې کړم او هغوي به زمکه تباه کړي او زه به
۷ دوي دَ هغو له لاسونو خلاص نه کړم ۷ پس ما هغه میږې چه دَ حلالولو

دَپارَ وي هو دَ رمي مسکينان مِ وڅرول او ما دوه ټونډۍ واخستلي
٨ يوي ته مِ نغَم وويل او بلي ته حبل او رمه مِ وڅروله ٨ او ما دري
شپانه په يوي مياشتي کښ هلاک کړل او ځما ځان له هغوي تنک شه
٩ او دَ هغوي ځانونو رانه نفرت وکړه ٩ نو ما وويل چه زه به بيا تاسي
ونه څروم هغه چه مري مره دِ شي اوچه په پرېکېدلو وي پرېکړ دِ شي
او هغه چه باقِي به وي نو له هغوي دِ هر يو دَ بل غوښي خوري-
١٠ ١٠ پس ما خپله نغَم لټونډۍ واخسته او ماته مِ کړه دي دَپارَ چه
هغه ځما خپله وعده چه ما له ټولو قومونو سره تړلي وه ماته کړم
١١ ١١ نو په هغي ورځي کښ ماته شوه او دَ رمي مسکينان چه ځما لار ني
١٢ کتله وپوهيدل چه دا دَ خداوند کلام دَي ١٢ او ما هغوي ته وويل
چه که ستاسي په سترګو کښ ښه راځي نو ځما مزدوري ماته
راکړئ او که نه نو پري ئې ږدئ او هغوي ځما دَ مزدوري دَپارَ ديرش
١٣ روپئ په ټول راکړي ١٣ اوخداوند ماته وويل چه هغه کلال ته
ئې وغورزوه هغه ښه قيمت چه هغوي ځما مقرّر کړي وُه او ما
هغه ديرش روپئ واخستي او دَ خداوند په کور کښ مِ کلال ته
١٤ وغورزولي ١٤ بيا ما خپله دويمه لټونډۍ حبله پرېکړه تاچه هغه
وروړګلوي چه په اسرائيل او په يهوداه کښ ده ماته کړم
١٥ ١٥ او خداوند ماته وويل چه ته بيا دَ نادان شپانه وسله
١٦ خپل ځان له واخله ١٦ ځکه ګوره زه به په ملک کښ يو شپون مقرّر
کړم چه دَ هغو چه په هلاکيدلو دِي خبر به ئې ونه خلي او هغو
له چه ورک شوي دِي و به ئې نه لټوي او هغوي چه زخمي وِي جوړ
به ئې نه کړي او هغه چه ولاړ وِي نه به ئې وڅروي ليکن دَ
١٧ څربو غوښي به وخوري او دَ هغو سُمونه به پرېکړي ١٧ هي هي په
١٨ هغه ناکس شپانه چه رمه پرېږدِي ١٨ توره به دَ هغه په
وزر باندِ او دَ هغه په ښي سترګي باندِ وِي دَ هغه وزر بالکلّ

وچ او دَ هغه ښي سترګه به ضعيفه شي *

دولسم باب

۱ ا دَ خداوند دَ خبري وحيه چه په اسرائيل باندِ دَه هغه خداوند
فرمايي چه آسمانونه غوړوِي او دَ زمکي بنياد آچوِي او دَ انسان
۲ دننه ئي روح پيدا کوي ۲ ګورئ زه به داسي وکړم چه اورشليم به
دَ هغه لوري دَ ټولو قومونو دَپارَ رپيدلي پياله شي او دَ يهوداه به
هم (داحال) وِي په ګير کيدلو دَ اورشليم
۳ ۳ او په هغه ورځ کښ به داسي وشي چه زه اورشليم لره
دَ ټولو قومونو دَپارَ يو دروند کاڼي کړم او ټول چه هغه پورته کوي
ټکړي ټکړي به شي او دَ زمکي ټول قومونه دَدغه په مقابل جمع
۴ شي ۴ هغه ورځ خداوند فرمايي زه به هر يو آس په حيراني ووهم
او دَ هغه سوار په ليونتوب سره ليکن خپلي سترګي به دَ يهوداه په
۵ کور پرانستلي لرم او دَ قومونو ټول آسونه به ووهم په ړوندوالي ۵ نو
به دَ يهوداه دَ قوم حاکمان پخپل زړه کښ ووايي چه دَ اورشليم اوسيدونکي
۶ دَ هغو دَ الله خداوند دَ لښکرو په سبب دَ مونږ قوّت دي ۶ زه به
هغه ورځ دَ يهوداه حاکمان دَ هغه نغري په دود چه دَ لرګيو په منځ
کښ وِي او دَ هغه بل مشعل په شان چه دَ خښتي په منځ کښ وِي
کړم او دغه به په ښي لورِي او په کيڼ لورِي ټول قومونه ونغري او
اورشليم به بيا پخپل مقام باندِ اوسيدونکي شي هو په اورشليم کښ
۷ ۷ او خداوند به دَ يهوداه خيمو ته ورښي خلاصون ورکړي تاچه دَ
داؤد کور او دَ اورشليم اوسيدونکي په يهوداه خپل فخر لوئي ونه کړي
۸ ۸ هغه ورځ به خداوند دَ اورشليم دَ اوسيدونکيو مددګاري وکړي
او هغه چه په دغي ورځي له هغوي په پړتنه وِي دَ داؤد په دود
به وِي او دَ داؤد کور به دَ الله غوندي وِي بلکه دَ خداوند دَ
فرښتي په شان چه دَ هغو په مخ کښ وِي

۹ ۹ او هغه ورځ به داسې وشي چه زه به هغو ټولو قومونو
ته چه په اورشليم باندِ ختلو ته ورځي سراغ وکړم چه ئې هلاک کړم
۱۰ ۱۰ او زه به دَ داؤد په ټبر او دَ اورشليم په اوسيدونکيو دَ فضل
دَ زارِي روح و اورم او دوي به په ما باندِ چه خيرلي ئې يم نظر
وکړِي او دوي به په هغه باندِ وِير وکړي لکه چه څوک دَ خپل يوه
ځوي دَپارَ وِير کوي او هغوي به دده دَپارَ په تلخي کښ وِي لکه
۱۱ چه څوک دَ خپل مشري ځوي دَپارَ په تلخي کښ پريوزِي ۱۱ او هغه
ورځ به په اورشليم کښ لوي وِير وِي دَ هددرمون دَ وير په شان
۱۲ دَ مجدّون په کندي کښ ۱۲ او ټول زمکه به وِير کوِي: هره کورمه
کورمه: دَ داؤد کورمه بيله او دَ هغو ارتيني بيلي دَ ناتن کورمه
بيله او دَ هغو ارتيني بيلي دَ لاوِي ټبر بيل او دَ هغو ارتيني
بيلي دَ سمعِي کورمه بيله او دَ هغه ارتيني بيلي ټولي ټبري چه
باقي پاتي شي يوه يوه کورمه بيله بيله او دَ هغو ارتيني بيلي بيلي÷

ديارلسم باب

۱ ۱ په هغه ورځ به دَ خطا او دَ ناپاکي دَپارَ دَ داؤد دَ کورِي دَپارَ
او دَ اورشليم دَ اوسيدونکيو دَپارَ يو چينه وازه شي
۲ ۲ او هغه ورځ به داسې وشي خداوند دَ لښکرو فرمائي
چه زه به دَ بتانو نومونه له زمکي نه پريکړم او بيا به هيچري
ياد نه کړي شي او زه به نبيان او گنده روح له زمکي نه وباسم
۳ ۳ او داسې به وشي چه څوک نبوّت کوي نو دَ هغه مور پلار چه دغه
ورنه پيدا شه ورته و به وايِ چه ته به ژوندَي پاتي نه شي ځکه
چه ته دَ خداوند په نوم دروغ وايي او دَ هغه مور او پلار چه
دَي ورنه پيدا دَي هغه وقت چه دَي پيشين گوئي کوِي سورَي به
۴ ئې کړي ۴ او هغه ورځ به داسې وشي چه له نبيانو نه به هر يو

هغه وخت چه دَي نبوّت کوِي له خپلي رؤيا نه به شرمنده شِي
او هغه به هيڅري دَ وړيو جامي نه آغونډِي دَپارَ دَ فريب -
ة بلکه هغه به وائِي چه زه نبي نه يم زه سړي دَ زمکي نوکر ۵
يم ځکه چه ځما له ځوانِي نه زه غلام کړي شوي يم ة او يو به ۶
ورته ووائِي چه ستا په لاسونو دا څه زخمونه دِي نو ځواب
به ورکړِي چه دا هغه زخمونه دِي چه په ما باندِي دَ خپلو
دوستانو په کور کښې وشول ة اي توري ته ځما دَ شپانه په ۷
خلاف وِينښه شه او دَ هغه سړِي په خلاف چه ځما هم تا دَي
خداوند دَ لښکرو فرمائِي هغه شپون ووهه او رمه تار په تار
شِي او زه به خپل لاس په وړوکيو وګرځوم ة او داسي به وشِي ۸
خداوند فرمائِي چه په ټولي زمکي کښې ور نه به دوه حصّي
پريکړِي شِي او و به مړِي ليکن دريمه حصّه به په هغو کښې باقِي
پاتي شِي ة او زه به دريمه حصه دَ اور په منځ کښې بوزم او زه ۹
به هغوي داسي صاف کړم لکه چه سپين زر صافيږِي او داسي
به ئې وآزمايم لکه چه سره زر آزمايل کيږِي ة هغه به ځما ۱۰
نوم بولِي او زه به ئې واورم زه به ووايم چه دا ځما اُمّت دَي
او هغه به ووائِي چه خداوند ځما الله دَي *

څورلسم باب

آګوره دَ خداوند ورځ راځِي او ستا دَ لوټ به ستا په منځ کښې ۱
وويشلي شِي ة او زه به ټول قومونه راټول کړم چه په اورشليم ۲
باندي وجنګيږِي او ښهر به واخستلي شِي او کورونه به لوټ
کړي شِي او ښځي به بيعزّته شِي او نيم ښهر به په بند لاړ شِي
ليکن هغوي چه باقِي پاتي شِي له ښهر نه به پريکړي نه شِي ة پس ۳
به خداوند راووزي او له هغو قومونو سره لکه چه په خوا دَ
جنګ په ورځ جنګيدلي وُه جنګ به وکړي

۴ ۴ او هغه ورځ به دَده پښې دَ زیتُون په غره چه دَ
اورشلیم دَ وړاندِ و مشرق خوا ته دَي ودرېږي او دَ زیتُون غر
به دَ مغرب او دَ مشرق په مینځ داسې وچوي چه په هغه کښ
به لویه خوړه جوړه شِي ځکه چه نیم غر به دَ قطب په لوري
۵ لاړ شِي او نیم دَ هغه به دَ سُهیل په لوري ۵ او تاسې به
ځما دَ غرونو وخوړو ته وتښتئِ ځکه چه دَ غرونو خوړي به له اځل
سره کړي شي هو لکه چه تاسې دَ عزیاه بادشاه دَ یهودیانو په ورځو
کښ له زلزلي نه تښتیدلئِ هم هسې به وتښتئِ او یَهوَه ځما الله به
۶ راشِي او ټول پاکان ستا سره ۶ او هغه ورځ به داسې وشِي چه رڼا
به نه وِي او ځلیدونکي به تاریک شِي لیکن یوه ورځ به وِي چه
خداوند ته معلومه دَه نه ورځ او نه شپه بلکه داسې به وِي چه
۸ دَ نماښام په وقت به رڼا وِي ۸ او هغه ورځ به داسې وشي چه
ژوندانه اوبه به له اورشلیم نه ووزِي دَ هغو نیمې به دَ مشرقي سمندر
په لوري او دَ هغو نیمې به دَ مغربي سمندر په طرف په گرمي کښ او
۹ په ژمِي کښ به هم داسې وِي ۹ او خداوند به دَ ټولي دنیا بادشاه
وِي هغه ورځ به یو خداوند وِي او دَده نوم به یو وِي او ټوله
زمکه به بدله شِي دَ هغه عربَاه په دود به شِي چه له جبعه نه
تر رِمّون پوري دَ اورشلیم دَ سُهیل په لوري دِي هغه به پورته
کړي شِي او دَ بنیمین له دروازي نه دَ وړنبئ دروازي تر ځایَ
پوري او دَ کُنج تر دروازي پوري او دَ حننیل له برج نه دَ بادشاه
۱۰ تر انگوري تالابونو پوري به په خپل ځاي باندِ آباد کړي شِي ۱۱ او
خلق به په هغه کښ استوګنه کوي او بیا به لعنت هرګز نه وِي
بلکه اورشلیم به په توکّل سره اوسِي
۱۲ ۱۲ او دا هغه وبا وِي چه په دغې به خداوند هغه ټول قومونه
چه جنګیدلو نه په اورشلیم راختلي دِي ووهِي دَ هغو غوښې به

هغه وقت چه دوي ځپلو پښو ولاړ وي سخا شي او دَ هغو سترګي
به دَ هغو په غارونو کښ سخا شي او دَ هغو ژبې به دَ هغو په خولو
۱۳ کښ سخا شي ۱۳ او هغه ورځ به داسي وشي چه دَ خداوند له لوري
به دَ هغو په منځ کښ ډير هيبت پريوزي او هغوي به دَ خپل ملګري
لاس ونيسي او دَ هغه لاس به دَ خپل ملګري دَ لاس په خلاف پورته
۱۴ کړي شي ۱۴ او يهوداه به هم په اورشليم کښ وجنګيږي او دَ ټولو غير
قومونو مال چه شا او خوا دي که سره که سپين زر که جامي دي په
۱۵ ډير کثرت سره به جمع کړي شي ۱۵ او اسونه او کچري او اوښان او
خرونه او ټول ځناوران چه په هغو لښکرګاهو کښ وي په هغي شان
۱۶ مرګو لګه چه دا ده سره به شي ۱۶ او داسي به وشي چه هر يو له هغو ټولو
قومونو نه چه په اورشليم را وخيژي باقي شي نو کال په کال دَ بادشاه
۱۷ دَ لښکرو ته سجده کولو او عيدِ جونګړو منلو ته به ورخيژي ۱۷ او
داسي به وشي چه دَ زمکي له ټولو ټبرو نه چه دَ بادشاه خداوند دَ
لښکرو دَ وړاندِ و سجدي کولو ته په اورشليم ته ورنه خيژي په هغو
۱۸ به باران نه اوري ۱۸ او که دَ مصر ټبر نه وخيژي او نه راشي نو
په دوي به باران نه اوريږي بلکه په دوي هم هغه مرګو وي چه
په هغي سره به خداوند هغه غير قومونه چه نه ورخيژي تاچه دَ جونګړو عيد
۱۹ ومني ووهي ۱۹ هم دا به دَ مصر سزا وي او دَ ټولو قومونو سزا چه دَ
جونګړو عيد منلو ته نه خيژي

۲۰ ۲۰ هغه ورځ به دَ اسونو په ګنګريو دا ليکل وي قُدس يَهوَه لره
او دَ خداوند دَ کور ديګونه به له هغو کټوريو سره چه دَ مذبح دَ وړاندِ
۲۱ پښي دي برابر وي ۲۱ بلکه په اورشليم او په يهوداه کښ به هر يو ديګ
دَ خداوند دَ لښکرو دَ پاره قُدس وي او هغوي ټول چه ذبيحه کوي
را به شي او له هغوي به کوم يو واخلي او په هغو کښ به پخوي او په هغي
ورځي کښ به بيا هيڅ کنعاني دَ لښکرو دَ خداوند په کور کښ نه وي *

دَ ملاکيِ نبيِ کتاب

اول باب

۱ ۱ دَ خداوند الهامي کلام په لاس دَ ملاکيِ و اسرائيل ته ۲ خداوند
فرمايِي چه ما تاسي عزيز کړي يئِ په دي هم تاسي وايئِ چه تا
مونږ څرنګ عزيز کړلو ګنړه عيسو دَ يعقوب ورور نه وُه څه ؟
۳ خداوند فرمايِي ۳ ليکن ما په يعقوب مينه وکړه او ما له عيسو
سره دښمني وکړه او دَ هغه غرونه مِ ويران کړ او دَ هغه ميراث
۴ دَ بياباني شغالانو لره ۴ اګر که آدوم وايِي چه مونږ مو نړيدلي يُو ليکن
مونږ به راُوګرزو ويران مکانونه به آباد کړُو خداوند دَ لښکرو داسي
وايِي چه دوي خو به ئي آباد کړِي مګر زه به ئي ونړوم او بدي به ئي
دَ شرارت حد و بولي او هغه قوم چه مدام خداوند پري غضب
۵ کړي دي ۵ او ستاسي سترګي به ئي ويني او تاسي به ئي وايئِ چه
دَ خداوند بزرګيِ دِ دَ اسرائيل له سرحدَ د باندِ وشيِ
۶ ۶ ځوي دَ خپل پلارَ او نوکر دَ خپل خاوند تعظيم کوِي نو که
زه پلار يم نو ځما عزّت چرته او که خاوند يم نو ځما ويره چرته
خداوند رب دَ لښکرو تاسي ته وايِي اي کاهنانو چه ځما نوم سپک ګنړئِ
۷ نو هم تاسي وايئِ چه په څه کښ مو ستا نوم سپک کړي دَي ۷ تاسي ځما
په مذبح باندِ ناپاکي ډوډيئِ پيشي کوئِ او وايئِ چه په څه مو ته
ناپاک کړي په دي خبري ستاسو چه دَ خداوند خوانچه سپکه شوه او
چه تاسي رانده دَ ذبحي دَپارَ ګذارئِ نوګنړه دا بد نه دِي څه ؟ -
۸ ۸ او که ګډان او رنځوران ګذارئِ نو ګنړه دا بد نه دِي څه ؟ هغه
خپل حاکم ته پيش کړه نو ګنړه هغه به له تا نه راضِي شِي څه ؟ او
۹ هغه به ستا مخ کړِي څه ؟ خداوند دَ لښکرو فرمايِي ۹ اوس تاسي

دَ الله مخ ته عرض کوئِ چه دَي په سونږ باندِ فضل وکړِي دا ستاسي
له لاسه شوِي دِي گنړه دي به ستاسو مخونه منظور کړِي څه ؟ -
١٠ خـداوند دَ لښکرو واېِي ١٠ کاشکي چه ستاسي په منځ کښ داسي څوک
وَي چه دروازه بنده کړِي او نه څما په مذبح وېړيا اور بل کړِي زه له
تاسي راضِي نه يمِ خداوند رب دَ لښکرو فرمايِي او ستاسي دَ لاس
١١ هديه به هرگز قبوله نه کړم ١١ ځکه چه له نمرخاته نه دَ هغه تر
پرېوانه پورې به څما نوم دَ غير قومونو په منځ کښ بزرگ دئ او په
هر مکان کښ به څما په نوم باندِ لُبان او پاک هديې تيري شِي
ځکه چه څما نوم به دَ قومونو په منځ کښ بزرگ دئ خـداوند
١٢ دَ لښکر رب فرمايِي ١٢ ليکن تاسي هغه ناپاک کړ چه وائِي چه دَ
خـداوند خوانچه نجسه دَه او دَ هغه حاصل هو دَ هغه خوراک
١٣ سپک دَي ١٣ او تاسي وويل چه گورئِ څومره ستومانِي دَه او په هغه
مو پُپه وکړ خـداوند رب دَ لښکرو وايِي
بيا تاسي څيرلي شوئِ او گډاڼ او رنځوران راوستل او په دي طور
سره مو هديه راوړه زه به هغه ستاسي له لاس نه قبوله کړم څه؟
١٤ خـداوند فرمايِي ١٤ ليکن لعنت په هغه دغاباز دي چه دَ هغه په
رمي کښ نر وِي او نضر پرِ کوِي مگر عيبناک څيز خاوند ته ذبحه کوِي
ځکه چه زه لوي بادشاه يمِ خـداوند رب دَ لښکرو فرمايِي او
څما نوم به دَ قومونو په مينځ کښ ويريونکَي وِي ÷

دويم باب

٢ ١ او اوس اي کاهنانو ستاسي دَپارَ دا حکم دَي ٢ که تاسي آوريدَ وکړِي
نه شئِ او په زړه کښ دا نه لرئِ چه څما نوم ته تمجيد ورکړئِ
خداوند رب دَ لښکرو فرمايِي نو زه به لعنت په تاسي واستوم او زه
به ستاسي په برکتونو لعنت وکړم هو په هغو مِ لعنت کړي دَي ځکه
٣ دَپارَ چه تاسي په هغي خبري زړه نه لگوئِ ٣ گورئِ زه به ستاسي

دَپارَ په تخم باندِ ترټنه وکړم او ګندګي هو ستاسي دَ پاکو
عیدونو ګندګي چه وِي ستاسي په مخ به ئي دروغورزوم او تاسو
به له هغي سره ورلي شئِ ۴ او تاسي به پوه شئِ چه ما تاسي ۴
ته دا حکم دراستولي دَي دَپارَ دَدي چه څما وعده له لاوِي سره
پاتي شي خداوند دَ لښکرو فرمايي ۵ څما وعده دَ ژوند او دَ سلامتي ۵
دَپارَ چه ما هغه ته دَ ویري دَپارَ ورکړه له هغه سره وَه څکه چه
هغه له مانه ویریده او څما دَ نامه له حضور نه په ترس کښ وُه
۶ دَ رښتِني تورات دَ هغه په خولي کښ وُه او دَ هغه په شونډو ۶
کښ هیڅ بدِي مونده نه شوه هغه له ما سره په سلامتِي او راستِي
چلیده او هغه ډیر دَ بدِي نه را وګرزول ۷ څکه چه بائده دِي چه ۷
کاهن په خپلو شونډو کښ علم وساتي او لازم دِي چه خلق ده له
خولِي نه دَ تورات طلب وکړي دي دَپارَ چه دَي دَ خداوند دَ لښکرو
رسول دَي ۸ لیکن تاسي له لاري نه په ډډه شوئِ تاسو ډیرو لره په ۸
تورات کښ ټوکر ورکړ تاسي دَ لاوِي وعده خرابه کړه خداوند دَ
لښکرو فرمايي ۹ او دي دَپارَ ما تاسي دَ ټول قوم دَ وړاندِ سپک او زار ۹
کړلئِ څکه چه تاسي څما لاري ونه ساتلي بلکه تاسي په تورات کښ طرفدار
شولئِ

۱۰ کنړه مونږ ټول دَ یوه پلار نه یُو څه ؟ کنړه مونږ یوه خدای ۱۰
پیدا نه کړُو څه ؟ پس څه سبب دَي چه مونږ دَ خپلو پلرونو او نیکونو
وعده ناپاکه کُو چه پخپل منځ کښ سړي له وزور سره ټګي کوِي
۱۱ یهوداه ټګي وکړه په اسرائیل او په اورشلیم کښ یو مکروه کار ۱۱
شوي دَي یهوداه دَ خداوند مقدّس چه دَي ورباندِ مین وه ناپاک
کړ او دَ بیګانه معبود لور ئي په نکاح کړه ۱۲ خداوند هغه سړِي لره ۱۲
چه داسي کوِي ویښ او جواب کونکي او هغه هم چه خداوند دَ لښکرو
دَ وړاندِ هدیه تیروِي پرِي به ئي کړِي دَ یعقوب له خیمو نه ۱۳ او دغه ۱۳

تاسي دوباره کوئِ چه دَ خداوند مذبح صو په اوښکو او په ژړا او په
زګیروو پټ کوئِ تر دي حده چه دَي بیا هیڅري هدیه قبوله نه کړِي او
۱۴ ستاسي له لاس نه هیڅري په رضا وانه خلي ۱۴ پر دي هم تاسي وائِ چه
څه سبب دَي سبب دا دَي چه خداوند ستا او ستا دَ ځواني دَ ښځي په
منځ کښ شاهد شه چه تا له دي سره تکي کړي دَه خو هم هغه ستا
۱۵ ملګري او ستا دَ وعدي ارتینه دَه ۱۵ آګنره هغه یو جوړ نه کړ څه؟ چه بقیّه
دَ روح لري او هغه یوه ولي؟ تا چه دَ الله نسل ولټوي دي دَپاره تاسي
په خپل روح باندِ خبردار شئِ او هیڅوک دِ دَ خپلي ځواني له ارتیني سره
۱۶ تکي ونه کړي ۱۶ ځکه چه خداوند دَ اسرائیل الله فرمايي چه زه له طلاق
نه نفرت کوم او له هغه هم چه له ظلم سره خپلي جامي پټي کوي
خداوند دَ لښکرو فرمائي دي دَپارَ تاسي په خپل روح باندِ خبردار شئِ تا
چه تکي ونه کړئِ
۱۷ ۱۷ تاسي په خپلو خبرو خداوند ستړي کړي دي نو هم تاسي وائِ
چه په کومي خبري کښ موږ دي ستړي کړي دي؟ په دي چه وائِ چه
هرڅوک چه بد کوي نو دَ خداوند په سترګو کښ نیک دَي او دي ورنه
خوښ دَي او دا چه دَ انصاف الله چرته دَي ❖

دریم باب

۱ آګوريِ زه به خپل رسول در واستوم او هغه به ځما دَ وړاندِ ځما
لار درسته کړي او هغه خاوند چه تاسي یُ په طلب کښ یئِ هو دَ
وعدي رسول چه تاسي ورنه خوښ یئِ هغه به ناڅاپه خپل هیکل ته راشي
۲ ګوريِ هغه به په یقین سره راشي خداوند دَ لښکرو فرمايي ۲ لیکن دَ
هغه دَ راتلو په ورځ به څوک زغم وکړي او چه هغه ښکاره شي نو څوک
۳ دَي چه ورته ودرېږي ۳ ځکه چه هغه دَ زرګر دَ اور او دَ دوبي دَ
صابون په دود دَي او هغه به کښیني دَ سپینو زرو څخ به لري کړي او خالصه
به یُ کړي او هغه به بني لاوي پاک کړي: دَي به هغوي دَ سپینو او دَ

سرو زرو په دود صاف کانړِ تاچه هغوي په صداقت سره دَ خداوند دَ
وړاندِ هديې تيرې کړي ۴ نو به دَ يهوداه او دَ اورشليم هديې دَ خداوند ۴
پسندي شي لکه په وړنبيو ورځو کښې او په تيرو شويو کالونو کښې وُو
۵ او زه به دَ عدالت دَپارَ نژدي درشم او په جادوګرانو او په زناکارانو ۵
او په دروغ قسم خوړونکيو او په هغو چه له مزدورانو نه مزدوري شوکوي
او له کونډو او له يتيمانو او مسافران ګرزوي تاچه هغوي خپل حق
نه مومي او له مانه نه ډاريږي دستي به شاهدي ورکوم خداوند دَ
لښکرو فرمايي ۶ ځکه چه زه خداوند يم زه نه بدل کيږم دي دَپارَ ۶
اي دَ يعقوب ځامنو تاسي نيست نه شوئ
۷ تاسي دَ خپلو پلرونو له ورځو نه ځما له قانونه ګرزيدلي يئ او ۷
هغه مو ونه ساته تاسي ځما په لوري راوګرزئ نو زه به ستاسي په لوري در
وګرزم خداوند دَ لښکرو فرمايي مګر تاسي وايئ چه مونږ په کومې خبرې وګرزو
۸ سړي به الله وشوکوي څه؟ ليکن تاسي زه وشوکولم او تاسي وايئ ۸
چه مونږ په کومې خبرې کښې مو ته وشوکولي په عشرونو او په هديو کښې-
۹ نو تاسي په هغه لعنت سره لعنتي شوئ ځکه چه تاسي هو دغه تمام قوم ۹
مو سکولي يم ۱۰ تاسي ټول عشرونه و بيت المال ته راوړئ تاچه ځما په کور ۱۰
کښې خوراک وي او په دي سره ځما آزمايښت وکړئ خداوند دَ لښکرو فرمايي
که زه په تاسي باندِ دَ آسمان دريڅې نه پرانزم او برکت نه در باندي
و اوروم داسي چه تاسو ځخه دَ هغه ارت ځاي نه وي
۱۱ او زه نغرونکي ستاسي په خاطر وترټم او هغوي ستاسي دَ ۱۱
زمکي حاصل برباد نه کړي او ستاسي تاکونه په پټي کښې بې ميوي نه وي
خداوند رب دَ لښکرو فرمايي ۱۲ نو ټول قومونه به تاسي ته مبارک وايي ۱۲
ځکه چه تاسو به يوه خوښه زمکه يئ خداوند دَ لښکرو فرمايي
۱۳ ستاسي خبري ځما په حق کښې بيحده سختي شوي خداوند فرمايي ۱۳
په دي هم تاسي وايئ چه مونږ په تا څه ويلي دي ۱۴ تاسي خو ويلي دي ۱۴

چه دَ خداي عبادت کول عبث دِي او څه فائده ئي ده چه مونږ دَده حکمونه
ساتلي دي او خداوند دَ لښکرو دَ وړاندِ دَ وِير په لباس کښ تللي يو
۱۵ ۱۵ او اوس مونږ مغرورانو لره نېکبخت وايُو هو هغوي چه شرارت کوِي
بنا کيږِي هغوي چه الله هم ازمايي آزادِي سومِي
۱۶ ۱۶ نو هغوي چه له خداوند نه وېرېږي هر سړي خپل دوست
نه خبري وکړِي او خداوند غوږونه کېښودل وائي وريدل او دَ هغو دپارَ
چه له خداوند نه ډارېږي او دَده په نوم فکر کوِي نو دَده دَ وړاندِ دَ
۱۷ يادګارِي کتاب وليکلي شه ۱۷ په هغي ورځي چه زه ئي جوړونکي يم خداوند
دَ لښکرو فرمايي هغوي به حاصل زما خزانه وِي او لکه چه څوک پخپل
زوي باندِ چه دَده خدمتګارِي کوِي شفقت کوِي زه به په دوي شفقت وکړم
۱۸ ۱۸ نو به تاسي وګورئِ او دَ صادق او دَ شرير په منځ کښ دَ هغو په منځ کښ
چه دَخداي بندګي کوِي اوچه دَده بندګي نه کوِي تميز به وکړئِ ٭

څلورم باب

۱ آخکه ګورئِ هغه ورځ راځِي چه دَ تنور په دود به سوزيدونکي وِي نو به
ټول مغروران او هر يو چه شرارت کوِي خس به شِي او هغه ورځ چه
راځِي هغوي به وسيځي خداوند رب دَ لښکرو فرمايي داسي چه دَ هغو به
۲ نه بيخ پرېږدِي نه ښاخونه ۲ ليکن په تاسو باندِ چه زما له نامه وېرېږِي دَ صداقت
نمر به وخيژِي او دَ هغه په وزرو کښ به شفا وِي او تاسي به ووزئِ او دَ غوجلي
۳ دَ سخوندرانو په شان به تړپخکي کوئِ ۳ او شريران به پائمال کړئِ ځکه هغه ورځ چه
زه دا وکړم نو دوي به ستاسي دَ پښو تر تليو لاندِ ايرِي وِي خداوند دَ لښکرو فرمايي
۴ ۴ زما دَ بنده موسیٰ تورات په ياد کاتړئِ له ټولو مسائلو او فتواؤ سره
۵ چه ما ده ته په حوريب کښ دَ ټول اسرائيل دَپارَ حکم وکړ ۵ ګورئِ زه به
الياس نبي دَخداوند دَ لويي او هيبتناکي ورځي له راتلو نه وړاندِي در
۶ واستوم ۶ او هغه به دَ پلارونو زړونه وځامنو ته او دَ ځامنو زړونه و
پلارونو ته وګرزوِي هسي نه چه زه راشم او دنيا په لعنت سره ووهم ٭